## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** ٦٦٠ شمېره

**لیکوال:** رفیع الله زیار

**خپرندوی:** مومند خپرندویه ټولنه – جلال اباد

**برېښنالیک:** Momand.books@gmail.com

**پښتی:** ایملیار ساجد

**چاپ کال:** ۱۳۹٤

**د چاپ نوبت:** لومړی

**د چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**چاپځای:** د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

پټي



د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.



ننګرهار: عبدالمجید مومند کتاب پلونځی – مخابراتو څلورلاری

اړیکې: ۰۷۰۰٦۲٦۱٦۱ – ۰۷۷۷٦۲٦۱٦۱ – ۰۷۸۱٦۲٦۱٦۱

کابل: اصلاح و افکار کتابپلورنځی / خیبر کتابپلورنځی / دارالسلام کتابپلورنځی / مستقبل کتابپلورنځی./ پکتیکا: علمي کتابپلورنځی/ کندهار: امیر کروړ کتابپلورنځی / افغان کتابپلورنځی./خوست: غرغښت کتابپلورنځی / رحیمي کتابپلورنځی/ لمر کتابپلورنځی / سباوون کتابپلورنځی./ هلمند: سیدجماالدین کتابپلورنځی / عرفان کتابپلورنځی / تاج نور کتابپلورنځی./ [illegible] علمي کتابپلورنځی./ [illegible] کتابپلورنځی



Ketabton.com


شمېره

(ناول)

رفیع الله زیار

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## ډالۍ

**اسدالله غضنفر ته چې تل یې نثر لیکلو ته هڅولی یم او نصیراحمد احمدي ته چې یو تکړه پښتون ناول لیکونکی دی.**

ketabton.com - The Digital Library



ناوي چې يوازې يې مياشت د ناويتوب تېره شوې وه، د تناره له غاړې پاڅېده او د کور له دروازې نه د باندې په منډو شوه. په لار کې يې ټيکرۍ (پړونی) غاړې ته ولوېده. سلګۍ يې ورو، ورو په چيغو بدلې شوې. په منډه کې يې فرياد لا په زوره شو. د زړه له درده يې پر اوړو ککړ لاسونه سره موښل. پر نازک او ګلابي مخ يې ترمې اوښکې روانې وې.

ناوي ژړل او له سلګو سره يې فرياد کاوه، خو د هغې په خبرو څوک نه پوهېدل او يوازې يې د ولې، ولې غږ تر جوماته رسېده.

د جومات پيټاوي ته دوه سپين ږيري ناست وو. يوه د امسا پر څوکه څمکه ټکوله او هغه بل يې نسوار تو کړل. د ناوي غږ يې واورېده. د صحنې د ښه ليدو لپاره يې عينکې پر سترګو سمې کړې او په زوره يې وويل:

- زوی يې مړ کړې هغه ښځه چېرې منډې وهي؟

هغه بل يې د خير له غږ سره ځواب ورکړ:





- نه پوهېږم، خو شيبه وړاندې مې ډزې تر غوږ شوې.

په دې وخت کې د کلي له يوې تنګې کوڅې نه موټر راووت. مخ پټي وسله وال په کې سپاره وو. په تېزۍ سره د جومات له مخې تېر شو. سپين ږيري يې په دوړو کې پټ کړل. يوه يې له دوړو نه د پټکي په شمله خوله پټه کړه او ويې وويل:

- په کلي څه بلا راغلې ده...

هغه بل يې خبره پرې کړه:

- څه ته ګورې؟ در ځه چې ورشو.

دا يو سپين ږيری لږ په غړو کې ښه و، خو دا بل يې د امسا په زور ودرېده او د پېښې پر لور روان شول.

سپين ږيري چې څو قدمه وړاندې تلل، نو د ځوانانو ډله له کټ سره يو ځای ترې مخکې شوه.

د پېښې ځای ته تر ټولو وړاندې ناوي رسيدلې وه. هغه ځوان يې په وينو لژند وليد چې مياشت وړاندې يې خپل ټول راتلونکی ژوند ورسره تړلی و، خو له دې وروسته دا خوږه هستي ترې تللې وه.

وژل شوی ځوان د کلي په تنګه لار کې پروت و. کله، کله به يې نرې باد تورې څڼې وښورولې. باد يې سپينه لمن هم نه پرېښوده. يو نيم وخت به د باد څپه تېزه شوه او د خاورو کمزورې دوړه به يې پر مخ تېره شوه، خو پر مخ چې يې کومې خړې ننبې ښکارېدې، هغه دوړې نه، بلکې په اوړو ککړ لاسونه پرې کش شوي وو.

د کلي ځوانان راغلل. د ځوان جسد يې پورته کړ. ناوي د زاړه توت ډډې ته داسې حيرانه ولاړه وه لکه خوب چې ګوري. دلته يې د يوه سپين ږيري غږ واورېده:



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



- لورې څه وکړو؟ دا به د خدای ج خوښه وي.

هغه بل يې هم پرې راغږ کړ:

- ورځه لورې کور ته لاړه شه او صبر ولره.

په زاړه توت کې د مرغيو وزرو رپرپې جوړ کړ او د توت څو پاڼې د ناوي پر جړو ويښتانو راولوېدې. د باد تېزې څپې د توت له څانګو او پاڼو نه شغا پورته کړه او ناوي پر زنګېدلو قدمونو د کور پر لور داسې روانه شوه؛ ته وا اوس کور ته نه، بلکې څوک يې په زوره بنديخانې ته بيايي.

سپين ږيري په فکر کې ډوب وو. يوه ته ټوخی ورغی. خولې ته يې لاس ونيو او په زوره يې وټوخل.

هغه بل يې له ځان سره وويل:

- دا ټکه له کومه شوه چې پر دې خواره کورنۍ راولوېده؟

د امسا ټکا واورېدل شوه او دواړه له هغه ځايه روان شول.

کلی د ځوان پر وژل کېدو خپه دی. د ماښام په خړه کې سپين سرې ښځې ليدل کېږي چې غمجنې کورنۍ ته ور رواني دي. د کلي د نن شپې چوپتيا ژړا او فريادونو ماته کړې ده.

د ګيدړو او شغالانو اوازونه ډېر کم اورېدل کېږي، ځکه نن د کلي فضا سويو کړيکو نيولې ده. د وژل شوي ځوان سپين ږيری پلار پر کټ ناست دی. يس سورت تلاوت کوي. زوی ته د جنت او ځان ته د صبر غوښتنه کوي. کله، کله د زوی هغه اواز اوري چې په تيليفون کې يې په ټيټ اواز ورته ويلي وو:

- پلاره زه يې وويشتم.

- چا؟





د زوی غږ يې ورک شوی و. يوازې يې د هغه د لوېدلي لاس غږ په تيليفون کې اورېدلی و.

د وژل شوي ځوان سپين ږيري پلار چې دا غږ اورېدلی و، نو له پښو او لاسونو يې دمه ختلې وه؛ يوازې يې دا غږ کړی و:

- ياالله زوی مې چا وواژه؟

ناوي د خپل خسر غږ د تناره پر غاړه په داسې حال کې اورېدلی و چې شيبه وړاندې يې څو ټيټې ډزې هم تر غوږ شوې وې، نو ځکه يې منډې وهلې، تر څو د ژوند ملګرې وګوري چې ژوندی دی او که مړ؟



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



د وژل شوي ځوان پر کور دغه له ویره ډکه شپه سبا شوه. په کوڅو کې د سپین ږیرو ټوخي واورېدل شول چې جومات ته روان وو. مرغېو هم ډول، ډول اوازونه کول او بلبلو خوږې نغمې ویلې، خو د ځوان کورنۍ ته د غم سریندې ښکارېدې.

لا له جومات څخه خلک نه وو راګرځېدلي چې څو رنجر موټر د کلي په تنګو کوڅو کې راښکاره شول. دوړې یې جوړې کړې. پر سر یې شنه څراغونه روښان وو او کله، کله به یې ویروونکي هارنونه کول. شیبه وروسته د وژل شوي ځوان کور ته ورسېدل او له بریک وهلو سره دروازې خلاصې شوې. پولیس یوې او بلې خواته خواره شول. یو دنګ او ښایسته ځوان راښکته شو. مخابره یې په لاس کې وه. د رنجر له سویچ بورډ څخه یې د یادښت کتابچه او نور ثبتونکي وسایل رواخیستل او یوه پولیس ته یې ورو وویل:

- څوک شته؟

- صاحب! هغه دی یو سپین ږیری له جومات نه را روان دی.





آمر یې سر وخوځاوه او څه یې ونه ویل.

سپین ږیری را ورسېده. سلام یې وکړ او  په کمزوري غږ یې پوښتنه وکړه:

- قوماندان صاحب! څوک مو په کار و؟

- د هغې کورنۍ کس غواړم چې تېر ماښام یې څوک وژل شوی دی.

سپین ږیري په لړزانده غږ ور لنډه کړه:

- هغه زه یم.

- ته د وژل شوي کس څه کېږې؟

- پلار یې یم.

- خدای دې رحم پرې وکړي.

- له خپله غمه وساتل شې.

سپین ږیري خیرن دسمال له واسکټ نه راوویست. پر ګونځې مخ را رواني اوښکې یې پاکې کړې، خو لاندې شونډه یې لا رپېده. د پولیسو مشر د سپین ږیري دغه حالت ته په زیر، زیر کتل او وروسته یې له خولې نه سوړ اسویلی وویست.

وروسته د سپین ږیري پام شو چې راغلي پولیس یې همداسې په لار کې درولي، خوله یې خبرو ته جوړه کړه او د پولیسو آمر ته یې وویل:

- راځئ حجرې ته.

آمر نورو پولیسو ته وکتل او زیاته یې کړه:

- هلکانو تاسو اوسئ، زه زر راځم.

ټولو په یوه غږ ځواب ورکړ:

- صاحب! سمه ده.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



د وژل شوي ځوان پلار مخکې او د پوليسو آمر ورپسې، حجرې ته ننوتل. د دوی په ننوتو سره توتکی له کړکۍ نه ووته. سپين ږيري زاړه نيالي پر پټو له دوړو وڅنډله او د پوليسو آمر ته يې وويل:

- راځه، دلته کېنه.

د پوليسو آمر کېناست او تر ښو لاندې يې د سپين ږيري خبرې ته کتل. سپين ږيری له آمر سره نږدې کېناست او په فکر کې داسې ډوب لاړ ته وا پر دې دنيا يې هېڅ برخه نشته، خو شېبه وروسته د آمر دغه غږ په هوښ کړ:

- کاکا! کېدای شي چې مېلمانه درته را ډېر شي، نو که زه او ته خپل کار خلاص کړو، ښه به وي.

- د څه شي کار؟

- د پېښې په تړاو مې څو پوښتنې درنه کولې.

- ويې کړه.

- د زوی نوم دې څه و؟

- چمن ګل

د پوليسو آمر د يادښت په وړه کتابچه کې چمن ګل وليکه.

- څه کار يې کاوه؟

- په ښار کې يې يوه وړه ټپرۍ (غورفه) درلوده چې په هغه کې به يې ژاولې، بيسکټ او نور شيان خرخول او خپلخانه يې ساتله.

- دا پېښه څه وخت رامنځته شوه.

- پرون مازديګر.

- پوهېږې چې زوی دې چا او ولې يې وواژه؟

- نه پوهېږم چې دا ټکه له کومه راولوېده.





- له چا سره خو به بد نه لرې؟

- نه، تر اوسه مې مېړې هم تر پېښې نه دی لاندې شوی.

- ستا زوی ته خو به کله ګواښ نه و شوی.

سپين ږيری په ځای کې وښورېده او د پوليسو آمر ته يې وويل:

- دا ګواښ يې څه بلا ده؟

- مطلب مې دادی چې چا خو به اخطارونه، نه وي ورکړي؟

- ماته يې څه نه دي ويلي.

- تيليفون يې ګرځاوه؟

- هو!

- ښه، کېدای شي چې تيليفون يې ماته راکړې؟

- خو هغه مې د زوی نښه ده. تاته يې څنګه درکړم.

- زه غواړم چې مالومات ترې واخلم او بېرته يې درته راوړم.

- سمه ده.

د وژل شوي ځوان سپين ږيری پلار له ځايه پاڅېده او کور ته لاړ.

د پوليسو آمر په خيرنه حجره کې يوازې پاتې شو. د حجرې تيرانو ته يې وکتل. د کلونو کلونو لوګي ور پورې ننښتي وو. د لوګيو نه اوږده جوړ شوي تارونه باد ښورول. بيا يې ټول ديوالونه تر نظر تېر کړل. وروسته يې څو ساړه اسويلي له خولې وويستل. د پېښې په اړه يې فکر کاوه، خو د سپين ږيري ځورونکي حالت يې ذهن ګډوډ کړی و.

د پوليسو آمر (متين) لا په حجره کې په همدې کش مکش کې و چې د پلاستيکي بوټونو ګړپې شو. څو شېبې وروسته سپين ږيری په حجره ورننوت. په خيرنو لاسونو کې يې پر څو تسمو تړلی تيليفون نيولی و.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



سيده يې راوړ او ور يې کړ. د پوليسو آمر تيليفون روښانه کړ او له سپين ږيري يې وپوښتل:

- پرون مازديګر يې چاته زنګ وهلی او دادک څوک دی؟

د سپين ږيري زړه راډک شو او په ټيټ غږ يې وويل:

- چې کله يې وويشت، نو ماته يې زنګ وواهه.

پوليس سر وښوراوه او څو شيبې غلی شو. لږ وروسته يې د وژل شوي ځوان پلار ته وکتل او بيا يې د هغه ځای پوښتنه ترې وکړه چې د سپين ږيري زوی په کې وژل شوی و.

سپين ږيری د پوليسو له آمر سره پلی لاړ او هغه ځای يې ور وښود چې د زوی جسد يې ترې راوړی و.

د پوليسو آمر له جيب نه وړه کمره راوويسته. له ځای نه يې انځورونه واخيستل. ټولې ننبې يې تر نظر ترې کړې. هغه کاغذ ته يې پام شو چې په يوه بوټي کې ننبتی و. وړاندې ورغی. کاغذ يې رواخيست. په ګډوډ خط ليکلي څو جملې يې داسې ولوستې: " موږ مجاهدين به هېڅکله هغه څوک ژوندي پرې نږدو چې امريکايانو ته جاسوسي کوي. مرګ په امريکا او د هغې پر جاسوسانو. "

کاغذ يې جيب ته کړ. پوليسو منډې کړې. ټول رنجرو ته وختل. د پوليسو د آمر په مخابره کې غږ شو:

- زويه پېښه دې وليده؟

- هو صاحب!

- څنګه ده؟

- صاحب! هغه نورو پېښو ته ورته ده.

د مقابل لوري غږ ورک شو.





د کلي په منځ درمند کې برېوکې له ځان سره پلاستيکي خلطې تاو، راتاو کړې او پر هغو خلکو يې هم دوړې راوړې چې پر پوليسو راټول شوي وو. له دوړو نه چا په شملو خولې پټې کړې او چا سپوږمو ته د ټادرونو څنډې ونيوې.

په اسمان کې غونډې، غونډې وريځې ګرځېدې چې د ځمکې پر ځينو برخو يې سيورى خپور کړی و او په ځينو برخو يې بيا لمر د رنګينيو ډکې، پستې د وړانګو ګوتې وهلې.

کله، کله به د کلي په ډنډونو کې چې خلکو به اوبه ترې څښلې، د چونګښنو د کرکور غږونه واورېدل شول. پوليسو خپل کار پای ته رسولی و، نو څکه رنجرو تېز حرکت وکړ. د کلي فضا د رنجرو د ټايرونو شغا ګډوډه کړه. د وژل شوي ځوان پلار په دوړو کې لږه شيبه له شا پسې وکتل. له هغه وروسته د کور پر لوري روان شو او کليوالو هم په سپين ږيري پسې په زنګېدلو قدمونو حرکت وکړ.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



له ټک، ټک سره د دفتر دروازه نیمه پرانیستل شوه، خو بېرته یې بند کړه. د پولیسو آمر د راځه غږ وکړ. خدمتګار راننوت. سلام یې واچوه او ورو یې وویل:

- صاحب! چای غواړئ؟

- هو، یوه پیاله راوړه.

- سمه ده.

څو شیبې وروسته خدمتګار د چایو پیاله له یوه چاکلېټ سره پر مېز ورته کېښوده. د متین څېرې ته یې د سترګو په کونجونو کې وکتل. بیا له کوټې ووت او دروازه یې په ځان پسې بند کړه. په دفتر کې خاموشي شوه. د پولیسو آمر د تر سره شوو پېښو په اړه فکر کاوه. سر یې سم نه خلاصېده چې دا کار چا او د څه لپاره یې کړی دی. په اوږده فکر کې ډوب





و. بالاخره یې سر وخوځاوه او له ځان سره یې وویل: " داسې شواهد هېڅ نه پیدا کېږي چې وژل شوي ځوانان دې د امریکایانو جاسوسان ثابت کړي. بیا یې له ځان سره زیاته کړه:

- خامخا ددې پېښو تر شا څه پټ دي.

د پولیسو د آمر زمزمې کرار شو. چوپتیا حاکمه شوه، خو دا ځل د کوټې چوپتیا د دیوالي ساعت ټلې ماته کړه. د سهار نهه بجې شوې. آمر سترګې وموښلې. چاکلېټ یې خولې ته واچوه. چای یخ شوی و، نو ځکه یې غټ غړپ تر ستوني تېر کړ. د مېز پر سر ایښي تیلیفون وشرنګېده. د چای پیاله یې کېښوده. غوږی یې پورته کړه:

- صاحب! امر وکړئ.

- زویه! یو ځل زما دفتر ته راشه.

- سمه ده.

د پولیسو آمر له چوکۍ نه پاڅېده. هینداري ته ودرېده. کولا یې پر سر سمه کړه. خپلې څېرې ته یې وکتل او له غرورو نه په ډکو قدمونو د دفتر له دروازې ووت. څو شیبې وروسته یې د یوه بل دفتر دروازه ټک، ټک کړه. د ورتګ اجازه ورته وشوه. ورغی، له سلام سره یو ځای یې پر چوکۍ ناست سړي ته پښنه ووهله.

پر چوکۍ ناست سړي چې سري پټۍ یې پر دېرېشۍ لګېدلي وې، د پولیسو ځوان آمر ته د کېناستو اشاره وکړه او هغه هم د مېز تر څنګ پر چوکۍ کېناست.

چا چې سرې پټۍ لګولې وې، دا سړی جنرال و. ږیره او سر یې سپین وو، خو ږیره یې پاکه خرېیله او پر تندي یې څو تاره سپین وېښتان پاتې وو. که څه هم جنرال سپین ږیری و، خو په څېره کې یې رووب او دبدبه لا



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



پاتې وه. له هېواد سره یې زیاته مینه لرله. په زړه کې یې رحم و او ځوانانو ته به یې له وطن سره د مینې کولو روحیه ورکوله. د پولیسو آمر هم هغه څوک و چې جنرال یې سمه روزنه غوښته.

جنرال ځوان آمر ته وکتل. آمر لکه وارخطا چې وي، لاړې یې تېرې کړې. ځان یې سم کړ. جنرال خبرو ته خوله جوړه کړه او په خوږه لهجه یې ترې وپوښتل:

- متینه زویه! د وژل شوي کس په اړه دې څه پیدا کړل؟

- صاحب! د ځوان وژل کېدل هغه نورو پېښو ته ورته دي.

- هاهاهاها (ترخه خندا) دا هم د امریکایانو جاسوس و؟

- صاحب! په لیک کې یې همدا ورسره لیکلي و، خو امریکایان وایي چې له موږ سره په دې نوم څوک نشته او بل هېڅ داسې شواهد پیدا نه شول چې وژل شوی ځوان جاسوس ثابت کړي.

جنرال له خپلې چوکۍ پاڅېده. لاندې شونډه یې تر پاسنۍ شونډې لاندې کړه. یوه شیبه یې د دفتر له کړکۍ د باندې وکتل. له هغه وروسته یې متین ته مخ کړ او ویې ویل:

- دې پېښو تر شا ډېر څه پټ دي. دا باید روښانه کړو چې دا ځوانان ولې او د کوم هدف لپاره په مرموز ډول ووژل شول، خو... د خو له کلمې ویلو سره جنرال یوه شیبه غلی شو. بېرته یې خبره پیل کړه:

- متینه زه غواړم، دغه قضیه ته وڅېړې.

- صاحب! ستاسو چې څنګه خوښه وي.

- دې قضیې څېړنه پیل کړه. که په کوم ځای کې درته ستونزه جوړېده، نو زه درسره مرسته کوم.

- سمه ده.





جنرال یوه شیبه د متین په څېره کې سترګې وګنډلې. دواړه چوپ وو. لږ وروسته جنرال د خبرو لپاره غاړه تازه کړه:

- زویه! ته پوهېږې چې په دنیا کې کوم انسانان پیاوړي دي او څوک پرمختګ کولی شي؟

- صاحب! تاسو ښه پوهېږئ.

- متین جانه هغه څوک ډېر پر مختللي دي چې په ژوند کې ښه هدف انتخاب کړي او بیا هغه ته د رسېدو لپاره قوي هوډ، پوره حوصله او زغم ولري.

متین پوه شو چې جنرال له ما نه څه غواړي، نو ځکه یې ورته وویل:

- صاحب! زه چې کوم هدف راته ټاکم، نو هغه ته د رسېدو لپاره به ډېرې سختۍ او کړاوونه وزغمم، خو ځان به ور رسوم.

د جنرال له شونډو سره سپین برېتونه هم وښورېدل او په خندا یې وویل:

- له قوي هوډ او زغم سره چالاکي، هوښیاري، هنر او پوهه هم شرط دي. یو پولیس خو باید په دې کې له نورو ډېر مخکې وي.

متین چې نوې پوهه او نوې تجربې تر لاسه کولې، نو د جنرال خبرو ډېر خوند ورکړ او د هغه هره خبره یې ښه په خوند اورېده.

جنرال بېرته په خپله چوکۍ کېناست. له لږ فکر کولو وروسته یې ژوره ساه واخیسته. غاړې ته نږدې تڼۍ یې پرانیسته. بیا یې متین ته وکتل او ویې ویل:

- د وژل شوي ځوان د مالوماتو دوسیه؟

- صاحب! داده، ها درواخله.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



جنرال عینکې پر سترګو کړې. په یوه لاس یې د دوسیې پاڼې واړولې. د مالوماتو لوستل یې پیل کړل. څو پاڼې چې یې ولوستې، نو عینکې یې د پوزې پر سر کېښودې. متین ته یې وکتل او بیا یې زیاته کړه:

- ده ته هم په همغه شمېره زنګ وهل شوی چې په اخر کې ۲۲۰ ده؟

- صاحب! ځوان ته له وژل کېدو لږ مخکې له هغې شمېرې نه پنځه ځلې زنګ راغلی...

جنرال د متین خبره پرې کړه:

- پر وژل شوي ځوان چې کوم لیک اچول شوی و، له نورو هغو سره یې توپیر شته ؟

- نه، دا هم هغه نورو ته ورته دی لکه یوه سړي چې لیکلی وي.

جنرال د تندي پر څو سپینو ویښتانو لاس تېر کړ. د دفتر چت ته یې وکتل. حیران ښکارېده، خو له متین نه یې د خپلې حیرانۍ پټولو هڅه کوله. په دفتر کې چوپتیا خوره شوه. کله، کله به د کړکۍ نه راغلي باد د مېز پر سر کاغذونه وښورول او چوپتیا به یې ماته کړه. کله، کله به د کړکۍ پله له دیوال سره ولګېده، خو له اوږدې انساني چوپتیا وروسته جنرال غاړه تازه کړه او په ټیټ اواز یې وویل:

- متینه! څه فکر کوې چې د شوو پېښو تر شا د طالبانو لاس دی؟

- صاحب! موږ چې په عملیاتو کې هر څومره کسان د وسله والو طالبانو په نوم نیولي، نو اکثره یې د طالب په جامه کې بل څوک وي او نور هدفونه لري.

- نور انتظار په کار نه دی، ځکه کېدای شي دا ډول پېښې نورې هم وشي او ځوانان یې قرباني شي.

- زه به خپل کار پیل کړم.





جنرال له خپلې چوکۍ پورته شو. متین یې په غېږ کې ونیو. پر دواړه مخه یې ښکل کړ او ورته ویې ویل:

زویه! دغه جنګ ځپلی هېواد درته په تمه دی. ولس له تانه غواړي چې له شره خلاص شي. پلرونه او میندې تاته هیله لري، تر څو یې اولادونه په وینو کې ونه لمبېږي. د هېواد هره دره، دښته، غر او نور درنه د امن او سولې راوستل غواړي.

- صاحب! زه به هم په پوره ایمانداری له خپلو خلکو، د هېواد له هرې درې، دښتې، غر او هرې لویشتې نه دفاع کوم.

متین خپل آمر ته سلام وکړ او ترې روان شو، خو تر دروازې چې رسېده، نو جنرال پسې غږ کړ:

- یوه شیبه.

متین ودرېده. جنرال ورغی. د دېرشۍ له جیب نه یې یوه اله ورکړه او ورته ویې ویل:

- که په کوم ځای کې له خطر سره مخامخ کېدې، نو ددې الې په سر کې دغه وړه تکمه کېکاږه. کله چې دا شین غمی روښانه شي ستا غږ موږ ته رسیږي. که چېرې دې دا تکمه زیاته کېکاږله، نو شین غمی سور کېږي او کله چې سور شو، نو ته چې په هر ځای کې یې هغه ځای موږ پیدا کولی شو.

متین له جنرال نه اله واخیسته. مننه یې ترې وکړه او له دفتر نه ووت.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



متین د لاسونو ګوتې په یوه او بله کې سره تېرې بېرې کړې. زور یې ورکړ او ټکونه یې ترې وویستل. وروسته یې له جیب نه مبایل رواخیست. د نظامي خارنوال شمېره یې په کې رواړوله. پر اوکې یې غټه ګوته ټینګه کړه. تر اخره پورې زنګ تېر شو، خو پورته یې نه کړ. متین تیلیفون کېښود. په لاس ترلې ساعت ته یې وکتل. ستن یې پر څه کم یوولسو ولاړه وه، خو سانیه ګر تاوېده. لږ صبر یې وکړ. نظامي خارنوال پسې ورک شو. بیا یې تیلیفون واخیست. زنګ یې وواهه. څو ټلی چې ورغلې، نو د خارنوال غږ واورېدل شو او په ستړي اواز یې وویل:

- بلې!

- صاحب! سلام.

- وعلیکم وسلام.

- څنګه داسې ستړی یې؟

- دلته له یوه رذیل نه اقرار اخلم. امر وکړه!





- څارنوال صاحب هیله کوم! یوه شمېره درته لېږم که یې خاوند او هغه مکالمې راته راپیدا کړې چې د وژل شوو کسانو سره غږېدلی دی.

- سمه ده، خو مکتوبې یې راولیږه.

- صاحب! مننه کوم.

- الله دې مل شه.

متین هغه شمېره چې په اخري کې ۲۲۰ وه، د وژل شوو کسانو له هغو شمېرو سره چې اړیکې یې ورسره نیولې وې؛ مکتوبې نظامي څارنوال ته وسپارله، تر څو د شمېرې خاوند او د هغوی هغه مکالمې پیدا کړي چې له وژل شوو کسانو سره غږېدلی دی.

متین ذهني ستړیا احساسوله. زړ، زړ یې دیوالي ساعت ته کتل، ځکه غوښتل یې چې مازدیګر شي او د خپل کلي پر لور وخوځېږي.

ورځ تېره شوه. مازدیګر شو. متین د خپل کار له دفتر نه راووت. سپینې جامې یې پر تن وې او د خپل کور پر لوري روان شو. پر لار یې هڅه کوله، تر څو له شاوخوا شنو ونو، بوټو، د مرغانو له ښایسته اوازونو، د اوبو له زړه وړونکي شور او نورې طبیعي منظرې نه خوند واخلي، خو فکر یې ګډوډ و او له هېڅ شي یې مزه نه شوه اخیستلی.

له څه مزل کولو وروسته متین کور ته ورسېده. لمر خپلې زرینې وزرې ورټولې کړې او له غرونو واوښت. د ماښام خړه خوره شوه. په تیاره کې د ماښام څکلکو د وزرونو رپرپی واورېدل شو. سپوږمۍ د ځمکې مخ رڼا کړ، خو لږه موده وروسته غرونه، غرونه وریځې د اسمان پر مخ رابښکاره شوې. د سپوږمۍ تر مخ په منډو تېرېدې، خو داسې ښکارېده لکه



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



سپوږمۍ چې له وریځو نه منډې وهي. کله به یې سپوږمۍ پټه کړه او کله به ترې ښکاره شوه. د کایناتو پاچا د طبیعت ډېره ښایسته منظره جوړه کړې وه او هر څه یې په حرکت راوستلي وو.

کله چې وریځو د اسمان مخ پر خپلو سپینو او پومبیي وزرونو پټ کړ، نو د متین د ګاونډیانو غږونه هم واورېدل شول. هلۍ زر، زر لوښي ټول کړئ چې باران راغی، هلۍ، هلۍ..... د متین مور هم پاڅېده. له انګړ نه یې لوښي برنډې ته وړل. متین هم له ځایه پورته شو، تر څو له مور سره مرسته وکړي، خو مور یې پرې نښود او ورته ویې ویل:

- زویه! ته لاس مه ور وړه، ځکه ټوله ورځ ستړی یې.

- ادې! ته یې ماته پرېږده چې زه یې درسره یوسم. نه یم ستړی.

مور یې له ځان سره وخندل او متین په حیرانۍ ترې وپوښتل:

- ولې دې وخندل؟

- زویه چې کله ستا ناوې راشي، نو هم به زه له کاره خلاصه شم او هم به ته راته هوسا شې.

که څه هم د متین پر زړه د مور خبره خوږه ولګېده، خو رنګ یې د هغې پر وړاندې له شرمه تک سور شو او بې له دې چې څه ووایي، برنډې ته لاړ.

وریځې کرارې، کرارې له سپین نه په تور رنګ بدلېدې. له یوې شیبې نه بلې ته د تالندې غږ ویروونکی کېده. د باران غټو، غټو څاڅکو د کوټو پر بامونو ګرب ګروب جوړ کړ. شیبه وروسته باران په شړکنده ورېدل پیل کړل. په دې تېز باران کې د متین دوی دروازه وټکېده. مور یې د خیر غږ وکړ او ور روانه شوه، خو متین راوګرځوله:

- ته صبر ادې! زه ورځم.





متین دروازې ته ورغی. توپانچې ته یې لاس کړ چې هسې نه کوم خطرناک څوک وي. بیا یې ترې وپوښتل:

- څوک یې؟

- زه یم.

- ته څوک یې؟

- په لارکې راباندې ناوخته شو. اوس باران ایسار کړی یم.

متین غږ وپېژانده چې د هلک دی. دروازه یې پرانیسته. هلک یې ولید. تر جړو وېښتانو یې اوبه څڅېدې. باران لوند خیشت کړی و. متین ورته د راننوتو وویل. هلک چې شاوخوا لس کلن و، کور ته ننوت.

متین دروازه زنځیر کړه. اړم یې پسې واچوه. شا ته یې وکتل. هلک همداسې باران ته ولاړ و، نو ورته ویې ویل:

- ته ولې ولاړ یې؟ در څه کنه.

هلک که څه هم وړوکی و، خو کورنۍ تربیه یې ښه وه. په ټیټ غږ یې زیاته کړه.

- ته مخکې شه.

متین هلک ته وکتل. زړه یې پرې وسوزېده. تر لاس یې ونیو. برنډې ته یې بوت. مور ته یې غږ کړ: ادې وچ کالي ورته راوړه. د متین مور هلک ته وچ کالي رواخیستل. هلک ورته وویل:

- خپل کالي مې وچېږي.

د متین مور یې پر سر لاس تېر کړ:

- زویه دا کالي لږ درنه لوی دي. وایې غونډه چې خپل کالي دې وچ شول، نو بدل یې کړه.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



هلک کالي واغوستل. له ډوډۍ نه يې خو ګولې وکړې، خو ځان يې مور نه کړ. د هلک حالت خراب ښکارېده. متين ترې پوښتنه وکړه:

- ناروغ يې؟
- نه
- نو ولې دې ډوډۍ ونه خوړه؟
- موړ يم.
- نوم دې څه دی؟
- باور.
- د کوم کلي يې؟

هلک پوزه کش کړه او د کلي نوم يې ورته وښووده.

متين ورته وويل:

- په هغه کې، خو څو ورځې مخکې د چمن ګل په نوم کس چا وژلی و.

د هلک په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې. د برنډې تيرانو ته يې وکتل او غلی شو.

متين څو شيبې وروسته بيا ور ياده کړه:

- هغه دې پېژانده؟

هلک له يوې وړې سلګۍ سره ځواب ورکړ:

- هغه مې ورور و.

متين د هلک په خبره ټکان وخوړ. پر پوښتنه کولو پښېمان و، خو اوس اوبه له ورخه تېرې وې. د دواړو تر منځ خاموشي شوه. متين له ډېر خپګانه د هلک خبرې ته نه شو کتلی. د باران زور ختلی و او يوازې يو نيم ځاځکی و چې ځای، ځای به يې د څک او پوک غږ واورېدل شو. په انګړ کې د پښو ښکالو راغله. له دې سره د پیالو شرنګ هم واورېدل شو.





د متين مور له نغري نه چای را روان کړی و. متين ځان ته بالښت سم کړ او هلک ته يې وويل:

- دا مې درسره وعده ده چې ستا د ورور قاتلانو ته به سزا ورکوم.

هلک خپل واړه لاسونه سره ومونښل او په حيرانۍ يې له خولې ووتل:

- څه؟
- زه پوليس يم.
- هغه بله ورځ چې زموږ کور ته راغلی وې؟
- هو! همغه يم.

هلک غلی شو او نور يې څه ونه ويل.

متين له ځایه پاڅېده. کوټې ته لاړ. څو شيبې وروسته بېرته راغی. هلک ته يې هغه په تسمو تړلی ټيليفون ورکړ چې د وژل شوي ځوان له پلار نه يې اخيستی و. هلک ټيليفون واخيست. په لاس کې يې څو ځلې ايخوا ديخوا کړ. په زير، زير يې ورته وکتل او بيا يې په واړه غږ زياته کړه:

- دا خو زما د ورور ټيليفون دی.
- هو! دا ستا د ورور دی. دا درسره يوسه او ستا پلار ته يې ورکړه.

هلک ټيليفون جيب ته کړ او غلی شو.

چای وخوړل شو. د خوب وخت و. ټول څملاستل. پر سيمه د شپې برستن او چوپتيا دواړه خواره وه. خو متين ته خوب نه ورته، ځکه د هلک اوښکې، د وژل شوي ځوان د پلار سخت حالت او د دوی ټوله کورنۍ يې سترګو، سترګو ته کېدله.

متين د دوی ساتنه پر ځان فرض بلله. دا يې مسوولیت بللی و چې ظالمان پيدا او قانون ته يې وسپاري، خو دا کار هم اسان نه و. د سپيو



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



غپا د متین د فکر لړۍ وشلوله. د شپې چوپتیا یې ماته کړه. متین پر اړخ شو. پر ځان یې ایت الکرسي چوف کړه، تر څو خوب ورشي. سترګې یې پټې کړې، خو خوب ترې الوتی و.

متین په همدې فکر کې دومره ډوب لاړ چې د ماشومتوب وختونه یې یو، یو سترګو ته ودرېدل. خپل د ماشومتوب ملګری ببری وریاد شو. هغه اوس په خوارۍ او غریبۍ پسې سعودي عربستان ته تللی دی. ببري به متین تر نیمو شپو کېښنولی و او له هرې خبرې سره به یې لنډۍ ورته ویلې، نو له دې امله متین د لنډیو د ګوډي نوم پرې ایښی و. خو وروسته یې دی هم داسې پرې اموخته کړ چې ببري به لنډۍ ورته وانه ویلې، نو ورځ به نه پرې تېرېده.

هغه هم ور په یاد شو چې د کلي خلکو به د متین او ببري ډله د کوڅو لنډغر بلل. ببري ته د کلي نجونو (لویشتیناک) ویل، ځکه پر ځوانۍ ټیټ، تور غنمرنګ، خو ډېر شوخ او له نخرو ډک انسان و.

که له یوې خوا د کلي نجونو هغه ته لویشتیناک ویل، خو له بلې خوا بیا د کلي نجونو په ودونو کې د ببري هغه لنډۍ ویلې چې اکثره وخت به ده په حجرو، بنډارونو او مېلو کې له منګي سره یو ځای د انډیوالانو د خوشالۍ لپاره زمزمه کولې.

ببري پر ټولو کلیوالو تېر نظر کاوه. په هر چا پورې خندا خو دده عادت و. په کلي کې به چې د کومې سپین سرې ښځې چرګه ورکه شوه، نو بې له پوښتنې به سیده د ببري کور ته تله. اکثره وخت به یې خپل څاروي د څرولو پر مهال د نورو فصلونو ته ور پرېښودل چې څو ځله د کلي خلکو





ناغه هم ترې واخیسته. خو له دې ټولو سره، سره بیا هم د کلي خلکو د کلي مالګه باله او ویل به یې: ببری چې په دې کلي کې نه وي، نو دا کلی په هغه ورځ وران بولئ.

متین بیا د ببري په پرتله غلی، کمې خبرې کوونکی و. له دې امله په کلي کې پر مړ شیطان مشهور و. کلیوالو به ویل: ببری چې هر څومره شوخۍ کوي، نو دا لارې متین ورته ښايي، خو متین به د تل په څېر غلی و او هېڅ به یې نه ویل.

په مکتب کې د ببري یوازې نوم و، خو متین به همېشه حاضر و او درسونه به یې ویل. کله چې متین له دولسم صنف نه فارغ شو، نو له ډېرې غریبۍ نه مجور شو چې پولیسو ته ورشي او ببری ملګری یې سعودي عربستان ته په مزدورۍ کولو پسې لاړ.

هغه وخت چې متین پولیسو ته ورغی. د کلي خلکو په ډېر بد نظر ورته کتل، ځکه کلیوال په دې عقیده وو چې که هر څوک ملي پولیسو او یا ملي اردو ته ځي، نو دوی په خپل کور کې ځای نه لري. غله وي. پر نشو روږدي وي او دې ته ورته نورې ډېرې نیمګړتیاوې لري. که څه هم په پولیسو کې دا ستونزې موجودې وې، خو ډېر یې له هېواد سره د مینې په خاطر ورغلي وو. څوک غریبۍ پسې اخیستي وو او چا نور مجبوریتونه درلودل.

متین همداسې ویښ په کټ کې پروت و. ساعت ته یې وکتل. شپه تېره وه. سهار نږدې و، خو لا هم متین له فکر کولو نه، نه و خلاص. بالاخره نور ستړی شو. له کټه پاڅېده. انګړ ته کوز شو. سپوږمۍ ته یې وکتل. ښایسته وه. د کلي زاړه دیوالونه، پخوانۍ ماڼۍ او دنګ، دنګ چینارونه د سپوږمۍ په رڼا کې ښکلي ښکارېدل. کله، کله به نرې باد د رامبېل



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



چامبېلو بوټيو نه د متین تر سپوږمو راورسول. د سپوږمۍ په رڼا کې دغه ښکلي منظره او د شپې خاموشه خاموشي په زړه پورې وه.

متین لا د کایناتو په ښایست کې ډوب و چې ملا لاوډسپیکر ته پوکی ور وکړ او د سهار په اذان یې د شپې لمن ور ټوله کړه.

کله چې لږ رڼا ولګېده، نو متین کوزه واخیسته. اودس یې تازه کړ او له هغه وروسته پر لمانځه ودرېده. کله چې یې لمونځ وکړ، نو هلک یې له خوبه راپاڅاوه. ترې ویې پوښتل چې لمونځ دې نیولی؟ هغه له خوب نه ډکې سترګې وموښلې او ویې ویل: هو. متین کوزه ورکړه: ها، واخله، لمونځ وکړه.

له لمانځه وروسته یې مور چای راوړ. دواړو چای وڅښه. له چای څښلو وروسته هلک خپل کلي ته روان شو او متین د خپل دفتر پر لور.





د ورځې دوه بجې وې چې پر مېز ایښې تیلیفون وشرنګېده. متین د تیلیفون ښیښې ته وکتل. شمېره د نظامي څارنوال وه. غاړه یې تازه کړه او د اوکې پر تڼۍ یې ګوته ټینګه کړه:

- صاحب! سلام.
- وعلیکم وسلام.
- له مخابراتو او ټکنالوژۍ وزارت نه د شمېرې په اړه د مالوماتو کڅوړه راغلې ده.
- څارنوال صاحب! ډېره مننه کوم.
- د منني وړ نه ده.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



ځارنوال تيليفون كته كړ. متين له پاڅېدو سره سم د ميز له سر نه كولا واخيسته او پر سر يې كړه. د دفتر له دروازې ووت. ساتونكى هم پسې روان شو. متين د مخابرې تنۍ د لاس په غټه ګوته ونيوه. خپلو كسانو ته يې امر وكړ، تر څو د تګ لپاره تيار شي.

متين چې رنجر ته رسېده، نو پوليس تيار په رنجرو كې سپاره وو. متين د رنجر په مخ سيټ كې كېناست او ټولو په يو وار حركت وكړ. له لږ مزل وروسته د نظامي ځارنوال دفتر ته ورسېدل. متين ورغى. ساتونكى په دروازه كې و. ويې ويل:

- له ځارنوال صاحب سره څوك شته؟
- يوه شيبه صبر.

ساتونكي د دفتر دروازه ټک، ټک كړه. بيا ورننوت:

- صاحب متين راغلى.
- راويې ليږه.

متين ځارنوال ته ورغى. ستړې مه شې يې سره وكړه. ځارنوال د چاى ست وكړ، خو متين ورته وويل: له كاره دې نه باسم. ځارنوال د مالوماتو كڅوړه وركړه او متين ترې رخصت شو.

كله چې متين په خپل دفتر كې د مالوماتو كڅوړه خلاصه كړه، نو د تذكرې له كافي نه نيولې د شمېرې د ثبت تر پاڼو پورې ټول اسناد موجود وو. هغه شمېره چې په اخر كې ٦٢٠ وه، له هغو شمېرو سره ټولې نيولې اړيكې او كړې خبرې اترې يې په يوه سي ډي كې اچولې وې.

متين ټول مالومات وكتل. وروسته يې سي ډي لپټاپ كمپيوټر ته واچوله. پر اډيو فايل يې كليک وكړ او تيليفوني مكالمې يا خبرې اترې داسې پيل شوې وې:





لومړى له هغې شمېرې نه چې په اخر كې ٦٢٠ ده، بلې ته زنګ كېږي.
څو ټلۍ ورځي او بيا اوكې كېږي:

- څه وايې؟
- چېرته يې؟

لومړنى كس ځاى ورته ښايي، خو په اخر كې د ٦٢٠ مې شمېرې خاوند زياتوي:

- زما كار دې څنګه كړ؟
- دا زه نه شم كولى.
- ګوره غريب سړى يې ډېرې پيسې به وګټې.
- زه دا ډول مرداري پيسې نه غواړم.
- ښايسته ځواني لرې نور دې خوښه.

كله چې د ٦٢٠ شمېرې خاوند وروستۍ جمله تكرار كړې، نو په دې وخت كې تيليفون پرې شي. متين هغه خبرې اترې هم واورېدې چې له چمن ګل سره دده له وژل كېدو وړاندې شوې وې، او دا هم له نورو هغو سره ورته وې.

د پوليسو آمر دومره پوه شو چې د ٦٢٠ شمېرې كس، ځوان ته په اول كې د پيسو وړانديز كوي او په وروستۍ جمله كې ګواښي. نور كار ستونزمن و، ځكه په تيليفوني خبرو كې هم مالومه نه وه چې د ٦٢٠ شمېرې خاوند له مقابل لوري نه څه غواړي؟ يوازې دومره پوه شو چې دا كومه ډله ده او كېداى شي د خاصو هدفونو لپاره كار كوي.

متين د هغه كس د تذكرې كاپي را واخيسته چې ٦٢٠ شمېره پرې ثبت شوې وه. پر ديوال ځړول شوي نقشې ته ورپاڅېده. ټوله يې تر نظر تېره كړه. په تذكره كې ليكل شوي ولسوالي او كلى يې په كې پيدا كړل. سره



https://www.mandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



کرښه یې ترې تاو کړه. له هغه وروسته یې د ولسوالۍ امنیه قوماندان ته خبر ورکړ تر څو دده تر ور سېدو پورې کلی محاصره کړي.

د پولیسو آمر له دفتر نه قهرېدلی ووت. د بوټانو درونډ غږ یې په دهلېز کې انګازې جوړې کړې. شا ته یې دده خاص ساتونکی و. رنجرو ته ورسېدل. دده تر امر لاندې پولیس تیار وو. متین رنجر ته وخوت. مخابره کې امر وشو: حرکت وکړئ. ټولو رنجرو په یو وار داسې حرکت وکړ ته وا ټایرونه یې ځمکه څیري.

له لږ مزل وروسته متین له خپلو کسانو سره یو ځای محاصره شوي سیمې ته ورسېده. د ولسوالۍ پولیسو له کلي نه څوک د باندې نه پرېښودل. کلیوال بامونو ته ختلي وو. ټول حیران وو. نه پوهېدل چې څه پېښه ده. متین له خپلو کسانو سره د تذکرې د خاوند کور مخې ته ودرېده. په رنجر کې له نسب شوي لاوډسپیکر نه غږ وشو:

- تور سری دې یوې خوا ته شي. موږ تلاشي کوو.

د کور له ننه ځواب ورکړل شو:

- په کور مه راننوځئ. دادی درغلم.

څو شیبې وروسته له کور نه سړی راووت. د متین مخې ته ورېده او ورته ویې ویل:

- څوک مو په کار دي؟

متین یې څېره تر نظر تېره کړه. په خپله د تذکرې خاوند و. ځواب یې ورکړ:

- ته مې په کار یې.





د پولیسو آمر خپلو کسانو ته مخ ور واړوه. د سړي د نیولو اشاره یې ورکړه. پولیسو د سترګو په رپ کې د سړي لاسونه تاو کړل او ولچک یې ور واچول. سړي ناري کړې:

- ولې مې نیسئ. څه ګناه مې کړې ده؟

بل پولیس پرې راغږ کړ:

- وه هلکه خوله یې ور بنده کړه.

تر څنګ ولاړ پولیس یې په خوله یو درونډ سوک ورکړ. د نیول شوي کس سر وګرځېده. لاړې یې تو کړې. وینې ورسره ګډې وې. په سترګو کې یې اوښکې ولیدل شوې او له یوه سوک سره یې چیغې وهل بس کړل. نیول شوی سړی یې لاس تړلی رنجر ته روان کړ. د کلي ماشومانو منډې کړې. سره خواره واره شول. څو شیبې وروسته سیمه له کلابندۍ نه خلاصه شوه. کلیوال سره راټول شول. له دوی نه یوه یې پوښتنه وکړه:

- دا خوارکی یې ولې ونیوه؟

هغه بل یې له اورته ( وریت ) جوار نه څو دانې خولې ته واچولې او ځواب یې ورکړ:

- د بمبرو په خاله کې به یې لاس وهلی وي.

د دریم هم صبر ونه شو. خبرو ته یې خوله جوړه کړه. غږ یې نری و او ویې ویل:

- دا سړی ماته ددې ولا نه ښکاري.

څو نورو یې هم تبصرې وکړې. له هغه وروسته هر یو په خپل کار پسې روان شو.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



کوټه دومره تیاره وه چې د لاس ګوتې نه ښکارېدې. له باندې نه هم د څه شي اواز نه راتلو. د تذکرې خاوند هڅه کوله، تر څو پوه شي چې دا شپه ده او که ورځ؟ خو نه پوهېده. پر ځمکه پروت و. یوې او بلې خوا ته وښوېده چې که چېرې یې په کوټه کې پر څه شي پښې ولګېږي، خو نه نیالي په کې وه، نه فرش او نه هم نور شیان. له اوږده ځنډ وروسته د کوټې اوسپنیزه دروازه بېرته شوه. کوټې ته له رڼا سره سم د پولیسو آمر راننوت. دوهم کس له شا نه چوکۍ پسې راخیستې وه. متین پر چوکۍ کېناست. سړي ته یې یوه شیبه وکتل. له غصې نه یې د سترګو رنګ بدل ښکارېده. د تذکرې خاوند یې هم په لیدو وډار شو. لاړې یې تر ستوني تېرې کړې. رنګ یې تښتېدلی و. ان تر دې چې له ویرې یې د ترلو پښو ګوتې هم رپېدې. متین ورته وویل:

- که مې پوښتنو ته سم ځواب راکړې، کېدای شي چې رحم درباندې وشي.

- زه په خپله ګناه نه پوهېږم.

- یوازې زما پوښتنو ته ځواب راکړه.

سړی غلی شو. متین پوښتنه وکړه:





- څه نومېږې؟

- امین جان.

- د پلار نوم ؟

- شریف ګل

سړي خپله ولسوالي او کلی ور وښودل. متین له تذکرې سره دده ځوابونه وکتل، یو یې هم غلط نه و، نو بله پوښتنه یې ترې وکړه:

- په اخر کې چې ۲۲۰ ده، هغه شمېره ستا ده؟

- د څه شي شمېره؟

- د تیلیفون نمبر درته یادوم.

سړي په ځای کې وښورېده. سر یې دیوال ته تکیه کړ او ځواب یې ورکړ:

- دا نمبر زما نه دی.

متین له چوکۍ نه پاڅېده. په کوټه کې یې قدم وهل پیل کړل. سړي په ړدو، ړدو ورته کتل. د پولیسو آمر ژوره ساه واخیسته او د تذکرې خاوند ته یې وویل:

- یاده شمېره اووه کاله وړاندې ستا په نوم ثبت ده. ستا د تذکرې کاپي، د ثبت پاڼې او ټول اسناد له موږ سره شته، نو بیا څنګه ستا نه ده؟

- خو له هغې راهیسې ما ډېر نمبرونه بدل کړي دي.

په کوټه کې یو ځل بیا چوپتیا خوره شوه، خو د ساه اخیستلو سمسومی اورېدل کېده. متین د امین جان پر ځواب فکر کاوه. بېرته راغی. د لاس ترلي امین جان مخې ته چې پر ځمکه پروت و؛ کېناست او ترې ویې وپوښتل:

- ته وایې چې ما ډېرې شمېرې بدلې کړې دي. تا به بدلې کړې شمېرې چا ته نه وي ورکړې ؟



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



امین جان څو شیبې غلی شو. فکر یې وکړ او وروسته یې په حیرانتیا ځواب ورکړ:

- اوس رایاده شوه.

- څنګه ؟

- هغه شمېره چې په اخر کې ۲۲۰ ده، ما جبار ته ورکړې وه.

متین له چوکۍ نه سپک پورته شو. په داسې حال کې چې قدم یې واهه، سترګې یې په امین جان کې نیولې وې او بیا یې پوښتنه وکړه:

- جبار څوک دی؟

- پخوانی انډیوال مې دی، خو دا درې کاله کېږي چې نه مې دی لیدلی.

- چېرې اوسېږي؟

- په ( سره کوښن ) کې. ( سور کوښن د خوست ولایت په تنګي څنډو کې یوه سیمه ده ).

- همغه سور کوښن چې له شمالي وزیرستان سره پر پوله پروت دی؟

- هو.

- اوس هلته ورتللی شې؟

امین جان پوزه کش کړه او ویې ویل:

- نه

- ولې نه شې تللی؟

- ځکه چې اوس د سره کوښن د زېغونځیو په ځنګلونو کې ټول طالبان دي.

- په تیلیفون خبرې ورسره کوې؟

- مخکې مې خبرې ورسره کولې، خو اوس یې نمبر اکثره وخت بند وي.

- هغه ستا انډیوال دی. که یې راوغواړې درته راځي؟





- مخکې راته، خو اوس نه پوهېږم.

د پولیسو آمر ( متین ) ورمېږ کوږ او راکوږ کړ. ټکونه یې ترې وویستل. د لاسونو ګوتې یې سره ور وستې. ځان یې سره کش کړ. یوه شیبه یې د امین جان سترګو ته په زیر، زیر وکتل، خو دا کتل یې د امین جان لپاره ډېر ویروونکي و. امین جان په ځای کې وښورېده او متین ورته وویل:

- زما خبره ښه په غور واوره. که دې د هغه سړي په نیولو کې راسره مرسته وکړه، نو زه به هم مرسته درسره وکړم او که چېرته دې مرسته ونه کړه، نو تر اخره پورې به په دې تیاره کوټه کې تر شکنجو لاندې وې. بچي به د در په در وړې ګرځي او نور وروڼه به دې هم ونیول شي. نور ستا خوښه ده چې مرسته کوې او کنه؟

د امین جان ویره څو برابره شوه. ستونی یې وچ شو او زارۍ یې پیل کړې:

- آمر صاحب! د خدای ج لپاره واړه بچي لرم. د ګټې وټې مې هم څوک نشته او...

د پولیسو آمر یې خبرې پرې کړې او په چیغو یې وویل:

- هغه کسان مور، پلار، خور، ښځه، بچي او کور نه لري چې ستاسو ظالمانو لخوا وژل کېږي؟ وو ایه! د هغه په نیولو کې مرسته کوې او کنه؟

امین جان د ( نه ) په ډول سر وښوراوه.

متین دومره په زوره چیغې کړې چې دده له درانه غږ سره امین جان له ډېرې ویرې په ځای کې سپک وغورځېده. لړزې واخیست. دواړه غلي شول. یوازې یې یوه او بل ته کتل. لاس تړلي سړي له ویرې نه د سترګو په کونجونو کې د پولیسو آمر څاره، خو متین بیا له ډېرې غصې نه دده په څېره کې سترګې ګنډلې وې. په کوټه کې چوپتیا حاکمه وه. امین جان نه



https://www.mandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



پوهېده چې څه به ورسره کېږي، خو ناڅاپه د چوکۍ پښې پر سیمنټو کش شوې. زوږ یې په کوټه کې انګازې جوړې کړې. متین پاڅېده او په زوره یې غږ کړ:

- هلکه څه شوې؟

یو بل پولیس په بیړه دروازه کې ودرېده. غټې غټې سترګې، غټ، غټ اندامونه، پلنې اوږې یې درلودې او متین ته یې وویل:

- صاحب! امر وکړئ.

- ددې سړي عقل سر ته راوله.

- په سترګو صاحب.

لاس ترلي سړي چیغې کړې:

- د خدای ج لپاره آمر صاحب! ما مه وهئ. ما څه نه دي کړي. متین له کوټې نه ووت. د سړي چیغې یې همداسې تر لرې ځایه اورېدې.

په کوټه کې لومړی یو تت ځراغ ولګېده. بیا درانه اوسپنیزه دروازه وتړل شوه. په دروازه پسې د غټ قید اړولو په کوټه کې انګازې جوړې کړې. امین جان له ویرې په زوره، زوره ساه اخیستله. سختې لړزې نیولی و. ټول بدن یې په خولو کې لوند خیشت و. په همدې حالت کې یې د همغه پولیس پلنو اوږو، غټو، غټو لاسونو او اندامونو تماشه کوله چې د دروازې پر بندولو اخته و. ترلی سړی نه پوهېده چې پر ده به څه قیامت راولي او څه به ورسره کوي.

پولیس دروازه وتړله. مخ یې امین جان ته کړ. پر تشو یې لاسونه ونیول. یوه شیبه یې د امین جان څېره تر نظر تېره کړه. له هغه وروسته یې لاندېنۍ شونډه پر پاسنیو غاښونو وچیچله او پسې را روان شو. بندي سړي خبرو ته خوله جوړوله، خو خبرو ته پرېنښودل شو او پر مخ یې دروند





سوک وخوړ. مخ یې درد وکړ. ورسره جوخت یې په نس کې سخت درد محسوس کړ. دا درد د لتې و. بالاخره یې د بدن پر نورو برخو د پولیس درنو ګزارونو زور واخیست. امین جان نور نه پوهېده چې کوم ځای یې درد کوي او له ډېر درد نه داسې اوښت، لکه مار.

بندي سړی نور د ډېرو وهلو له لاسه بې حاله پروت و. پولیس په ساه کې لوړ و. په پراخ تندي یې خولې راماتې وې. پښه یې د امین جان پر اوږه کېښوده. زور یې ورکړ، خو هغه نه ښورېده. دغه وخت دروازه وټکېده. پولیس ورغی. اوسپنیزه دروازه یې خلاصه کړه. متین ورننوت او پولیس ته یې وویل:

- حالت یې څنګه دی؟

- اوس بې حاله شو.

- چوکۍ ته یې پورته کړه.

- صاحب! سمه ده.

پولیس پرې ورټیټ شو. امین جان یې د ماشوم په څېر رواخیست. پر چوکۍ یې کېناوه. د امین جان سر ځوړند و. خوله یې وینې وه. مخ یې پړسېدلی و. سترګه یې شنه ښکارېده. متین د پولیس پر اوږه لاس کېښود او زیاته یې کړه:

- ورشه په یوه لوښي کې اوبه راوړه.

پولیس په چوپه خوله له کوټې ووت. شیبه پس د اوبو له ډک سطل سره راغی او آمر ته یې ورکړ. آمر له امین جان نه څو قدمه شاته شو، تر څو لوند نه شي او د اوبو ډک سطل یې د هغه پر مخ ورخالي کړ. امین جان څو سړې، سړې سلګۍ وکړې. سترګې یې وغړولې، خو سترګو یې سم لیدل

ketabton.com - The Digital Library



نه کول. هر څه ورته خړ ښکارېدل. مخامخ ورته ولاړ متين داسې مالومېده لکه کوم نقاش چې پر ديوال تت انځور رسم کړی وي.

د امين جان ځان سخت درد کاوه. خوله يې وچه وه. اوبه يې وغوښتې.

متين لږ اوبه ور وڅښلې او ورته ويې ويل:

- د ۲۲۰ شمېرې خاوند په نيولو کې را سره مرسته کوې؟

امين جان د (هو) په ډول سر وښوراوه. څو شيبې غلی و. يوازې يې سترګې يوې او بلې خوا ته اړولې. د خبرو کولو هڅه يې وکړه، خو ژبه يې درنه وه. متين ولاړ پوليس ته وکتل او ويې ويل:

- چې حالت يې لږ ښه شي، بيا خبر راکړه.

- په سترګو صاحب!





په دهليز کې د بوټونو دروند غږ واورېدل شو. داسې غږ چې د متين تر دفتر رسېده. متين چې د کار مېز ته ناست و، زر، زر يې د يونوفورم تڼۍ وتړلې. ځان يې سره سم کړ. سړي ددې پر ځای چې دروازه وټکوي، په دفتر ورننوت.

کله چې متين هغه وليد، نو جنرال نه، بلکې خدمتګار يې و.

متين د خدمتګار پښو ته وکتل. د پوليسو درانه بوټونه يې پر پښو وو. متين په غصه وويل:

- تا ولې د پوليسو بوټونه پر پښو دي.

خدمتګار ځواب ورکړ:

- صاحب! په امنيه قوماندانۍ کې کار کوم او بل د جنرال صاحب خدمتګار يم.

- څه له دې ځايه ورک شه چې ودې نه ګورم.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



- صاحب! زه درنه ورک کېږم، خو ته جنرال صاحب غوښتی یې.

خدمتګار له دفتر نه ووت. متین له شا نه برګ، برګ پسې وکتل او له ځان سره یې وویل: دا څه بې ادبه او لوده انسان دی.

متین چې کله د جنرال دفتر ته ورسېده، نو د دروازې تر څنګ خدمتګار مسکی ولاړ و او متین ته یې په خندا وویل:

- ګوره جنرال صاحب ته ونه وایې چې بیا خپه کېږم.

- له مخې مې لرې شه، کنه بیا به دې خوښ شم.

خدمتګار یې خبرې پرې کړې:

ببښنه غواړم. بیا داسې نه کوم. بل که دې لږ ونه خندل، نو له مخې دې نه لرې کېږم.

متین یې په سترګو کې سترګې وګنډلې. تر ډېره یې ورته کتل، خو اخر مسکی شو. خدمتګار ژوره ساه واخیسته او ویې ویل:

- ایله مې زړه کرار شو. بله ورځ در سره ټوکې نه کوم.

متین د جنرال د دفتر دروازه ورو وټکوله. د ننه لخوا جنرال غږ کړ: مهرباني وکړئ!

متین ورننوت. سلام یې وکړ. جنرال د سلام ځواب ورکړ او د کېناستو یې ورته وویل. متین خبرو ته خوله جوړوله، تر څو له جنرال نه وپوښتي چې ولې دې راغوښتی یم، خو جنرال وار ترې مخکې کړ او ویې ویل:

- متین جانه! ته مې ددې لپاره راوغوښتې، تر څو هغه کور درته وښایم چې ستا د اوسېدو لپاره مې درته در کړی.

- صاحب! زه کور لرم، نو دا کور دې د څه لپاره نیولی؟

- دا کار مې، ځکه کړی چې د کلیو ژوند ستا په څېر کسانو ته ښه نه دی.





- خو هغه زما کلی دی. په هغه کې رالوی شوی یم. کلی او کلیوال کله پرېښودی شم.

جنرال پزه کش کړه. پر تندي روانې خولې یې پاکې کړې او زیاته یې کړه:

- هغه څوک چې د یوه پولیس دنده پر غاړه اخلي، نو دا هر څه باید پر ځان ومني.

- جنرال صاحب!...

جنرال په خپله چوکۍ کې شاته لاړ او د متین خبره یې پر دغه جمله غوڅه کړه:

- له دې وروسته تا او ستا کورنۍ ته خطر دی. باید دا ومنې او ښار ته راکډه شې.

- صاحب! څنګه چې تاسو امر کوئ.

جنرال په ځای کې ودرېده. لاس یې ور اوږد کړ او ورته یې وویل:

- الله ج دې مل شه.

متین د جنرال له دفتر نه راووت. طبعیت یې خپه و، ځکه د کلي پرېښودل ورته اسان نه و، خو مجبور و چې داد زهرو غړپ یې تر ستوني تېر کړی وای.

متین خپل دفتر ته راغی او د جنرال پر هغه خبره یې فکر کاوه چې ویل یې: "تا او ستا کورنۍ ته خطر دی." په دفتر کې نور چوپتیا خوره وه، خو یوازې د هغې چوکۍ غچغچې اورېدل کېده چې متین په کې ښورېده.

متین تر ډېره فکر وکړ او له اوږده فکره وروسته دې پایلې ته ورسېده چې کېدای شي جنرال له هغه څه نه خبر وي چې دی پرې نه پوهېږي، نو ځکه یې تیلیفون رواخیست او کور ته یې زنګ وواهه. مور یې په تاخچه کې ایښې تیلیفون ته ورغله. لاس یې ور اوږد کړ هغه یې رواخیست. د



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



ټيکري ( پړوني ) په پيڅکه يې له دوړو پاک کړ. د اوکې کولو لپاره يې هغه تنې په غټه ګوته کېکاږله چې متين ورته ور ښودلي وه. بيا يې تيليفون غوږ ته ونيوه او د زوی غږ يې واورېده:

- ادې سلام!
- واليکم سلام ( وعليکم سلام ) زويه! څنګه يې؟
- ښه يم. ته څنګه يې؟
- شکر دی ښه يم.
- ادې يوه خبره مې کوله.
- وايه زويه، څه شوي ؟
- نور څه نشته. يوازې مې غوښتل چې د کور سامان سره ټول کړې.
- سامان ولې ټولوې؟
- ماته امر شوی چې له کلي نه بايد ښار ته کډه شې. ويل يې چې زموږ کورنۍ ته خطر دی.

د متين مور ددې خبرې په اورېدو څو شيبې غلې وه، خو اخر يې خپل زوی ته وويل:

- زويه! زه يوازې د الله ج نه ستا د سر خير غواړم. هر څنګه چې ستا خوښه وي.

متين د مور پر دغه خبره خوښ شو، ځکه ده فکر کړی و چې مور به يې دا خبره ورسره ونه مني. دوه ورځې وروسته متين هغه کلی چې ماشومتوب يې ټول هلته تېر شوی و؛ پرېښود او ښار ته يې کډه وکړه.





هغه پوليس چې پلنې اورې يې وې او له نيول شوو کسانو نه د اقرار اخيستو په موخه پر دنده ګومارل شوی و؛ د متين مخې ته ودرېده او ويې ويل:

- آمر صاحب! د بندي حالت اوس ښه دی.
- خبرې کولی شي؟
- هو، صاحب!
- سمه ده زه ورځم. له دې وروسته ډوډۍ په خپل وخت ورکوه.

پوليس خپل غټ سر وښوراوه او له دروازې ووت.

امين جان لاس تړلی په تياره کوټه کې پروت و. د وهلو او ډبولو له لاسه يې بدن ډېر زخمونه او دردونه ليدلي وو. هر زخم يې ځان ته درد درلود. داسې درد چې د لاس تړلي بندي هره ساه ايستل يې په فرياد



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



بدلول، خو له دومره وهلو سره، سره لا هم په دې نه پوهېده چې آمر صاحب به نور څه ورسره کوي.

د تياري کوټې اوسپنيزه دروازه پرانيستل شوه. د امين جان سترګې رڼا وبرېښولې. د پلنو اوږو ولا پوليس رانوت. د زنداني بيا په ټنډه کې خوړ شول او له ځان سره يې وويل: " عزرايل بيا راغی. " خو کله چې د پلنو اوږو ولا پوليس ورته رالنډ شو، نو ولا ځل يې يوه ډوډۍ او په وړوکي کاسه کې لوبيا مخې ته ورته کېښودل. لاسونه يې د شا لخوا نه خلاص او مخ لوري ته يې ور ولچک کړل، تر څو ډوډۍ پرې وخوړلی شي.

امين جان که څه هم ښه وږی و او ډوډۍ ته يې زړه کېده، خو د خولې ټپونو يې دې ته نه پرېښوده چې ډوډۍ په خوند وخوري او ځان موړ کړي. لومړی ګوله يې خولې ته کړه. ژامو يې درد وکړ. ګولې هم د وينو خوند کاوه، خو لاس تړلی بندي مجبور و چې ويې خوري، ځکه لوږه هم زوروره وه. امين جان څو نوري ګولې په همدې ډول تر ستوني تېرې کړې، خو نور يې نه شول کولی چې ځان موړ کړي. کله چې يې د ډوډۍ خوړل بس کړل، نو د پلنو اوږو پوليس بې له دې چې څه ووايي؛ پرې ورټيټ شو. لوښي يې رواخيستل. د باندې ووت او په ځان پسې يې د کوټې دروازه وتړله.

امين جان نور له تياري سره عادت و، نو ځکه له تياري نه ځورېده، خو له دوو شيانو ډېر ځورېده چې يو يې پر بدن زخمونه وو او بل يې پر زړه. پر بدن زخمونه يې د هغه پوليس له امله وو چې غټ، غټ اندامونه يې درلودل او له ده نه يې د خبرو ايستل غوښتل. پر زړه زخمونه يې د هغه ملګري له لاسه وو چې ده پرې باور کړی و او هغه شمېره يې ورکړې وه چې په اخر کې ۲۲۰ ده او بل يې د خپلې کورنۍ بې سرنوشته پاتې کېدل و چې اوس به په څه حال وي.





ده ته خپل اولادونه يو، يو سترګو ته درېدل. هغه وړه لورکۍ ورياده شوه چې اوس ايله د نهه مياشتو وه. خپل مور او پلار، خويندې او وړه ورونه يې ټول د سترګو پر وړاندې د يوه فلم د صحنې په څېر تېرېدل. پر دې هم پوهېده چې اوس به سرګردان ورپسې ګرځي، خو هېڅ به يې له لاسه پوره نه وي. زړه يې راډک شو. څو اوښکې يې له سترګو نه راتوی شوې او له خولې يې ښېرا واورېدل شوه: "جباره! له خدای ج نه مې تباه او برباد غوښتی يې. "

امين جان په همدې فکرونو کې ډوب و چې متين کوټې ته ورننوت. مخې ته يې ودرېده او ورته ويې ويل:

- امين جانه! که راسره مرسته ونه کړې، نو له دې ځای نه دې وتل ګران دي.

امين جان په ځای کې ونښورېده او په کمزوري غږ يې ځواب ورکړ:

- زه چې په هر څه پوهېدم. هغه مې ټول درته بيان کړل.

- په هغه خبرو هېڅ نه کېږي. زه له تا غواړم چې تر جبار مې ورسوې. پوه شوې او که نه؟

امين جان څو شيبې د متين سترګو ته له ويرې په ډک نظر وکتل او وروسته يې وويل:

- يوه خبره رانه هېره وه.

- هغه کومه خبره ده چې درنه هېره ده او که چېرې د کار خبره نه وي، نو دا ځل دې ژوندی ښخوم.

- قوماندان صاحب! جبار به د هرې جمعې په شپه لالې ملنګ ته هم راتلو.

- دا خبره دې اول ولې نه کوله؟

- ومې ويل چې رانه هېره وه.

ketabton.com - The Digital Library



- ملنګ چېرته اوسېږي؟
- له شينکي غونډۍ سره نږدې کلي دی.
- ته له جبار سره کله هلته تللی يې؟
- هو!
- ډېر او که لږ؟
- دوه ځلې.
- جبار او ملنګ څه سره ويل؟

امين جان داسې خپله خوله جينګه کړه لکه کوم ځای چې يې درد کوي. لږ غلی شو او بيا يې متين ته ځواب ورکړ:

- هلته دوې کوټې وې. موږ به په يوه، ملنګ، جبار او څو نور کسان به په بله کوټه کې وو.
- له ملنګ سره څه ډول کسان ډېر کېناستل؟
- ما چې دا دوه ځله ليدلي، نو پاکستاني تبليغيان ورسره زيات وو.

متين له ځايه پاڅېده. په کوټه کې يې قدم وهل پيل کړل. تر اوږدې شيبې يې د امين جان پر خبرو فکر وکړ او اخر دې پايلې ته ورسېده چې د ملنګ پر کور هم بايد عمليات تر سره کړي.

کله چې د جمعې شپې د ماښام خړه رادې بره شوه، نو متين خپلو کسانو ته وويل: امين جان له کوټې راوباسئ او په موټر کې يې واچوئ. کسان يې ورغلل. امين جان يې لاس تړلی له تياري کوټې نه راوويست او د رنجرې په باډۍ کې يې واچوه. متين امين جان ته خوله ورنږدې کړه او ورته ويې ويل:

- د ملنګ ځای ته مو سيده ورولهـ او که کومه چلاکي دې وکړه، نو په هغه ځای کې دې په ګوليو سوری، سوری کوم.





امين جان په داسې حال کې چې لاسونه يې تړلي وو، متين ته د (سمه ده) په ډول سر وښوراوه. متين نور هېڅ ونه ويل. موټر ته وخوت او له خپلو کسانو سره د شينکي غونډۍ سره نږدې کلي ته د ملنګ پر کور د عملياتو د تر سره کولو لپاره روان شو. رنجرې ګړندۍ روانې وې. له لږ مزل کولو وروسته له پاخه سړک نه خامې لارې ته کوز شول. په خامه لار کې يې هم پوره مزل وکړ. کله چې د شينکي غونډۍ تر څنګ کلي ته نږدې شول، نو متين ورته د درېدو امر وکړ. دده له امر سره سم ټول ودرېدل او متين ورته وويل: څو تنه وسايطو ته پاتې شئ او نور يې په ما پسې راځئ.

متين له لاس تړلي امين جان او خپلو کسانو سره يو ځای د ملنګ د کور پر لوري روان شو. توره تياره وه. داسې تياره چې د لاس ګوتې هم نه ښکارېدې. د دوی مزل د پولو او پټيو په منځ کې وه. شاوخوا نيم ساعت مزل يې پلی وکړ چې کلي ته ورسېدل. متين له امين جان نه وپوښتل:

- په تياره کې يې ښودلی شې چې کور يې کوم يو دی؟

امين جان زير شو او په اشاره يې ځواب ورکړ:

- داسې چې لاړ شې، له کلي نه به ووځې او هلته د پاڼ پر غاړه يوازې دده کور دی.

متين يوه پوليس ته امر وکړ چې د امين جان خوله وتړي. پوليس يې نه يوازې خوله ور وتړله، بلکې هلته د ځمکو په منځ کې يې په کومه ونه پورې وتاړه.

متين د ملنګ د کور پر لوري د خپلو کسانو سره په منډو شو. کور يې شاوخوا محاصره کړ. څو تنه دروازې ته ورډېدل دروازه يې په زوره، زوره وټکوله، څوک نه و چې دروازه پرانيزي. دوی لږ انتظار وکړ، خو متين



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



ورته وويل، دلته هر ډول ځنډ له خطر نه خالي نه دی. پوليسو دروازه ماته کړه او کور ته دننه شول. يوې او بلې خواته يې مرچې ونيوې. شاوخوا يې وکتل، خو څوک نه و. په احتياط سره وړاندې لاړل. د ملنګ د کوټې تر دروازې ورسېدل. پوليس د کوټې ور په لته وواهه او غږ يې وکړ: ونه ښوربېږئ. بيا هم له ننه، څخه د چا عکس العمل ونه ليدل شو. بالاخره پوليس د ملنګ خونې ته دننه شول، خو پر ملنګ يې په داسې حال کې سترګې ولګېدې چې مرۍ يې غوځې وې، د کوټې په منځ کې په وينو لژند پروت و او نور ټول هغه چې له ده سره وو، د پوليسو له ورتګ نه مخکې تښتېدلي وو.

متين د ملنګ جسد تر نظر تېر کړ. څو کونځې نيالۍ چې پومبه يې هم راوتلي وو، په کوټه کې بې ترتيبه پرتې وې. د ملنګ اوږدې تسبې ودده په ګوتو کې همداسې بند پاتې وې. د څراغ د رڼا مخې ته په کوټه کې پاتې دورې يوې او بلې خوا ته کېدلې.

متين له عادت سره سم يوه او بله خوا تر نظر تېروله چې په دې وخت کې يې يو نرۍ سنګېدونکی اواز تر غوږ شو. د اواز له اورېدو سره جوخت يې پر خپلو کسانو په مخابره کې غږ وکړ: ځغلئ، چې ماين دی. ټول پوليس په منډه شول او متين هم خپلې پښې له هغه ځايه سپکې کړې، خو لا د کور له دروازې نه، نه و وتلي چې يوه زوروره چاودنه وشوه.

له چاودني سره سم په کلي کې د ماشومانو کريغې واورېدل شوې. د سپيو غپا ډېره شوه او د پوليسو له لوري احتياطي ډزې هم پيل شوې. متين پزه کش کړه. د باروتو تريخ بوی يې محسوس کړ. خولې يې هم د خاورو خوند کاوه. ځان يې وښوراوه. تر خاورو او لوټو لاندې و. لاسونو او پښو ته يې حرکت ورکړ او پوه شو چې کوم ځای يې مات نه دی. زور يې





وکړ. له خاورو راووت. کله چې ودرېده، نو په ملا کې يې درد احساس کړ، خو دا درد ورته د اندېښنې وړ نه و. د پوليسو آمر د مخابرې تکمه کېکاږله، تر څو د خپلو کسانو د حالت پوښتنه وکړي، خو له کاره لوېدلې وه. په دې وخت کې چا څراغ په لاس دده پر لوري منډې وهلې او دا غږ يې کاوه: متينه وه متينه چېرته يې؟ متينه وه متينه...

متين خپله توپانچه راوويسته. د هغه څو پرله پسې غږونو ته يې ځواب ورنه کړ، خو له څو غږونو وروسته يې د هغه غږ وپېژانده چې دده د ماشومتوب انډيوال او په سعودي عربستان کې د کلونو مسافر ببری دی، نو غږ يې ورته وکړ: دلته يم.

ببرې ورته راورسېده. متين يې ټينګ په غېږ کې ونيو او شکرونه يې ايستل چې څه ورباندې شوي نه دي، خو متين ببري ته حيران و، ځکه هم يې د پوليسو يونفورم پر تن و او هم يې دده د ژغورنې لپاره ځان ورته را ورساوه.

ببري متين له اوږې ونيو او روان يې کړ، خو متين ورته وويل: زه ښه يم، تللی شم. متين غوښتل چې د ببري په اړه خپله حيرانتيا لرې کړي، نو ځکه يې ترې وپوښتل:

- ببريه! ته په دې شپه له کومه شوې؟

- کيسه اوږده ده، خو اوس له جنرال صاحب سره ستاسو ژغورنې ته راغلی يم.

متين په حيرانتيا وويل:

- جنرال صاحب؟

- هو!

- هغه چېرته دی؟



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



- لږ وړاندې په موټر کې ناست دی.

متین هم داسې پر توپانچه لاس ایښی و، ځکه تر هغو یې پر ببري هم باور نه کاوه، تر څو چې د جنرال موټر ته ورسېدل. جنرال د موټر دروازه خلاصه کړه او متین ته یې وویل:

- ټپي شوی به نه یې؟

- صاحب! روغ یم.

- ټولو کسانو ته ووایئ چې موټرو ته وخېژي او حرکت وکړي.

- جنرال صاحب! سمه ده، خو زموږ موټر له کلي لږ لرې دی او بل مو دلته راوستلی زنداني د ځمکو په منځ کې پاتې ...

جنرال یې خبرې پرې کړې:

- هم مو هغه موټر راوستلی او هم مو په ونه پورې تړلی سړی دلته راوړی دی.

جنرال د څراغ رڼا ته د متین سپېره څېره تر نظر تېره کړه او وروسته یې یو لاسي ساعت ورکړ. متین په حیرانتیا ترې وپوښتل:

- صاحب! پر دې څه وکړم؟

- دا د امین جان پر لاس تړلی ساعت دی چې هم کمره په کې ده او هم په کې د غږ لیږدوني اله. جنرال نور څه ونه ویل. موټر ته وختوت او د پولیسو کاروان حرکت وکړ.





هغه پولیس چې په ښېښه کې ټپیان شوي وو، روغتون ته یې ورسول. امین جان یې بېرته خپلې تیارې کوټې ته یووړ او متین هم په خاورو او دوړو لړلی له موټر نه مات ګوډ راکوز شو. جنرال ورته وویل: روغتون ته لاړ شه، تر څو د ډاکټران معاینه کړي چې وجود دې پټ درد موندلی نه وي، خو متین ډاډ ورکړ چې ښه یم او روغتون ته د تګ اړتیا نشته.

متین د ارام کولو کوټې ته ننوت، تر څو ارام وکړي، خو په کوټه کې یې ببری له وړاندې ناست و. متین چې هغه ولید، نو په خندا یې وویل:

- وه هلکه د پیرې غوندې یې.

- ځکه چې ستا انډیوال یم.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



- دا خو همداسې د پخوا په څېر حاضر ځوابه یې.
- همداسې یې وبوله.

متین خبرو ته خوله جوړوله، خو ببري پرېښنبود او پر چوکۍ یې د زر کېناستو ورته وویل. متین حیران پر چوکۍ کېناست او غلي یې ترې وپوښتل:
- ببریه نه پوهېږم چې څه راباندې کوې؟

ببري د دروازې پر لور وکتل او ځواب یې ورکړ:
- قوماندانګیه! نور هېڅ درباندې نه کوم. یوازې دې د مخ او لاسونو پر ورو ټپونو دوا وهم چې میکروب وانخلي.
- وه هلکه! دا خوله دې سمه خوځوه. ته ماته قوماندان نه، بلکې قوماندانګۍ وایې.

بیا متین یوه شیبه وخندل او له هغې وروسته یې وویل:
- ګوره د نورو پولیسو په مخکې راته ونه وایې.
- دومره ساده ګۍ هم نه یم.

د متین پر ټپونو چې ببري دوا ووهله، نو سوی یې ډېر شو. متین جینګه خوله ونیوه او غږ یې کړ:
- اوف مړ دې کړم هوایي ډاکټره.
- غلی شه موږ ته یې دا ښودلي چې د یوه ټپي لومړنۍ درملنه څنګه وکړو.

بیا هوایي ډاکټر ونه وایې.
- ډاکټر صاحب! ښښنه غواړم.
- قوماندانګیه خدای ج دې وبښه.

یو ځل بیا دواړو وخندل. کله چې په کوټه کې د خندا زور کم شو، نو متین ترې وپوښتل:





- ښه دا راته ووایه چې له سعودي نه کله راغلې او بیا ولې پولیسو ته لاړې؟
- شپږ میاشتې مخکې کور ته د تګ پر ځای دلته راغلم او د پولیسو په لیکو کې شامل شوم.
- ولې دې دغه پرېکړه وکړه؟
- ځکه چې په سعودي کې له یوې خوا کار او غریبي نه پیدا کېدله، که کوم کار به پیدا شو، نو د هغه د مزدورۍ پر پیسو به عربي رانه خیته واچوله. دا دریم ځل و چې په یو کال کې سر په سر عربانو د مزدورۍ پیسې رانه کړې او له دې وړاندې یې هم زما حق رانه خېټې ته کړی و. اخر مجبور شوم چې ویزه ختمه کړم او خپل وطن ته راشم. وطن ته په راتګ سره پولیسو ته راغلم، ځکه له یوې خوا قرضداری یم او له بلې خوا د کورنۍ د ساتنې مسوولیت لرم.

ببری چوپ شو. کارول شوي پومبه (مالوچ) یې په کثافتدانۍ کې واچوله. په دې وخت کې دروازه ټک، ټک شوه. متین ورته وویل: مهرباني وکړه.

د دروازې له خلاصېدو سره سم د دواړو سترګې پر جنرال ولګېدې. د احترام په خاطر له ځایه پاڅېدل. سلام یې وکړ او جنرال ترې وپوښتل:
- تاسو څنګه یاست؟

دواړو په یو غږ ځواب ورکړ:
- صاحب! ښه یو.
- متینه ته څنګه یې صحت خو دې ښه دی؟
- شکر دی، ښه یم.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



- د خدای ج فضل دی چې وژغورل شوې. کنه د دښمن په دام کې به راګیر وې.

- صاحب! ستاسو برکت و.

جنرال د ګوتو له بندونو ټکونه وویستل. یوه شیبه یې د کوټې چت ته کتل. غاړه یې تازه کړه او دا ځل یې په نرمه لهجه وویل:

- بیا ځلې دغسې تېروتنه ونه کړې

- صاحب! د هغه ساعت ته مې نه و پام، خو اینده کې به پام کوم.

- په دې کارونو کې چې پام ونه کړې، نو هم به ځان د بلاوو خوراک کړې او هم دې ملګري.

- په سترګو صاحب!

جنرال کولا له سر نه کوزه کړه. پر یک تندي چې یې یوازې څو سپین وېښتان ولاړ وو، لاس رانښکو. په ببري کې یې سترګې وګنډلې او بیا یې ترې وپوښتل:

- ته له متین سره پېژنې؟

ببری وارخطا شو، خو زر یې ځواب ورکړ:

- هو صاحب! دا مې کلیوال دی او هم مې د ماشومتوب انډیوال.

- غواړې چې دده تر امر لاندې دنده تر سره کړې؟

د ببري څېره وغوړېده او ورته ویې ویل:

- که له ده سره شم، نو ډېره به ښه شي.

- متین چې کومې سختۍ زغمي، هغه ته منلی شې؟

- صاحب! د سر په بیه ورته تیار یم.

- افرین، نو چې داسې ده، سر له نن نه به ته له ده سره کار کوې.

- صاحب! مهربان یاست.





جنرال د متین څېره تر نظر تېره کړه، خو دا ځل جنرال په غصه نه و، بلکې په څېره کې یې مسکا لیدل کېده. متین ته یې لاس ور اوږد کړ. یوه کڅوړه یې ورکړه او له دې سره سم یې ورته وویل:

- زویه! په دې کڅوړه کې دوه جوړه ساختګې ږیرې، برېتونه او د سر اوږده ویښتان دي. کله چې د دښمن سیمې ته ننوتلی، نو له دې نه ګټه واخلئ. بل که د صحت ښه وي، نو کولی شې چې له ببري سره یو ځای په دښمن پسې ووځې او په خپل کور کې یې له منځه یوسې.

- صاحب! امر مو پر ځای کېږي.

جنرال له ځایه پاڅېده. متین یې پر تندي ښکل کړ او د ببري پر سر یې هم د مهربانۍ لاس رانښکه. دواړو ته یې وکتل او له الله ج نه یې د بري غوښتنه ورته وکړه. جنرال له کوټې نه ووت. متین او ببری له یو - بل سره تر غاړې وتل، خو متین وویل:

- زه یوازې ځم، ځکه پر تا مې زړه نه کېږي.

ببري یې په خبرو کې ورټوپ کړ او ځواب یې ورکړ:

- زه تا یوازې نه پرېږدم، چې هر ځای ځې زه دې ملګری یم.

متین چې هر څومره د ببري پر نه تګ ټینګار وکړ، خو هغه ور سره ونه منله. متین چې د غرمې ډوډۍ وخوړه، نو له هغې وروسته د بندي امین جان کوټې ته ورغی. امین جان په تیاره کوټه کې لاس تړلی پروت و او فریادونه یې کول. متین یې مخې ته ودرېده او وار له واره یې ترې وپوښتل:

- هغه ساعت چا در کړی و؟

- جبار.

- ته خبر یې چې په هغه ساعت کې څه و؟



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



- تاسې زما ساعت ته هم بهانه ولټوله او رانه خلاص مو کړ. په ساعت کې به څه بلا وي.

- ځان نګاره مه اچوه. که د لاس ورسره نه لرلی، نو د جاسوسۍ ساعت یې نه درکاوه.

امین جان ددې خبرې په اورېدو سره حیران ور وکتل او څو ځله یې دغه جمله تکرار کړه: د جاسوسۍ ساعت، د جاسوسۍ...

بیا یې متین ته سترګې ور واړولې او ویې ویل:

- ما ته جبار دغه ګوتمۍ هم راوړې، چې په دې کې به څه بلا وي؟

متین د هغه له ګوتې نه ګوتمۍ وویستله. د غمي برخې ته یې زور وکړ. پرانیستل شوه. ویې لیدل چې په هغې کې یې هم د غږ لیږدونې سیستم ځای پر ځای کړی دی، نو امین جان ته یې وویل:

- اوس دا هر څه پر خپلو سترګو وینې؟

- هو! زه اوس هغه کسان درته ښایم چې جبار ورته له پاکستانه دا ډول تحفې راوړې.

متین د پتلون له جیب نه وړه کتابچه راوویسته. د امین جان له خولې نه یې د هغه ټولو کسانو په اړه پوره مالومات ولیکل چې جبار تحفې پسې ویشلې وې. کله چې یې ټول ورته وښودل، نو ببرې ته یې (هغه د دروازې مخې ته ولاړ و) کتابچه ورکړه او ورته یې وویل چې جنرال ته یې ور وړې.

متین دروازه وتړله او امین جان ته یې په چیغو وویل:

- زه غواړم چې د هغه په نیولو کې راسره مرسته وکړې.

- هر ډول مرسته در سره کوم، ځکه هغه زما ژوند تباه کړ.

متین ارامي احساس کړه او ترې ویې وغوښتل:





- ما یوازې د (سره کوېښ) سیمې ته ورسوه او د هغه کور او ځای راته وښایه. کله دې چې دا کار وکړ، نو زه درسره ستا د خلاصون ژمنه کوم.

- زه دې د هغه کلي ته رسوم، خو ما به له دې غضبه خلاصوې.

- زه پر خپله ژمنه ولاړ یم.

دروازه ټک، ټک شوه. متین دروازه پرانیسته. جنرال او ببرې دروازې ته ولاړ وو. جنرال ورننوت او ببرې همغلته پاتې شو. جنرال متین ته انځور ورکړ او ورته یې وویل:

- دا انځور مې د ساعت له وړې مېمورۍ نه تر لاسه کړ.

متین انځور د امین جان سترګو ته ونیو او ترې ویې وپوښتل:

- دا څوک دی؟

امین جان غریو نیولي وویل:

- دا هغه جبار دی چې زما ژوند یې تباه کړ.

جنرال د امین جان بد حالت ته وکتل او بیا یې متین ته مخ ور واړوه:

- دا سړی بې ګناه دی.

- جنرال صاحب! ما ته هم بې ګناه ښکاري.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



متين سپين کالي اغوستي وو. تر واسکټ لاندي يې توپانچه ښکارېده. د نورو ورځو خلاف ساتونکي ورسره نه وو چي مخکي او وروسته به يې ورسره منډې وهلې. څېرې يې د ورو ټپونو له امله لږ بدلون کړی و، خو دومره زيات نه چي ډېر وخت يې د څېرې بدلون دوام وکړي. متين له امين جان سره يو ځای د کلي په کوڅو کې روان و او د سترګو په کونجونو کې يې د هغه حرکتونه څارل، ځکه باور يې نه شو پرې کولی.

هر کليوال چي امين جان ليده، نو ګرمه ستړي مه شي يا روغبړ به يې ورسره کاوه. هر يوه ورته ويل چي ښه شو، په خير له بنده راخلاص شوې او ځينو بيا ترې پوښتل چي پوليسو ولې نيولی و، خو دده کور ته بيړه وه او د ځان د خلاصون لپاره يې ورته ويل: زه بيا تولله کيسه درته کوم.

کله چي امين جان له کليوالو ځان بې غمه کړ، نو له هغه وروسته د کور مخې ته ودرېده او لويه دروازه يې ټک، ټک کړه. د غټې لرګينې دروازې د ځنيځير شرنګ شو. دروازه خلاصه شوه او له کوره سرې





راووت. د سرې لاسونه لړزېدل او سر يې هم ښورېده. له لمر نه يې سترګو ته لاس ونيو او په ژړغوني غږ يې وويل:

- امين جانه زويه ته يې؟

- هو پلاره زه يم.

- زويه لکه چي ښه يې وهلي او ټکولي يې او بل څومره ډنګر شوی يې؟

- نه، نه ښه يم.

د امين جان پلار سلګو واخيست. امين جان يې په دواړه مخه ښکل کړ او په سلګو کې يې زر، زر دا خبره تکراروله: د خدای ج شکر چي په خير راغلې، شکر زويه، شکر...

متين چي کله دا له ويره ډکه صحنه وليده، غمجن شو. د امين جان پر پلار او کورنۍ يې زړه درد وکړ. په زړه کې يې پر هغه چا لعنت ووايه چي امين جان او د هغه کورنۍ يې په ستونزو کې اچولې وه. په دې وخت کې يې د امين جان د پلار غږ واورېده چي امين جان ته يې وويل:

زويه راځه، چي کور ته ننوزو.

خو امين جان متين ته اشاره وکړه:

- پلاره مېلمه لرم.

د امين جان پلار چي کله متين وليد، نو ور روان شو او روغبړ يې ور سره وکړ. کله چي له روغبړ وروسته د روغ او رنځور پوښتني خلاصي شوې، نو د امين جان پلار متين ته وويل:

- خوريي پر ما ډېرې لوړې ژورې تېرې دي. نور د غمونو زغم راته ګران دی، نو کله چي مې امين جان وليد، له خوشالۍ نه ډېر وارخطا شوم او تاته مې هېڅ پام نه شو. پښتنانه بايد د مېلمه ډېر قدر وکړي. د مېلمه د خوشالولو لپاره لوی، لوی غمونه پټ کړي او د مېلمه په مخ کې په خپله



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



څېره کې د خوشالۍ راوستو کوښښ وکړي، خو بیا هم وایم چې تاته مې نه و پام.

متین د سپین ږیري څېره تر نظر تېره کړه. د هغه لړزانده لاسونو ته یې وکتل. سپین ږیری ډېر کمزوری په نظر ورغی، خو د هغه په خبرو کې کمزوري نه وه. متین ته سپین ږیری تجربه کار ښکاره شو او هغه ته یې په مسکا ځواب ورکړ:

- کاکا هېڅ خبره نه ده. زه داسې مېلمه نه یم چې خپه شم، بلکې ستاسو خپګان مې خواشینی کوي...

سپین ږیري د متین خبرې پرې کړې او ویې ویل:

- راځه چې کور ته ځو.

- کاکا موږ روان یو او ضروري کار لرو.

- هر څومره ضروري کار چې ولرې له چای څښلو نه مخکې نه شې تللی.

متین زړه نا زړه و. نه پوهېده چې اوس څنګه باور پرې وکړي، ځکه باور کول هم ځان مرګ ته سپارل و. امین جان چې دده زړه نا زړه توب ولید، نو غږ یې پرې وکړ:

- راځه داد پښتنو کور دی.

سپین ږیري د کور په دروازه کې غږ کړ: یوې خواته شئ مېلمه راسره دي. متین او امین جان په سپین ږیري پسې روان شول. کله چې له غټې لرګینې دروازې نه تېر او انګړ ته داخل شول، نو د امین جان د پلار په پښو کې د سپي د راتګ دوړه ولیدل شوه چې د متین خواته په تېزۍ سره روان و. متین چې سپی ولید، نو ځان یې دیوال ته ورساوه. سپي حمله پرې وکړه، خو ده له ستوني ګیر کړ او پرې یې نښود چې زیان ور ورسوي. دغه وخت کې سپین ږیری هم له یوه ډانګ سره راورسېده، خو امین جان





حیران ولاړ و. د امین جان پلار سپی څو ډانګه وواهه او متین یې ستونی پرېښود. سپی له ډېرې وارخطایۍ نه د بوسو پر بوسخانه ننوت. پلار او زوی د متین پښې او بدن وکتل او په همدې حال کې یې ورته وویل:

- داړلی به یې نه یې؟

- نه، نه یم یې داړلی.

متین خپل کالي له دوړو وڅنډل او درې واړه یوې کوټې ته ننوتل. امین جان له متین نه وړاندې شو. له نیالۍ نه یې دوړې وڅنډلې. د تکیې بالښت یې (چې په ګوتو په کې ښایسته ګلان ایستل شوي و) سم کړ او متین ته یې د کېناستو اشاره وکړه. متین کېناست او سپین ږیري هم ډډه ووهله، خو امین جان چې کېناسته، نو متین ورته وویل: ته کور ته لاړ شه چې کورنۍ دې ووینې. امین جان بې له دې چې څه ووایې، مسکی شو او له دروازې ووت.

د امین جان پلار په فکر کې ډوب ناست و. په کړکۍ کې په ځوړېدو جوړه هنداره ایښې وه، خو نیمې برخې یې کوټه او پاتې یې انګړ ښکاره کاوه. متین سترګې ور واړولې. خوښ شو، ځکه د امین جان د څارلو وسیله یې پیدا کړه. اوس چې امین جان د متین پر ضد هر حرکت کوي، نو متین یې لیدلی شي.

سپین ږیری وټوخېده. دده له ټوخي سره متین وډار شو او سپک وغورځېده، ځکه دی له اول نه په وېره کې ناست و. ځان ته یې وخندل، خو زر یې ځان سره سم کړ، تر څو یې سپین ږیري ونه ویني او پرې پوه نه شي. متین بیا هنداري ته وکتل. نور څوک نه وو. چرګې په چوتره باندې منډه کړه. د چوترې په څنډه یوه کټوه چې ګلان په کې کرل شوي وو، ایښې وه او د ګلانو پاڼې باد ښورولې. په دې شیبه کې امین جان له کوټې نه



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



چوترې ته راووت. متین وسله او یا کوم بل ضررناک شی ورسره ونه لیده. امین جان وړه ماشومه، کېدای شي چې لور به یې وي، په غېږ کې نیولې وه او ورسره خندل یې. لږ ساعت یې ورسره تېر کړ. بیا یې د کوټې دروازې ته مخ کړ او څه یې وویل. د کوټې له دروازې نه تر څنګلو د ښځې لاسونه ښکاره شول. له امین جان نه یې ماشومه واخیستله. متین ددې صحنې په لیدو له هنداري نه سترګې واړولې.

امین جان کوټې ته ورننوت. سلام یې واچوه. دوی یې سلام ته وعلیکم سلام وویل. امین جان پوه شو چې دده پلار او متین بڼدار سره نه دی کړی، نو یې پلار ته مخ کړ:

- پلاره! لکه چې له متین سره دې ګپه نه ده کړې؟

- زویه! ستا ملګری نه خپه کېږي، ځکه ماته ګرځېدلی انسان ښکاري.

متین مسکی شو او د خبرو په منځ کې یې وار ونیو:

- امین جانه! کاکا مه په عذابوه.

درې واړو سره وخندل او سپین ږیري متین ته د ټوکې په توګه وویل:

- ستا له خبرو داسې مالومېږي چې امین جانه! پلار دې د ګپې سړی نه دی.

- نه، نه کاکا ته زموږ دروند مشر یې او دا مقصد مې ولاکه وي.

د متین په خبره سپین ږیری خندا واخیست چې کله یې خندا کمه شوه، نو ویې ټوخل او ویې ویل:

- متین جانه هسې ټوکه مې درسره وکړه.

درې واړه غلي شول، خو له لږې چوپتیا وروسته سپین ږیري له خپل زوی نه په دې پوښتنه چوپتیا ماته کړه:

- زویه! ته ولې عسکرو ونیوې او څه یې درنه غوښتل؟





امین جان وارخطا شو او متین ته یې مخ واړوه. متین په خوله لاس ورته کېښود چې د سړي نوم او ځای ور ونه ښيي. امین جان د یوې بهانې د پیدا کېدو لپاره لږ غلی شو او د کوټې چت ته یې وکتل، خو د بهانې پیدا کول ورته ګران و، نو په دې ډول یې ځواب ورکړ:

- پلاره! یوه ملګري ته مې د تیلیفون نمبر ورکړی و، نو هغه زما په نمبر غلطې خبرې کړې وې، نو ځکه یې ونیوم.

- هغه یې ولې نه نیوه چې ته بې ګناه یې بوتلې او وهل-ټکول یې در کړل.

- هغه نمبر زما په تذکره باندې ثبت و، ځکه یې زه ونیولم.

- ښه، ښه، نو داسې خبره ده؟

- هو.

- نو ستا د ملګري سره باید په قومي رواج (دود) خبرې وکړو چې ولې دده د لاسه موږ ته تاوان ورسېده.

- داسې یې نه پرېږدو. زه او دا ملګری (متین) ورپسې ځو او پیدا کوو یې.

- زویه! که قومي رواج او نرخ ته نه حاضرېږي، نو بیا د ټوپک په خوله خپل بد اخلو.

متین په خبرو کې ور ولوېده او ویې ویل:

- کاکا چې په ګیر راشي، نو بیا یې قانون ته سپارو، تر څو قانوني سزا ووینې.

سپین ږیري د متین خبرې ته وکتل. بیا یې په زوره خندا وکړه او له متین نه یې وپوښتل:



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



- دا اوس قانون دی چې زما زوی یې په دې حال کړی او ګناهګار روغ ګرځي؟

متین چوپ شو او نور یې له سپین ږیري سره خبره تاو را تاو نه کړه. په دې وخت کې د پیالو شرنګ شو. څو شیبې وروسته یوه وړوکي ډبره د کړکي پر کونج ولګېده. امین جان د ډبرې له کړپ سره پاڅېده او د هغې خوا نه له یوه چاینک او د پیالو له پتنوس سره کوټې ته راننوت.

متین له یوې خوا ویریده چې هسې نه په پیاله کې یې کومه وژونکې بلا ورته اچولې وي او له بلې خوا یې که چای نه څښلی، نو بیا پښتو خرابېدله. دی له ځان سره په دې کش مکش کې و چې په دروازه کې سیرلي وربوز راښکاره کړ. امین جان او پلار یې دواړو لاسونه ورته وښورول. د لاسونو ښورولو سره سم یې د چکیري شه غږ هم پرې وکړ او سیرلي منډه واخیسته. په دې وخت کې متین ته موقع په لاس ورغله او د امین جان د پلار پیاله یې خپلې مخې ته او خپله پیاله یې د هغه مخې ته کېښوده، خو له چای څښلو وروسته د امین جان پر پلار هېڅ ونه شول او متین خپل شک لرې کړ.

څو شیبې وروسته چې کله امین جان له کورنۍ نه روانېده، نو ټولو اوښکې پسې توی کړې. متین چې دا حال ولید، نو خپله مور وریاده شوه. دی چې کله له کوره روانېده، نو په غېږ کې یې ونیو. په یوه او بل مخ یې ښکل کړ. هغه وخت چې له کوره راووت، تر ډېره یې د دروازې په چوله کې پسې کتل. د تیکري پیڅکه یې سترګو ته نیولې وه او اوښکې یې پرې وچولې.





له یو - یو نیم ساعت مزل وروسته لوړه دوه سیټه پیکپه د خوست له هوارې نه ووته او د ځدرانو په غرونو کې یې مزل پیل کړ. په غرونو کې تېره شوې لار د ډنګو ګمرونو پر سر غځېدلې وه. چا به چې لاندې درې ته وکتل، نو له ویرې به یې زړه په درزا شو او خپلې سترګې به یې پټې کړې، تر څو کړنګ ونه ویني، خو د غرونو خلک یې په کیسه کې نه وو، ځکه دوی په همدې غرنۍ سیمه کې زیږېدلي او لوی شوي وو.

متین، ببری او امین جان د پیکپ موټر په باډۍ کې سپاره وو او په سیټ کې یې ښځې وې. د موټر مزه نه وه، له یوې خوا زوړ و او له بلې خوا غرنۍ لارې زړه ترې ایستلی و. له سلنګسر نه یې تور مبلایږ بهېدل او



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



کمنيو يې پر لار چغچغی کاوه. د هر اکسپلتر سره به يې متر دود ايسته او ټايرونه يې هم پر لار سم نه تلل. هغه ځوک چې په باډۍ کې سپاره وو، د ډېرو جمپونو له لاسه يې پر پښتورګو درد و. د زياتو دوړو له لاسه د متين، ببري او امين جان خولو د خاورو خوند کاوه. پر ځېرو يې داسې دوړې پرتې وې چې ته وا، اوه واري دي په خاورو منډلي دي. پر دې سربېره به چې کله په کوم پيچومي کې موټر نه شو ختلی، نو موټروان چې پر سر کړی پاکول يې تر غوږونو راټيټ و، غږ پرې وکړ: هله ښکته شئ او په موټر پسې زور وکړئ. دوی خواران به له مجبورۍ ښکته کېدل او په موټر پسې به يې تر هغو زور کاوه، تر ځو چې به په پيچومي نه و ختلی.

دوړو نه يوازې د دوی ځېرې بدلې کړې وې، بلکې د دوی واسکټونه، پټوان او کالي يې له کتو ايستلي وو. ببري د متين ځېرې ته کتل، له خندا شين شو. دومره په زوره يې وخندل چې د خولې لاړې يې تر ده تېرې شوې. متين ته دده پر خندا غصه ورغله او په قهرجنه لهجه يې ترې وپوښتل: ولې خاندې؟

ببري په داسې حال کې چې خندا يې لا کراره نه وه ځواب ورکړ: ملا صاحب! په رښتيا کې دې يو خروار خاوره ده. متين د ګوتو پر سرونو خپله اچولې ساختګي ږيره له دوړو وڅنډله او ورته ويې ويل: ته خپل شکل نه وينې چې په ما پورې خاندې. امين جان د خبرو په منځ کې ور ټوپ کړ: دده ږيره هم پردۍ ده، نو تاته ولې غصه درځي؟ په دې وخت کې ببري او امين جان په خندا شول. متين دواړو ته په برندو، برندو وکتل او بې له څه ويلو يې په پټو کې سر او مخ پټ کړل.

موټر له کندې ووت او پيچومي ته نيغ شو. د ډېر دود له لاسه شاته لار نه مالومېده. د پيچومي نيمايي ته چې ورسېده، نو زيګروي يې پيل





کړل، خو په همدې زيګرويو، زيګرويو کې پر پيچومي په داسې حال کې وخوت چې په باډۍ کې ببري په خپله اوم... کش وکړه او پورته شه؛ نارې ورسره وهلې.

کله چې موټر پر پيچومي وخوت، نو ببري په لوړ اواز څو لنډۍ وويلې:

خاورې د شنه طوطي پر سر شوې
بلبلې واچول پر تور کارغه لاسونه

د غره پر سردې چيلم ډک کړه
د سرې اور به په پېزوان در خېژومه

متين چې سر يې له دوړو نه په پټو کې پټ کړی و، بوجۍ پرې راوښوييده او لاندې يې کړ. ببري ته يې غږ کړ چې بوجۍ ورنه لرې کړي. ببري او امين جان بوجۍ ترې يوې خواته کړه او متين يې ترې خلاص کړ.

متين له پټو نه سر راوويست او ببري ته يې له قهره په ډکه لهجه وويل:

- نور نو، نه غواړم چې د ماشومتوب کانې وکړې.

- د ماشومتوب کانې مې کله کړي دي؟

- دا اوس چې دې لنډۍ ويلې.

- لنډۍ، خو لوی، لوی سړي وايي، ماشومان خو لنډۍ نه شي ويلی.

د متين مخ له غصې تک سور شو او زياته يې کړه:

- د لنډيو ګوډيه! د هر شي ځای او وخت مالوم وي. ګوره لويې ږيرې مو اچولې دي. که اوس دې ځوک غږ واوري، نو خدای ځ خبر چې څه فکر به وکړي. دې خبرې ته دې هم پام وي چې دغه ټول غرني پښتانه دي. کېدای



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



شي چې ستا د غږ په اورېدو بده ومني او زيان را ورسوي. زه او ته، خو سره بلد يو، خو امين جان ته دې پام وي او د هغه خيال ساته. ببرى په خبرو کې ور وغورځېده:

- قوماندان صاحب! امر دې منم، خو په لنډيو ويلو کې نه. بل امين جان په تندر وهه، ځکه د لارې ملګرې مو دی او پاتې شول نور خلک؛ پر هغوی خپل غږ نه اورم، نور څه وايې؟

امين جان هم د ببري خبره تاييد کړه او ويې ويل:

- دا اوږد سفر دی. په دې نه پوهېږو چې کله به بېرته څو. روغ به څو او که په همدې درو کې به وژل کېږو، نو ښه داده چې خپل هدف ته په خوشالۍ سره ځانونه ورسوو. يو او بل مرور نه کړو.

دوی درې واړه لا په دې خبرو اخته وو چې موټر بريک ووهه او ودرېده. موټروان راښکته شو. پکول يې له سترګو پورته کړ او درې واړو ته يې غږ کړ: په دې هوټل کې به مړۍ (ډوډۍ) وخورو او بيا به لاړ شو.

متين، ببرى او امين جان هم له موټره راښکته شول. پښې يې شخې وې. ځانونه يې سره کش کړل. کالي يې له دوړو نه وڅنډل او هوټل ته ور روان شول.

د هوټل مخې ته د اوبو خاورين ماټ ليدل کېده. پر سر يې له يوه ټيمي کوټي نه جوړ شوی ګيلاس ايښې و او د سرک پرېمانه دوړې پرې ښکارېدې. هوټل د يوه لوی کرڼګ پر غاړه اباد و. کاره واړه ديوالونه يې له ډبرو جوړ و. دروازه يې له څو کړو درو نه رغول شوې وه چې پر يوه لوري ځنګځنه ښکارېده او د کړکۍ چوکاټ ته يې د ښيښو پر ځای پلاستيک ورټک وهل شوی و، تر څو هوټل ته د زياتو دوړو د داخلېدو مخه ونيسي.





کله چې متين، ببرى او امين جان هوټل ته دننه شول، نو د ننه يوازې هوټل نه و، بلکې پرچون سامان، تېوکران، پلاستيکي بوټونه، چپلې او ... د اړتيا هر څه په کې موجود و. ببرې د متين په غوږ کې غلي وويل:

- ياره تر اوسه مې په سعودي کې هم دومره ښه او عصري هوټل نه و ليدلی.

- دا خوله دې لږ بنده کړه.

ببرې د متين له غوږ نه خوله رادېخوا کړه او د هوټل چت ته يې وکتل. د هوټل په چت کې د تيرانو پر ځای د څېړيو کاړه واړه لرګي کارول شوي وو. د زياتو لوګيو له امله تک تور او اوږده تارونه پرې ځړېدل.

متين، ببرى او امين جان بوټونه او څپلۍ ووېستل او درې واړه له مزرې نه پر جوړ پوزې د يوه خيرن دسترخوان تر څنګ کېناستل. د هوټل خاوند چې لوړ قد، پلنې اوږې، غټ اندامونه او اوږده ږيره يې لرله؛ د دوی مخې ته ودرېده او ترې ويې پوښتل:

- تاسو ته څه راوړم.

متين ورته وويل:

- څه لرې؟

- د ميو وريجې او قورمه شته.

- د ميو وريجو کې څه شی راته اچوې؟

- که د غوا غوړي په کې غواړئ، هغه هم شته، خو مصرف دربانديې راځي.

- په ډېر مصرف کې مو مه راولئ. ځکه موږ مجاهدين يو. ته ورشه موږ دريو ته يو کنډول راجوړ کړه او د غوا غوړي هم په کې وکه.

د متين د مجاهد په خبره د هوټلي تندی تريو شو او په تک کې يې له ځان سره وويل: "هر څوک چې دلته راځي، نو پر موږ يې وس برېږي او هر



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



څه یې چې زړه غواړي هغه راباندې کوي. "

هوټلي څو شیبې وروسته د دوی مخې ته د میو وریجو کنډول کېښود. هغه بل کونج کې یو بل کس غږ وکړ: و هوټلي! یوه بي بي سي درسره راوړه. متین او ملګري یې پوه شول چې سړی پیپسي ته بي بي سي وایي. هوټلي پیپسي ورته رواخیسته او له ورو ډکه یې د سړي مخې ته کېښوده.

ببري د ډوډۍ پر سر له ځان سره وخندل. متین ورته وپوښتل چې ولې خاندې؟

- له ډوډۍ وروسته یې درته وایم.

امین جان په خندا وویل:

- بیا دې څه شي ته خیال شو چې له خندا نه شین تللی یې؟

ببري له وریجو جوړه کړې ګوله په غوړیو کې غوپه کړه او بیا یې پر دواړو غمبورو شخوند وهل پیل کړل. متین هوټلي ته غږ کړ:

- وروره د ښنبلو اوبه راوړه.

هوټلي د څو زاړو او چیټو چینکونو په لاستیو کې ګوتې ننویستې او ځواب یې ورکړ:

- اوبه د باندې په ماټ کې اېښې دي.

ببري په وریجو ککړ لاسونه یو تر بله سره وسولول. پاڅېده او له ماټ نه یې په همغه خیرن او دوړو ککړ ټیمي ګیلاس کې اوبه راوړې او متین ته یې ورکړې.

متین چې ډېر تږی و، نو ګلاس یې پورته کړ. له هر غړپ تېرېدو سره یې غړکا ختله او د ستوني غټ هډوکی یې ورسره ښکته پورته کېده.





امین جان هم له کنډول نه راپه شا شو او له ځان سره یې غلي وویل:
شکر خدایه ج چې په خېټه دې ماړه کړو.

ببري دوی دواړه په شوخ نظر وکتل او ترې ویې پوښتل:

- ډوډۍ مو وخوړه؟

متین ځواب ورکړ:

- هو! ومو خوړه. بیا دې څه لیدلي چې دومره زر، زر د ډوډۍ د خوړلو پوښتنې کوې؟

- د هوټل توفدانیو ته ګورئ. تر اوسه مو په لندن کې دومره عصري توفدانۍ لیدلې وې؟

متین او امین جان چې توفدانیو ته وکتل، نو له خندا نه یې بډوډي نیولي وو، ځکه هوټلي د کلاشینکوف د مرمیو کوټې پرې کړې و. په هغه کې یې بیا خاوره اچولې وه او پر خاوره د پاسه بې شمېره د نسوارو غونډارې لیدل کېدې.

متین، ببري او امین جان درې واړه لا په هوټل کې وو، چې څو وسله وال کسان راغلل. وسله والو ببر سرونه او لویې ږیرې درلودې. د ټوپکو بندونه یې پر مشکیزو ښایسته جوړ شوي وو او په کمربندونو کې یې لاسي بمونه، د کلاشینکوف شاجورې او خنجر تومبلي وو. وسله وال چې ځنګه هوټل ته راننوتل، نو ځینو یې پر دوی وسلې ونیولې چې ونه ښوربېږي او څو نورو وسله والو هغه کس د ټوپک تر کونداغونو لاندې ونیو چې لږ مخکې یې پیپسي ته بي بي سي ویل. دا سړی یې ددې لپاره وواهه چې ولې یې د حجرې دروازه یې کلپ کړې وه او د خپل موټر له سویچ نه یې کیلي ایستلې وه.



https://lmandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



په هغه سیمو کې چې د حکومت په کنترول کې نه وې، وسله والو د سیمې خلکو ته خبرداری ورکړی و چې د حجرو دروازې به خلاصې پرېږدي او څوک چې موټر لري، هغوی به کیلي ګانې د موټرو له سویچونو نه، نه لرې کوي. دا کار دوی، ځکه کاوه چې کله به له کمینونو نه د شپې لخوا پر کومه سیمه راغلل، نو د حجرو دروازې به خلاصې وې او دوی به شپې په کې تېرولې. پر دې سر بېره به یې د کور خاوند په نیمه شپه کې راپاڅاوه او په زوره به یې ډوډۍ ترې غوښتله. بل غرنی ځلک چې په کورونو کې د موټر درولو ځایونه، نه لري، نو معمولاً یې له کور نه د باندې دروي. په هر موټر کې به کیلي موجوده وه. کله به چې موټر د وسله والو په کار شو، نو له ځان سره به یې روان کړ. په شپو، شپو یې خپل اکمالات پرې کول او تر هغو به چا پوښتنه ترې نه شوه کولای، تر څو به یې چې په خپله خوښه نه و راوستی.

ببري چې له مظلوم کس سره د وسله والو دغه بد چلند ولید، نو حملې ته یې ځان برابر کړ. په ځای کې وښورېده، خو متین د شا له لمنې ونیو او دې ته یې پرېښښود چې څه ووایي. وسله والو چې کله سړی ښه خمبیره کړ، وروسته یې په برګو سترګو په هوټل کې ناست کسان تر نظر تېر کړل چې کوم څوک به عکس العمل نه ښکاره کوي، خو ویې لیدل چې ټول پر خپلو ځایونو دي او پر دوی کار نه لري.

ددغه وحشي حالت پر لیدو متین لږ وارخطایي محسوس کړه. د ویرې له امله یې زړه په ټوپونو شو، خو زر د جنرال خبره ور یاده شوه چې ویلې یې وو: " ته به په دې ماموریت کې له ډېرو ستونزو سره مخامخ شې او تا به دغه ستونزې د هغې ختې په څېر پوخ کړي چې کلال منګي په کې





جوړوي. " د جنرال په خبره متین لږ څه ډاډمن شو او زر یې خپله وارخطایي له ملګرو نه پټه کړه.

کله چې وسله وال له هوټل نه ووتل، نو امین جان متین ته خوله ور نږدې کړه او په پسپسي کې یې ورته وویل:

- هغه سړی چې موږ ټولو ته یې په برندو، برندو وکتل، له جبار سره مې لیدلی و.

متین د امین جان په خبره لږ حیران شو او په همدې حیرانۍ کې یې ترې وپوښتل:

- ته ډاډه یې؟

- هو! زه یې ښه پېژنم.

متین ببري ته مخ ور واړوه او ویې ویل:

- په هره بیه چې کېږي، دا سړی باید تر هغې وڅارو، تر څو چې مو جبار ته ورسوي.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



د پوليسو ځوان آمر چې اوس يې لويه ساختګي رېره اچولي وه. يو سراچه موټر د هوټل مخې ته ودراوه. ببرى او امين جان په بيړه ور وختل.
موټر حرکت وکړ، ببري له متين نه پوښتنه وکړه:
- دا موټر دې له کومه کړ؟
متين قابنامه ( د موټر په سيټ کې پاس وړوکي هنداره ) سمه کړه. دده څېرې ته يې وکتل او بيا يې ځواب ورکړ:
- دا هغه موټر دى چې ددې سيمې خلک يې د وسله والو له ويرې کيلي په سويچ کې پرېږدي.
متين د موټر پر اکسليټر پښه ټينګه کړه. موټر ګړندى شو او د سرعت ( چټکتيا ) ستن يې مخ پورته روانه شوه. لاره خرابه وه. جمپونه ډېر وو،





خو سراچه موټر په کې له نورو ګړندى روان و. متين ډېر ګرځني ( ګولايي ) او غاښي شا ته پرېښودل، غوښتل يې تر څو د هغو کسانو په موټر پسې ورسيږي چې په هوټل کې يې سرى وډباوه.
له اوږده مزل وروسته ببري په يوه لرې ګرځني کې دوړه وليده چې پورته شوه. متين ته يې وويل:
- هاغه وړاندې دوړې پورته کېږي، کېداى شي چې د دوى موټر وي.
متين يوازې سر وښوراوه. په اکسليټر پسې يې پښه تکيه کړه او موټر په تېز مزل کې د جمپونو له لاسه ځان پر ځمکه، ځمکه واهه.
ببر سري وسله وال چې په دې نورو کې د مقام سړى ښکارېده، په هنداره کې شاته موټر وليد چې ورپسې دى. له ځان سره يې فکر وکړ چې کېداى شي د سپرلۍ ( سوارۍ ) موټر وي، ځکه يې په لومړي ځل توجه ورته ونه کړه. له ښه مزل وروسته يې چې بيا هنداره کې وکتل، نو موټر همداسې نږدې ورپسې دى او دوى تعقيبوي.
د ببر سري سړي شونډې چې په برېتونو کې پټې وې، وخوځېدې او خپلو کسانو ته يې وويل:
- دا شاته موټر له ډېر لرې ځايه راپسې دى او موږ ګوري ( تعقيبوي ).
په موټر کې سپرو کسانو ټولو شاته وکتل او له دوى نه يوه يې نظر ورکړ:
- قوماندان صاحب! شکلونه، خو يې زموږ غوندې دي.
قوماندان په غصه شو او په چيغو يې وويل:
- اخمقانو موټر ودروئ او ويې ګورئ چې څوک دي؟
موټر بريک وواهه. دوړې يې پورته شوې او د سترګو په رپ کې وسله وال ترې ښکته شول.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



متين هم موټر وداروه او ببري ته يې وويل چې ما کوم عکس العمل نه وي ښودلی تر هغو به ډزې نه کوې.

متين او ملګري يې هم له موټره ښکته شول، خو وسله والو غږ پرې وکړ چې وړاندې رانه شئ. دوی ځای پر ځای ودرېدل او متين ور غږ کړ چې خبرې کولی شو او کنه؟

د وسله والو قوماندان ترې وپوښتل چې تاسو څوک يئ او چا دله ياست؟

متين غاړه تازه کړه او ځواب يې ورکړ:

- مجاهدين يو.

قوماندان څو قدمه ورته رالنډ شو، خو په دې ځای کې يې د متين توپانچه وليده چې ورسره ده. قوماندان ته شک پيدا شو چې دا بل څوک دي، ځکه په دې سيمه کې ټول وسله وال پيکا او کلاشينکوف وسلې ګرځوي، نو خپلو کسانو ته يې امر وکړ چې دا جاسوسان دي او ژوندي يې ونيسئ. وسله وال چې له خپلو ځايونو نه ښورېدل، متين د يوه پر سينه د توپانچې مرمۍ وويسته او سړی پر ځمکه ولوېده. ببري هم ځان وغورځاوه او ډزې يې پيل کړې.

د وسله والو له لوري هم پر دوی باندې د ډزو باران جوړ شو. متين سنګر نيولی و او يو، يو يې په نښه کاوه. ببری هم د غټې تيږې تر څنګ پروت و او ټولې مرمۍ يې په نښه وويشتې. جګړه اوږده نه شوه. وسله وال څوک ووژل شول او چا يوازې خولې وازولې. د وسله والو قوماندان چې دا حال وليد، نو منډې ته يې ځان جوړ کړ خو د متين له لوري پرې ډزې وشوې او ټپي يې کړ. متين ور منډې کړې. ببري ټول وسله وال وکتل تر څو ژوندي پاتې نه وي او زيان ورته ونه رسوي.





متين چې کله د وسله والو قوماندان ته ورغی، نو هغه پروت و. اوږده وينښتان يې په خاورو سپېره وو او خوله يې هم له خاورو او وينو ډکه وه. متين لومړی هغه تلاشي کړ چې هسې نه چاودېدونکي توکي ورسره وي او وروسته يې ترې وپوښتل:

- جبار چېرته دی؟

د وسله والو قوماندان زګيروی وکړ. خوله يې سره جينګه کړه او ځواب يې ورکړ:

- ما نه دی ليدلی.

متين يو کلک سوک په دې خوله ورکړ. بيا يې توپانچه ورته پر سر کېښوده او ويې ويل:

- که دا ځل ځواب رانه کړې نو ستا مړی به همدلته د غره ليوان وخوري، وو ايه! جبار چېرته دی؟

ټپي قوماندان په وينو لړلي لاس ته وکتل. بيا يې په لستوڼي خوله پاکه کړه. تر يوې اوږدې شيبې غلی و او هېڅ ځواب يې ورنه کړ.

دا ځل متين په توپانچه په دې سر وواهه او زياته يې کړه:

- که زما پوښتنې ته ځواب رانه کړې، نو په موټر پسې دې تړم او پر ځمکه دې کشوم.

قوماندان پوه شو چې په هر ډول وي، نو مالومات رانه اخلي، ځکه يې په ټيټ اواز وويل:

- که ته زما ژوند ژغورې نو کېدای شي چې زه هم مرسته درسره وکړم.

- جبار چېرته دی؟

قوماندان خپل ځان شاته کش کړ. په ډبره يې سر کېښود او ځواب يې ورکړ:



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



- جبار د ( سره کوښښ ) په سیمه کې چې له وزیرستان سره لږېدلې ده، اوسیږي. هغه ځای ته ستا ورتګ ګران دی، ځکه جبار ډېر مجاهدین لري او بیا هغه سیمې ته هېڅوک نه پرېښودل کېږي. حتی هغه څوک هم نه پرېږدي چې هلته د زنځوځیو (چلغوزیو ) ونې، ځنګلونه یا کورونه لري...

متین د قوماندان خبرې پرې کړې او وې پوښتل:

- مشران یې څوک دي؟

- ډېر داسې څوک ورته راځي چې نه په پښتو پوهېږي او نه په پارسي. تکې توري خبرې یې دي.

- نور په څه پوهېږې؟

- نور په داسې څه نه پوهېږم.

- د چا د وژلو امر یې درکړی او د څه شي مسوول یې؟

قوماندان غلی شو. متین څو ځلې پوښتنه تکرار کړه خو هغه ځواب نه ورکاوه. متین دوه ډزې پر پښو وویشت او قوماندان خوله اسمان ته پورته کړه. له درده په ډکو چیغو یې وویل:

- د خدای لپاره درته وایم یې.

- که ونه وایې، نو دا ځل دې وژنم.

قوماندان چې دا ځل یې اواز بیخي ټیټ و، وویل:

- موږ ته یې د قومي او مخورو مشرانو د وژنې مسوولیت راکړی.

- د ځدراڼو پنځه ویشت مشران مو چې پر یو ځای ووژل، هغه تاسو یاست؟

قوماندان یوازې سر وښوراوه.

- دا بې وزله او غریب ځوانان ولې وژنئ؟

قوماندان دا ځل یوازې سترګې ور واړولې او حالت یې خراب شو،





ځکه وینه ډېره ترې بهیدلې وه. متین چې دده رنګ او حالت ته وکتل، نو په ببري پسې یې غږ کړ:

- ببریه زر راشه چې سړی مو له لاسه ځي، خو ببری چې ورته رارسیده، قوماندان دا نړۍ پرېښوده او سترګې یې پټې کړې.

متین له قوماندان نه پورته شو او ببري ته یې وویل:

- امین جان ته غږ کړه چې له دې ځایه زر ووځو.

ببري په امین جان پسې څو غږونه وکړل، خو د امین جان ځرک نه و. متین او ببری دواړه د امین جان د پیدا کولو لپاره د پېښې په ځای کې په منډو شول او امین جانه، امین جانه ناري یې هم وهلې، خو هغه ځینې ورک شو. د موټرو شاوخوا، د ډبرو ځنګونه، د څېړیو نږدې ونې او نور ځایونه یې پسې ولټول، خو پیدا یې نه کړ. متین اندېښمن شو او د سر په وینښتانو کې یې ګوتې تېرې کړې، فکر یې وکړ چې ترې وتښتېده. په همدې اندېښنه کې متین د کرنګ غاړې ته ورغی. هسې یې لاندې وکتل. سترګې یې پر امین جان ولګېدې چې د کرنګ په نیمایي کې په ولاړه ډبرې کې بند و او لاسونه یې ښکته ځړېدل.

متین په بېړه د وسله والو له پیکپ موټر نه اوږد پړی راواخیست. د پړي یو سر یې په سراچه موټر پسې غوټه کړ او بل یې له خپلې ملا نه تاو کړ، تر څو په امین جان پسې لاندې کوز شي. ببري وویل چې امین جان هسې هم ژوندی نه دی پاتې. همدلته به یې پرېږدو. داسې نه چې نوري ستونزې رامنځته شي او پر تا څه ونه شي، خو متین یې خبره ورپرې کړه. وې ویل: زه دا منم چې په دې ډول ماموریت کې باید دې شیانو ته پام ونه شي خو بیا هم دلته له یوې خوا پښتو ده او بل که ژوندی و، نو له موږ سره په دې ماموریت کې زیاته مرسته کولی شي. متین د کرنګ پر لوري روان شو او



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



ببري غر پسي وكړ:

- كه وژل شوى وي، نو بيا يې هلته پرېږده.

- كه ژوندى نه وي، بيا يې هم راخيژوو او په يوه مناسب ځاى كې به يې ښخ كړو.

له دې خبرې سره متين په كوزېدو پيل وكړ. هغه څه چې ده ته يې د پوليسو په اكاډمۍ كې ښودلي وو، نن يې عملي كول. كه څه هم د متين لاسونه د پړي په مقابل كې نازك وو او سوي يې ګاوه، خو په كړنګ كې يې پښو ته مناسب ځايونه پيدا كول او ډېر زور يې پر پښو راوست.

متين په ډېر اختياط روان و، تر څو پړى له پاسه نه ډېرې پرې راخطا نه كړي او پر سر يې ونه لګيږي. دغه شيبه د يوه غټ مارغه په ځاله ور برابر شو. مارغه خپل غټ وزرونه وښورول او پر متين يې حمله وكړه. له ډېرې ويرې د متين له خولې ويرونكې چيغه ووته. دده سوي چيغې په كړنګونو كې انګازې وكړې او تر لرې پورې يې انګازې همداسې رواني وې. متين د مارغه له ځالې نه په بيړه تېر شو. ښه و مارغه بېرته خپلې ځالې ته ننوت.

ببري چې د متين چيغه واورېده. ډېر وارخطا شو، له پاسه يې پرې راغږ كړ:

- متينه! ته ښه يې؟

- هو! ښه يم. مارغه وويرولم.

ددې خبرې په اورېدو د ببري د زړه درزا كراره شوه، خو د متين زړه همداسې ويرې اخيستى و.

متين په يوه وحشتناك كړنګ كې تر ستونزمن مزل وروسته د ښېرۍ هغې ونې ته ورسېده چې د كړنګ په منځ كې ولاړه وه او امين جان په





كې بند و.

متين لاندې وكتل. ټوله منظره له وحشت او ويرې نه ډكه وه. د كړنګ په منځ كې له ولاړې ښېرۍ نه تر ځمكې پورې فاصله په لسګونو متره وه. متين كه څه هم ډېر زړور و، خو په دې ځاى كې يې زړه ټوپونه وهل، ځكه لوى خطر ته يې ځان وركړى و او دا هم په زړه كې ور وګرځېدل چې كاشكې د ببري خبره يې منلې واى، خو اوس پښېماني كول د هغو اوبو راګرځول و چې له ورخه تېرې وي.

د پوليسو آمر چې اوس په خپله د مرګ او ژوند تر منځ و، لاس يې د امين جان د غاړې پر رګونو كېښود. د هغه نبض يې وكوت، خو امين جان نور په دې دنيا كې نه و. متين ته يې كورنۍ ورياده شوه. د هغه پلار يې سترګو ته ودرېده. د دوى بې وزلۍ يې په زړه لا ژور اغېز وكړ او دې حالت مجبور كړ چې له سترګو يې اوښكې توى شي. له ځان سره يې وويل:

متينه دا خو يې سر دى. ته صبر چې نور به له څومره قتلونو، وژنو او ستونزو سره مخامخ شې؟

امين جان د وسله والو په لومړيو ډزو كې پر سينه لګېدلى او له هغې وروسته بيا له كړنګ نه لاندې خطا شوى و.

متين غوښتل چې لومړى امين جان وتړي، وروسته په خپله وخېږي، بيا به له ببري سره يو ځاى پړى كش كړي او امين جان به وخېږوي. د پوليسو آمر له ملا نه ددې لپاره پړى خلاص كړ، تر څو د امين جان جسد وتړي، خو ده لا د امين جان جسد نه و تړلى چې د كړنګ په منځ كې پر ولاړه ښېرۍ چې ريښې يې ورستې وې، د دوى دواړو وزن ډېر شو. د ښېرۍ ريښې له زوره ولوېدې او ښكته پسې خطا شوه. كه څه هم متين



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



پړی کلک ونیوه خو کالي یې د څېړی په ببرو څانګو کې بند شول او له ځان سره یې له کړنګ نه خطا کړ.

کله چې متین له کړنګ نه خطا شو، نو ببري ځو سوي چیغې پسې وکړې چې مړ یې او که ژوندی؟ خو د متین له لوري ځواب نه ورکول کېده. ببري خوله اسمان ته ونیوه او دعا یې وکړه: یا ربه ته مو مددګار شې. د ببري رنګ ژیړ تښتېدلی و. وارخطا و او په ویره یې د غرو سرونه کتل. له هرې ونې، بوټي، ډبرې او شیلې نه په ویره کې و. ځان یوازې ورته ښکارېده. نور یې له متین نه لاسونه ووینځل او داسې ورته ښکارېده چې نور له ده سره نشته.

ببری نه پوهېده چې اوس په متین پسې کوز شي او کنه؟ خو له ډېر فکر کولو وروسته یې له ځان سره وویل: د ملګرتیا حق پر ځای کړه. همداسې یې مه پرېږده. پسې کوز شه. د متین مړی پیدا او ښخ یې کړه. خپلې سترګې یې د لاسونو په ورغویو داسې وموښلې ته وا اوس له خوبه راویښ شو. پر ټوپکونو یې سترګې ولګېدې. په بیړه پرې ورټیټ شو. دوه ټوپک چې د وژل شوو وسله والو وو، رواخیستل او اوږې ته یې ددې لپاره واچول، تر څو د احتمالي ګواښونو او خطرونو چې هره شیبه یې د پېښېدو ویره وه؛ مخنیوی وکړي.

ببری په داسې حال کې چې شاوخوا یې لوړې، ژورې څارلې، د غره په ډډه کې پر هغه نری لاره درې ته کوزېده چې وړاندې د وزو رمو جوړه کړې وه، خو اوس په دې سیمه کې کوم څاروي یا شپانه، نه لیدل کېدل، ځکه دا سیمه له پاکستان نه راوښتو وسله والو ګواښله او د سیمې خلک له ویرې هلته نه شول تللی.





دا لاره هم دومره اسانه، نه وه. ببري به چې هر ګام اخیست، نو له پښو نه به یې ډبرې رغړېدې او لاندې به په دره کې لګېدې. په ځینو ځایونو کې به ببري د کوزېدو په وخت کې لاسونه لګول او په ډېرو ستونزو باندې کوزېده. له ښه ځنډ وروسته درې ته کوز شو او د کړنګ په لوري ور روان شو، تر څو له کړنګ نه لوېدلی متین پیدا کړي. د کړنګ بېخ ته ورسېده. متینه وه متینه... ځو غږونه یې وکړل، خو متین غږ نه کاوه. بېخي یقیني شو چې متین نور په دې دنیا کې نه شته.

ببری نا امیده و، خو بیا یې هم په متین پسې هاخوا او دېخوا کتل. د څېړی ازغنه ونه یې ولیده چې هلته لرې پرته ده. منډه یې ور واخیسته. پر هغو زړو اوبو ور ګډ شو چې له چینې نه رابهېدې. څېړی ته په رسېدو یې پر متین سترګې ولګېدې چې په وینو سور لړلی پروت و. ورنږدې شو. د متین ښایسته او ښکلې څېره داسې ورته ښکاره شوه، ته وا خاورې پرې ورېږي. زړه یې راډک شو. ځو سوي چیغې یې وکړې. دده چیغو په کړنګونو او غرونو کې انګازې وکړې. ښه ډېر یې وژړل او په دې ډول یې زړه یخ کړ.

یو ځل ببري ته ناڅاپه وریاده شوه چې ته خو یې یو ځلې نبض وګوره، کېدای شي چې متین ژوندی وي. اوښکې یې پاکې کړې. پزه یې کش کړه او د لاس څټ یې د متین د غاړې پر رګونو کېښود. د پولیسو آمر ژوندی ورته ښکاره شو، له هغه لومړنیو طبي مرستو نه چې ده ته یې د پولیسو په روزنځای کې ښودلې وې؛ کار واخیست. اول یې د هغه ورمېږ وکوت چې هسې نه مات وي او د ناروغ د اکسیجن لار یې بنده کړې وي، خو ورمېږ یې روغ و. بیا یې د متین خوله خلاصه کړه چې هسې نه غاښونه یې مات او مری ته ورغلي وي، خو غاښونه یې هم جوړ وو. ببري چې کله دا کار سر



https://lmomandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



ته ورساوه، نو ورسره دسمال یې د هغه پر خوله کېښود او پوکی یې په کې وکړ، تر څو ناروغ اکسیجن پوره کړي.

کله چې ببرۍ د اکسیجن له برخې نه ډاډمن شو. له هغه وروسته یې د متین لاسونه او پښې وکتل چې کوم ځای یې مات دی. بالاخره یې ولیده چې یو لاس یې دوه ځایه مات دی. ببرۍ اول د لاس تړل پرېښودل، ځکه د متین له ټپونو نه وینه بهېدله. لومړی یې د امین جان کمیس څیرې کړ او بیا یې د متین هغه ټپونه پرې وتړل چې ډېره وینه یې ضایع کوله.

ببرۍ چې د ټپونو له تړلو وزګار شو، نو څو سیده لرګي یې پیدا کړل. د متین مات لاس یې سره سم کړ. متین د هډوکو شدید درد محسوس کړ. چیغه یې کړه او بېرته بې هوښه پرېوت. ببرۍ له مات لاس سره لرګي یوه او بل څنګ ته کېښودل او بیا یې د هغه بنداژ په واسطه وتاړه چې د امین جان له کمیس نه یې جوړ کړی و.

ببرۍ ته د متین حالت ښه ولیدل شو. په لاسونو یې پستې شګې یوې او بلې خواته کړې. د قبر په شان ځای یې په کې جوړ کړ. د امین جان زنې یې پر یوه ټوټه وتړله. په ایستلې کنده کې یې کېښود. مخ یې قبلې ته کړ او شګې یې پرې واړولې. د ښښنې دعا یې ورته وکړه: خدای ج دې رحم درباندې وکړي. په دې وخت کې له کړنګ نه وړه ډبره راخطا شوه. د ببرۍ په څنګ کې ولګېده. ببرۍ یې وډار کړ. په بېړه یې ټوپک رواخیست. د کړنګ سر ته یې وکتل، خو هغه مارغه یې تر سترګو شو چې متین یې ویرولی و.

ببرۍ تندې اخیستی و. لاړ، پر یخه چینه یې اوبه وڅښلې. له هغې وروسته راغی. دواړه ټوپک یې غاړې ته واچول. بیا یې متین په شا کړ، تر څو یې یوه خوندي ځای ته ورسوي. ببرۍ مخامخ د هغه غره په لوري





روان شو چې ختل پرې اسان و، خو په دې نه پوهېده چې دې خوا ته کلي شته او کنه؛ که ځان د دښمن خولې ته ورکوي.

ببرۍ له یوې خوا متین، دوه ټوپک او له شاجورونو ډک کمربند اخیستي وو. بل لور ته د دښمن ویره ورپسې وه او دریم د غره سخته لاره وه چې ده باید مزل پرې کړی وای. ببرۍ هڅه کوله چې ستړیا وزغمي او له دې ځای نه متین خوندي سیمې ته ورسوي، تر څو یې درملنه وکړي او ښه شي.

له ستړي مزل وروسته ببرۍ د غره سر ته پورته شو. ډېر ستړی و او وېې غوښتل چې دلته ځان هوسا کړي. متین یې د یوه زنغوځي ونې ته کرار کوز کړ. ورته ویې کتل. همداسې بې هوښه و. ببرۍ چې په خولو کې لوند خیشت و، نرې باد ته یې ځیګر مخامخ کړ او د ګرېوان تڼۍ یې پرانیستې، تر څو یې خولې وچې شي. ښه شیبه یې ځان هوسا کړ او وروسته پاڅېده. له واسکټ نه یې وړوکی دوربین رواخیست. د غره له سره یې ددې لپاره شاوخوا وکتل، که کومه ابادي په نظر ورشي، خو یوازې د غرونو کړی، د ګورګورو او زنغوځیو له ځنګلونو او بیزوګانو پرته نور څه نه ښکارېدل، نو دا لنډۍ وریاده شوه:

د غره له سره لارې څارم
نه یار مالوم شو نه یې اورم اوازونه

ددې لنډۍ په وریادېدو سره د متین خبره ور په زړه شوه چې ورته ویلي یې وو: " هلکه داد ماشومتوب کالې نور مه کوه " ده د متین په خبره کې سترګې ګنډلي وې. نږدې ملګری یې په بد حال و. په دې غرنۍ



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



سیمه کې یې ټولو غمونو، ستونزو او کړاوونو ته ځان یوازې احساس کړ. پر دغه حالت یې زړه راډک شو. سترګې یې نمجنې شوې، خو زر یې ځان سره سم کړ او غلي شان یې وویل چې دا ځای د فریاد نه، بلکې د تورې دی او ځان وباسه.

ببری د ټوپکو رااخیستو ته ورتېت شو چې په همدغه شیبه پرې پرله پسې ډزې وشوې او دوړې یې د ببري له لاسونو سره نږدې پورته شوې. ده ځان وغورځاوه. بیلوټ (ګېټ) یې کش کړ. مرمۍ یې تېره کړه. د ډبرو او ونو بیخونه یې وکتل چې له کوم ځایه ډزې پرې وشوې. سرې یې ولید چې ببرې څنې د ډبرې تر څنګ پروت و او پر ببري یې ویرونکې غږ وکړ: ټوپک وغورځوه او تسلیم شه، بله لاره نه لرې.

ببري ورته وویل: زه هم ستا په څېر مجاهد یم. راځه چې خبرې وکړو، خو هغه بیا هم د وسلې غورځولو ټینګار وکړ: ټوپک وغورځوه. کنه اول دې زخمي ملګری ولم.

د وسله وال په دې خبره ببري ټکان خوړ. ټوپک یې کېښود، خو په زړه کې ویرېده چې که په لاس ورشي، نو بې له وژلو یې نه پرېږدي. ببر څنې سړي له تیږې پښه رواړوله. د ټوپک شپېلۍ یې مخامخ ببري ته نیولې او ور روان و. څو ګامه چې ورنږدې شو، د سړي پښه د نښترو په لوخو کې ونښوېده او پر ځمکه ولوېده. ببري له موقع نه ګټه واخیسته. د سترګو په رپ کې یې ټوپک ته لاس کړ. سړي یې څو ډزه وویشت او ځای پر ځای یې وواژه. شاوخوا یې وکتل. که ګوري چې یو بل کس هم وسله په لاس او دده پر خوا منډې وهي. ننبه یې پرې راوړه. پر ماشه یې ګوته ټینګه کړه. څو پرله پسې ډزې یې وکړې. سړی د غره په ډډه کې لاندې ور غړېده. ببري د زنغونځې ډډې ته سنګر ونیو. تر ډېره هلته انتظار و چې نور څوک شته او





کنه، خو څوک ښکاره نه شول. ګوته پر ماشه پاڅېده. نږدې سیمه یې تر نظر تېره کړه. وروسته یې دوربین رواخیست او هر ځای یې وکوت، خو نور وسله وال یې ونه لیدل.

د ببري ځان ته فکر شو. زړه یې په ټوپونو و. خوله یې وچه او بدن یې رپېده. هغه پرله پسې پېښنو ویرولی و. لاسونه یې هم لړزېدل. په همدې حال کې یې متین پر شا کړ او مزل یې پیل کړ، خو دا ځل له مخکې نه ورته ډېر هره تیږه، ونه او بوټی بلا شوي وو. اختیاط یې ډېر کاوه او دا ځل یې د ځان هوسا کول هم په اسانه، نه غوښتل.

ببري چې په ننبه کړي کنډو ته ځان رساوه، نو لمر هم رخصت اخیسته. کرار، کرار یې د وړانګو لمنې ورټولولې او د غرونو له سرونو نه یې ځان پنا کاوه. په ځنګل کې د مرغیو او نورو حیواناتو اوازونه ډېرېدل او د شپې په راتلو سره د ببري ویره، څو برابره کېده چې هسې نه د ځنګل ځناور یې وخوري او یا له کوم بل څه سره مخامخ شي.

کنډو ته په رسېدو د ماښام خړه پرې رادې بره شوه. ببری ودرېده. شا ته یې د هغه غره سر ته وکتل چې ترې را روان شوی و. په لنډ وخت کې یې ډېره لار لنډه کړې وه، خو چې کله یې له کنډو نه مخامخ وکتل، نو دوه خېمې په نظر ورغلې چې د غرونو په منځ کې په یوه کوچنۍ هواره کې ولاړې وې. له جیب نه یې دوربین راوویست او د خېمو پر لور یې واچوه. ویې لیدل چې په کټ یې یو سپین ږیری ناست دی. د خېمو تر څنګ څو اوزې (بزې) تړلې دي. د سپین ږیري مخې ته یو مرغومی په ټوپونو دی او پورته، پورته غورځي. یوې ښځې پر تیږو باندې ټبۍ ایښې او ډوډۍ پخوي.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



ببري چې د ورتلو ځای پیدا کړ، ډېر خوشال شو، خو په دې نه پوهېده چې دا عام خلک دي او که دښمنان؟ ژوره ساه یې واخیسته او شکر یې وویست چې یو څوک یې پیدا کړل.





د سپین ږیري درانه غږ: که خدای کول ودریږه، څوک یې ؟ ببری ځای پر ځای ودراوه او له هغه وروسته یې په ټیټ غږ ځواب ورکړ:

- موږ طالبان یو. په جګړه کې مې اندیوال زخمي شو، نو د طیارو د بمبار له ډاره مو لار غلطه کړه او دې خواته راغلو.

سپین ږیري د ټوپک شپېلۍ ټیټه کړه او ترې ویې پوښتل:

- که خدای کول، له مانه څه غواړې؟ ( " که خدای کول " د سپین ږیري تکیه کلام و. )

- ملګری مې مړ کېږي، مرسته راسره وکړه.

سپین ږیری خېمې ته ننوت. پر کټ یې له مزرو نه جوړ پوزی سم کړ او ببري ته یې غږ وکړ چې مریض دې راوړه.

ببري متین خېمې ته ور ننوویست او پر کټ یې څملاوه. سپین ږیري د واسکټ له جیب نه چې ډېر جیبونه یې لرل، لاسي څراغ راوویست او ویې



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



لګاوه. د متین خېره یې وکتله. د سترګو ډډې (سترګغلي) یې له نظره تېر کړل او بیا یې د هغه پر نس باندې ګوتې ټینګې کړې چې پړسېدلی به نه وي، خو نس یې پر خپل حال و.

سپین ږیري چې پر غوږونو یې ویښتان ولاړ وو، ببرې وروځې او سرې سترګې یې وې، ببري ته مخ ور واړوه او ویې ویل:

- که خدای کول، اول به د زخمي مات شوی لاس وترو. د زخمونو غم به یې وخورو او له هغه وروسته به لړې اوبه ورته ورکړو، ځکه چې خوله یې وچه ده. بل له زخمي نه ډېره وینه بهېدلې ده. شیدو او نورو خوړو ته ضرورت لري چې وینه زر پوره کړي.

ببري چې د کټ پر لنګه ناست و، د سر په ښورولو ځواب ورکړ.

سپین ږیری له خېمې نه ووت. غږ یې وکړ:

- لالمې وه لالمې (للمې) که خدای کول، څه شوې.

للمې پر تبې باندې ډوډۍ واچوله. د بوټو اور یې پسې تېز کړ او بیا یې ځواب ورکړ:

- ابا (پلاره) مرۍ (ډوډۍ) پخوم.

- ته مرۍ دومره پرېږده. لاړه شه د زنغوځي ژاوله، زما بیاتي (قیچي) او د سامان کځوړه راوړه. للمه له ډوډۍ پخولو پاڅېده. ور ښودل شوی سامان یې رواخیست. د خېمې خواته ورغله، خو سپین ږیری خېمې ته ننوتلی و. غږ یې وکړ: ابا راووځه، سامان مې راوړ. سپین ږیری له خېمې نه راووت. لور یې سامان ورکړ. للمه بېرته ډوډۍ پخولو ته روانه شوه او سپین ږیری په خېمه ننوت.

سپین ږیري لاسي څراغ د ببري په لاس ورکړ. بیا یې د متین لاس کش کړ او سیده یې وتاړه. له هغې وروسته یې دده زخمونه لوڅ کړل. یوه زړه





بیاتي یې پسې رواخیسته. د غوښو په پرې کولو یې پیل وکړ. ببري ترې وپوښتل:

- دا ولې پرې کوې؟

سپین ږیري خوله سره ټوله کړه او بیاتي ته یې زور وکړ:

- دا شنه شوي غوښه ده، ځکه یې پرې کوم چې زخمونه یې بیا زر نه ښه کېږي.

- خو تا ټول زخمونه بیا تازه کړل؟

- که خدای کول مه ډارېږه، موږ چې کله د روسانو پر ضد جهاد کاوه، نو په سنګرونو کې مې د ډېرو مجاهدینو زخمونه او مات شوي هډوکي تړلي. بل دا خو دومره ژور زخمونه، نه دي.

دواړه غلي شول. د سپین ږیري د ساه ایستلو سمسومی اورېدل کېده او ببري یې کړه وړه په ځیر سره څارل.

سپین ږیري چې کله د متین زخمونه پاک کړل، نو له ببري نه یې وپوښتل چې له تا سره پټۍ او یا کومه دوا ماوا شته او کنه؟

ببري وویل چې له ما سره دوا او پټۍ نشته. څه چې راسره و، د جنګ په ځای کې راته پاتې شول.

سپین ږیري ددې خبرې په اورېدو د زنغوځي ژاوله رواخیسته. د متین پر زخمونو یې ایښوده او پټۍ یې ترې تاووله. ببري ویرې اخیستی و چې د متین زخمونه خراب نه شي او هم حیران و چې د زنغوځي ژاوله څنګه زخمونه ښه کولی شي؟ خو اخر یې صبر ونه شو، له سپین ږیري یې وپوښتل: دا ژاوله اوس زخمونه ښه کوي؟

د سپین ږیري پزې ته لکه چې د بربت ویښته ورغلي. پزه یې سره منجه



https://www.mohmandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



کړه. په زوره پرنجی یې وکړ. شکر خدایه! شکر یې وویست او بیا یې ببري ته وویل چې د غازي ببرک خان ځدراڼ نوم دې اورېدلی دی؟

- هو ! د هغه نوم مې اورېدلی.

- غازي ببرک خان ځدراڼ به چې کله له انګرېزانو سره د جګړې لپاره تلو ، نو له ځان سره به یې د زېغوځي ژاوله ګرځوله چې که کوم ملګری یې زخمي شي، نو د هغه زخمونه به پرې تړي. یو ځل دی هم چې کله د اوسني پاکستان په ټل کې د انګرېزانو پر چوڼۍ حمله وکړه، نو پر اوږه زخمي شو او خپل مشر زوی ته چې د جنګ په میدان کې ورسره و، وویل: " زما پر اوږه د زېغوځي ژاوله کېږده او ویې تړه، خو چې غازیان خبر نه شي، ځکه مورال یې کمزوری کېږي." بل په لویه پکیتا کې اکثره غرني خلک د زخم د ښه کولو لپاره د زېغوځیو ژاوله استعمالوي.

سپین رېږي لاړې تو کړې. په فکر کې ډوب شو. څو شیبې وروسته یې زیاته کړه: پخواني خلک کلک خلک وو. له وطن سره یې مینه وه او پر وطن یې غیرت کاوه. که خدای کول، د ببرک خان زوی سید اکبر خان هم پر وطن مین او غیرتي سړی و. د اوغانیستان ( افغانستان ) په سر چې بد یې پسې ویل، د پاکستان بادشاه ( صدراعظم ) لیاقت علي خان یې په توپانچه وویشت او مړ یې کړ.

ببري که څه هم زده کړې ډېرې نه وې کړې، خو د سپین رېږي کیسه یې له خپلو مشرانو نه اورېدلې وه چې سید اکبر خان ځدراڼ څنګه او ولې لیاقت علي خان وواژه.

سپین رېږي د متین ټول زخمونه او مات شوی لاس وتاړه. له هغه وروسته یې په یوه کوزه کې اوبه رواخیستې او ببري ته یې وویل چې د





زخمي خوله خلاصه کړي. ببري د متین خوله خلاصه کړه او سپین رېږي یوازې دومره اوبه ورتوی کړې چې خوله یې لنده شي.

ببري ترې وپوښتل چې متین ولې په دومره خوړو پسې نه بېدارېږي؟

- دا ځکه چې په ده باندې له دې نه زیات درد تېر شوی دی.

سپین رېږي د متین د لاسونو ورغوي او د پښو تلي وسولول، خو په هوښ رانغی، نو ببري ته یې وویل چې زخمي ساه په ارامه اخلي او که خدای کول، ډېر مشکلات نه لري. ارام دې وکړي. سبا به یې بیا ګورو. په دې وخت کې د سپین رېږي لور للمې غږ کړ: ابا وه ابا مړې ( ډوډۍ ) در واخله. سپین رېږی ووت او ډوډۍ یې راوړه. ببری چې ډېر وږی و، نو په خوند یې وخوړه او ځان یې ښه موړ کړ، خو چې کله وګرځېده، سپین رېږي غوړه خوله پاکه کړه او ویې ویل:

- ولې یې نه خورې؟

- موړ شوم.

- ولاکه داسې وګرځې چې ښه دې ځان موړ کړی نه وي.

- نور یې نه شم خوړلی، موړ یم.

- وه وروره که خدای کول، د پښتون په کور کې یې، څنګه یې نه خورې؟ ولا چې خوړلي دې نه وي. سپین رېږی چې له پخوانیو او غرنیو پښتنو نه و، مېلمه ته کمزوري ست یې بېغیرتوب باله، نو ځکه یې ببري ته په زیارتونو او جوماتونو قسمونه ورکړل چې ډوډۍ وخوري. ببری له غرنیو خلکو سره نابلده و، نو ځکه یې په اصطلاح د یوې ګولې ځای هم په ځان کې نه و پرېښی، خو اوس پوه شو چې سپین رېږی یې نه پرېږدي. څو وړې وړې ګولې یې په زوره له ستوني تېرې کړې او ویې خوړې چې سپین رېږی خپه نه شي.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



کله چې ډوډۍ وخوړل شوه، سپين ږيري ببري ته اشاره وکړه: هغه پوزې وينې، پر هغه ويده شه او کرار خوب وکړه. دلته ويره نشته او که خدای کول، انګرېزان دې ځای ته نه شي راتللی...

ببرۍ د مزري پر پوزې پرېوت او له ځان سره يې وويل: سپين ږيريه څه خبر يې چې مور له چا سره جګړه کړې او له چا نه راتښتېدلي يو.

ببرۍ چې د خوست او ځدرانو تر درې پورې خرابې لارې، له وسله والو سره جګړې او له هغه وروسته په غرنيو لارو پر شا د متين وړلو ستړی کړی و، نو بې له دې چې ډېر وېښ پاتې شي، د خوب وربښمينې غېږې ته يې ځان وسپاره.

سپين ږيري د متين د شا پر رګونو لاس کېښود. نبض يې عادي ورته ښکاره شو. ساه اخيستل يې عادي او د زړه حرکت يې هم ښه و. سپين ږيري د ګوتې په واسطه د متين د سترګو پردې پورته کړې. څراغ يې ور بل کړ. د هغه کسي يې وکتل او له ځان سره يې غلي وويل: که خدای کول، زر به په هوښ راشي او نور څه يې هم له ځان سره وويل، خو داسې چې بل څوک پرې نه پوهېدل. له هغه وروسته د باندې ووت. سپوږمۍ د اسمان په منځ کې ولاړه وه. د سپوږۍ په رڼا کې د غرونو کږې ډېره ښايسته ښکارېده. نرې باد د ننښترو څانګې داسې ښورولې لکه پښتانه زلميان چې ډول ته څنې اچوي او څېرۍ هم داسې ښکارېدې لکه پښتنې پېغلې چې يې تماشې ته ناستې وي، خو د دغه ښايسته طبيعي جوړښت خوند او رنګ به کله، کله هغه ډزو ګډوډ کړ چې خال، خال په غرونو کې کېدلې او په ښکلو درو او لوړو څوکو کې به يې وحشت خپراوه.

سپين ږيری همداسې ولاړ و او په يوه غره کې يې سترګې نيولې وې. دده له حالت نه داسې ښکارېده لکه خپل غم چې غلطوي او يا يې هم د





هاغه غره په لمنو کې چې دی ورته ګوري، داسې څه ورک کړي وي چې اوس يې خوب او ارام ته نه پرېږدي. څه وخت وروسته په ازغنو بوټو کې ناستې چرګې وککېدې. سپين ږيري مخ ور واړوه. ويې ليده چې يو غټ پش يې تر مخ تېر شو. سپي ور پسې منډه کړه او پش يې پسې واخيست.

سپين ږيری خېمې ته لاړ. لاسي څراغ يې ولګاوه. که ګوري چې متين لږ غوندې له خپل ځای نه بې ځايه شوی دی، نو ورنږدې شو، خو سترګې يې پټې وې. پښې او لاسونه يې هم نه ښورول. اوبه يې رواخيستې. په يوه لاس يې د متين خوله خلاصه کړه او په بل لاس يې يو غړپ اوبه ور توی کړې چې ستونی يې لوند شي. وروسته له دې سپين ږيری د کټ تر څنګ کېناست. سر يې په خپلو زنګونو کې ننوويست او داسې ښکارېده لکه په ناسته چې ويده کېږي.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



ببرى په بل ځنګ واوښت، د سپين ږيري غږ يې واورېده چې د قرآن كريم تلاوت يې كاوه، خو د ميندانۍ غږ هم ور سره ګډ و. ستركې يې وغړولې. په ځاى كې كېناست. د لاسونو ګوتې يې سره ور وستې او ټكونه يې ترې پورته كړل. خوله يې وازه كړه. اررمى يې وكړ. متين ته ورنږدې شو، خو متين همداسې بې هوښه پروت و. بيا يې د خېمې دروازې ته وكتل. په خپل سر وتل ورته ښه ښكاره نه شول. خېمه د كور يوه برخه وه، خو دلته د لمانځه هم ناوخته كېده. له ځان سره يې وويل: لږ غلى شه كوندې سپين ږيرى راشي او د اوداسه اوبه راوړي.

لږ وروسته د تلاوت غږ غلى شو. تر خېمې د كوزې اواز رسېده چې له اوبو ډكېدله او ځو شيبې چې نورې هم تېرېدې، سپين ږيرى په خېمه ورننوت او د ببري مخې ته يې د كوزې له اېښودو سره غبرګه كړه: ژنيه ( ځوانه ) ښه خوب دې وكړ، خو چې اوس لمونځ قضا نه كړې.





ببرى رښتيا هم چې ټوله شپه په ځان پسې نه و خبر شوى او سهار د سپين ږيري تلاوت او د ميندانۍ غږ راويښ كړ.

ببري كوزه واخيستله او سپين ږيري ته يې وويل چې ته وګوره ځوك خو به نه وي؟ سپين ږيرى مخكې شو او ببري ته يې وويل: راځه.

دوى دواړه د غره ډډې ته لاړل. ببري اودس تازه او لمونځ ادا كړ. له هغه وروسته د سپين ږيري غږ ته انتظار و چې كله ورته وايي: راځه چې ځو، خو داسې ښكارېده لكه له سپين ږيري نه چې ببرى هېر شوى وي، ځكه بيا يې هغه غره ته كتل چې په نيمه شپه كې يې ستركې په كې ګنډلې وې. د سپين ږيري دې عمل تر ډېره پورې دوام وكړ. ببرى هم نور په انتظار ستړى شو او له بلې خوا يې متين ته تلوار و چې څه ورباندې شوي نه وي. اخر ور ولاړ شو. د سپين ږيري پر اوږه يې لاس كېښود او سپين ږيرى لكه په خوب كې چې وډار شي، سپك وغورځېده، خو چې ببرى يې وليد، نو زر يې ځان سره سم كړ او ځان يې داسې وښوده چې زه، خو هېڅ وارخطا نه شوم.

سپين ږيرى مخكې او ببرى ورپسې شو. له لږ مزل وروسته كور ته ورسېدل او سپين ږيري غږ كړ:

- لالمې ( للمې ) زويه! د ښنتر لاندې كټ واچوه چې چاى هلته خورو.

- ابا چاى تيار دى او كټ مې هم وړى دى.

سپين ږيري ببري ته مخ ور واړوه او ويې ويل:

- كه خداى كول، خوريې! راځه چې د زخمي كټ هم راسره يوسو.

دواړه په خېمه ننوتل. په احتياط يې كټ پورته كړ. د باندې يې راوويست او د هغه ښنتر لاندې يې يووړ چې سپين ږيري به هر سهار هلته چاى څښنه. د متين په ليدو د ببري زړه ډېر درد كاوه او هغه يې په دې



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



حال نه شو ليدلی، خو اوس مجبور و چې دا هر څه وزغمي. بل لور ته ويرېده چې هسې نه سپين ږيری د طالبانو خاص سړی وخېژي. ورباندې پوه نه شي او همدلته يې ونه وژني. ببری له ځان سره په همدې فکر کې ډوب و چې سپين ږيري ترېنه وپوښتل:

- که خدای کول، دا نوم دې راته ووايه.

- زما نوم ببری دی.

- ببريه! ددې ملګري نوم دې څه شی دی؟

- دده نوم متين دی.

- په اصل کې د خوست ياست؟

- هو.

- په خوست کې د کوم ځای يې؟

- زه خو په خپله د خوست د مرکز يم او متين ځدراڼ دی.

- ښه، ښه که خدای کول، دی ځدراڼ دی؟

- هو.

سپين ږيري د شيدو پياله واخيسته. سرپ يې ترې پورته کړ. غړپ يې تر ستوني تېر کړ. د سر له ښورولو سره يې اومممم وکړ او نور غلی شو.

ببري ورته وويل:

- ماما! ستا نوم څه دی؟

سپين ږيري يې سترګو ته وکتل. د ږيرې څو تاره يې په ګوتو کې ونيول او په مسکا يې وويل:

- باز خان

- زامن، ورونه او وريرونه... څوک لري او که يو ته يې؟





په دې خبره د باز خان څېره غمجنه شوه. سترګې يې سرې شوې. ببري ته يې د ځواب پر ځای يوازې وکتل او نور يې هېڅ ونه ويل.

ببري چې دده دا حالت وليد نو ترې غلی شو او بيا يې خپله پوښتنه تکرار نه کړه. پياله يې پورته کړه. پوف، پوف ... پوکی يې ور وکړ، تر څو يخ شي، خو شيدې په اور پخې وې. ګرمې وې. زر نه يخ کېدې او ببري پياله کېښوده.

د باز خان او ببري تر منځ چوپتيا خوره شوه، خو په دې ښکلې غرنۍ سيمه کې د ډول، ډول مرغانو او نورو حيواناتو اوازونو چوپتيا ماتوله. دغو اوازونو ببري ته خوند ورکړ. غوږ يې ورته ونيوه. دی که شاعر نه و، خو شاعرانه مزاج يې درلود. لاندې چې ترې ناست و، هغه ښبټر ته يې وکتل. نور ښبټرونه يې هم تر نظر تېر کړل. نرۍ باد نغمې ترې ايستلې او دغه لنډۍ زړه ته ورغلې:

ستا د ښبټر په شان ځواني ده
زما نيستي ده چې روان له ملکه يمه

جانان مې جرړې د زړه پرې کړې
لکه ښبټر په تاوېدو ځمکې له ځمه

باز خان خولې ته لاس ونيو. ټوخی يې وکړ او بيا يې په خندا وويل:

- ته چې طالب هم يې نو په دې نه پوهېږې چې چای او يا بل خوراک ته پوکی ورکول حرام دي؟

ketabton.com - The Digital Library



ببرې هم وخندل، خو دا خندا يې د وارخطايۍ خندا وه، ځکه وويرېده چې هسې نه ومې پېژني.

دواړه غلي شول. شيبه پس د پښو ښکالو راغله. د پښو له غږ سره وړې ډبرې هم رغړېدې. باز خان او ببرې ور وکتل. که ګوري چې للمه ده او د اوبو ډک ژی يې پر اوږه دی. ببرې زر ورته شا کړه او مخ يې بل خوا واړوه.

للمه ښايسته او غرنۍ پېغله وه. د سروې په څېر يې دنګه ځواني درلوده. د بطې په شان يې اوږده غاړه وه او سترګې يې له هوسۍ نه پور کړې وې. خدای پاک داسې ښکلا ورکړې وه چې د ښار نجونې يې په جمال او جلال پسې نه رسېدې. د کور اکثره کارونه يې خپله کول، ځکه پلار يې سپين ږيری و. د اوبو ژی يې په داسې لاره راوړو چې د سم خوست زلميان به تش هم نه وای پرې تللي. للمه د غره هوسۍ ته ورته وه، نو ځکه له هرې ډبرې، بوټي، ونې او غنې سره روږدې وه او داسې لارې ورته ستونزمنې نه وې.

باز خان د نسوارو ډبلی رواخيست. سر يې لرې کړ. دوه ګوتې يې ورټيټې کړې او شنه نسوار يې په شونډه کې کېښودل.

هلته ببرې ته د نسوارو دوړه باد ورووړه. پزه يې وتخنېده او څو زوروړ پرنجي يې سر په سر وکړل. له دې سره سم يې له سترګو اوښکې روانې شوې او پزې يې هم سرپ سروپ جوړ کړ.

باز خان ترې وپوښتل:

- که خدای کول، څه درباندې وشول؟

- د نسوارو ګرد... خبره يې پرې شوه او بل پرنجی يې وکړ.

باز خان وخندل او نور يې څه ونه ويل.





متين سترګې وغړولې. شاوخوا يې وکتل او غږ ته يې خوله جوړه کړه، خو دومره توان په کې نه و چې خبرې وکړي.

سپين ږيری باز خان راپورته شو. د هغه څېرې ته يې وکتل. پر تندي يې لاس ورته کېښود او ويې ويل:

- که خدای کول، پر ځان زور مه راوله. ډېر زر به ښه شې. بيا يې په للمه پسې څو پرله پسې غږونه وکړل چې زخمي په هوښ راغی. شيدې زر پخې کړه او رايې وړه.

للمې چې دا غږ واورېده، نو له ځان سره يې شکر وويست: شکر خدايه چې دا خوراکی په ښه کېدو شو. د څېرې څو لرګي يې په بيړه سره لاندې باندې کړل. اور يې بل کړ او شيدې يې باندې کړې.

هلته ببرې له خوشالۍ نه خپلې اوښکې نه شوې پټولی. شکر خدايه، شکر...، زر، زر يې شکرونه ويستل چې متين په هوښ راغی او سپين ږيری هم خوشال و، ځکه دده د لاس برکت و چې متين ته خدای ج تر دې دمه ژوند ورکړ.

بازخان لا د متين پر شاوخوا راګرځېده او دده حرکتونه يې څارل چې د للمې سندريز غږ په غوږونو کې انګازې خورې کړې او پلار ته يې وويل چې شيدې پخې دي. پلار يې ور غږ کړ چې زر يې راوړه. للمې پر مخ ټيکری سم کړ. د شيدو ډک جام يې رواخيست او د ننبتر خوا ته يې ور وړ.

سپين ږيري پلار يې جام ترې واخيست او پوښتنه يې وکړه:

- سړې (يخې) کړې دې دي؟

- هو!

باز خان ببرې ته وويل چې ته دې خپل لاسونه تر زخمي لاندې کړه، کرار يې کينوه او که خدای کول، لورې ته يې شاته تکيه کېږده. ببرې



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



کرار، کرار متین راپورته کړ او للمې چې له ببري نه شرمېده هم، د متین شاته یې تړلې بستره کېښوده، تر څو متین شاته ونه لوېږي. بازخان لور ته وویل چې ته نور لاړه شه. للمه هم د نورو ښځو په شان رحم کوونکې وه. پر زړه نرۍ وه او د متین پر بد حالت زړه درد وکړ. زړه یې راډک شو. له سترګو یې اوښکې راغلې. غلې یې د اوښکو په وچولو پسې د ټیکري پیڅکه واړوله او په خېمه کې ورکه شوه.

باز خان د متین خولې ته د شیدو جام ورپورته کړ او ویې ویل:

- که خدای کول، خوله وازه کړه. غړپ ترې وکړه. لږ غټ غړپ، ای زمریه سړیه داسې... ، بل غړپ هم ترې وکړه چې زر له خیره ښه شې او شاباس.

متین له شیدو نه څو غړپونه په زور وکړل، خو باز خان ورته وویل چې دا څو ورځې دې څه نه دي خوړلي، که جام وچ نه کړې نو زر نه ښه کېږې.

متین د (نه) په ډول سر وښوراوه، خو سپین ږیري ور سره ونه منله او ټولې شیدې یې پرې وڅښلې.





نن یې دریمه ورځ وه چې متین په هوښ راغلی و. له پخوا نه یې اوس حالت ښه ښکارېده، خو لا هم په پښو نه شو درېدلی. بدن یې کمزورۍ و او زخمونه یې پوره نه و جوړ شوي.

متین په ځای کې وښورېده. له درده یې خوله جینګه کړه او د کېناستو هڅه یې کوله. ببري ورمنډه کړه. په جګېدو کې یې مرسته ورسره وکړه او تکیه یې ورته سمه کړه. متین چې کېناست، نو شاوخوا یې وکتل. له ببري نه یې په کمزوري غږ وپوښتل:

- د امین جان مړی هملته پاتې شو؟

- هو، څه مې کړي وای. له مجبورۍ نه مې خاورې پرې واوړلې.

متین غلی شو. بیا یې ژوره ساه واخیسته او د دعا لپاره یې شنډې پرانیستې:



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



- خدای ج دې یې وبښي.
- امین.

متین د اوبو کوزه پورته کړه. څو غړپه اوبه یې وڅښلې او بیا یې زیاته کړه:

- دا ښکلي سیمه کوم ځای دی؟
- یاره! مور یې هم نه پېژنو، خو ستا له برکته مو دا ځای پیدا کړ.

متین مسکی شو او بله پوښتنه یې وکړه:

- دا سپین ږیری څوک دی؟
- دا سپین ږیری باز خان نومېږي او ستا تربور دی.
- زما تربور؟!
- هو! آمر صاحب چې کله ښه شوې بیا نور تحقیقات وکړه.

د ببري دې خبرې ته متین کمزورې خندا وکړه او نور غلی شو.

ببري جیب ته لاس کړ. په موټي کې یې زنغوځي ( جلغوزي ) رواخیستل. لمن کې یې واچول او د سپینولو پیل یې پرې وکړ. په لږ وخت کې یې دغه د غره مېوه سپینه کړه او متین ته یې وویل چې ویې خوري. د متین که څه هم ډېر خوراک ته زړه نه کېده، خو له مودو ملګری ببري یې نه شو خپه کولی. زنغوځي یې ترې واخیستل او دانه، دانه یې خولې ته اچول چې ناڅاپه جدي شو او هغه لوري ته یې وکتل. پر للمه یې سترګې ولګېدې. للمه د ځېمې تر ځنګ ولاړه وه او متین ته یې پټ، پټ کتل، خو چې پوه شوه، متین هم ورته ګوري، نو ژر یې دده له سترګو ځان پنا کړ او ورکه شوه.

د للمې له ورکېدو سره که ګوري چې له هغه لوري باز خان را روان دی او سیرلی یې هم تر غاړې نیولی دی. نري باد یې ږیره پر څیګر ایخوا





دیخوا کوله. کله، کله به د باد څپه دومره تېزه شوه چې د پټکي شمله به یې هم شاته ترې واړوله. موده وروسته د هغه نښتر لاندې را ورسېده چې معمولاً به ټول هلته کېناستل. باز خان ببري ته وویل چې دا چاړه در ونیسه. ببري ترې وپوښتل:

- په دې باندې څه کوې؟
- که خدای کول، دا سیرلی حلالوم. متین به یې اول ینه وخوري او وروسته غوښه، خو داسې نه وي چې د ملا نصرالدین په شان پر ټول سیرلي پښې راتاو کړي.

د باز خان دې خبرې ته ټولو وخندل. کله چې د خندا زور کم شو، نو ببري ورته وویل چې سیرلی مه حلالوه، څکه متین اوس ښه دی، خو سپین ږیری چې د یوې خبرې سړی و، ورسره ونه منله او د سیرلي پر غاړه یې چاړه د الله اکبر له نارې سره سمه راکش کړه او حلال یې کړ.

کله چې یې د سیرلي نه څرمن واړوله، ټوک، ټوک یې کړ، نو ینه یې للمې ته ورکړه چې متین ته یې په غوړیو کې سره کړي. للمې هغه د غوا په غوړیو کې سره کړه. پلار ته یې غږ کړ چې ورشي او وریې وړي. پلار یې ورغی او څو شیبې وروسته یې د ینې کاسه د متین مخې ته کېښوده. متین مننه ترې وکړه او ویې ویل:

- زه به دې هېڅکله دغه حق پر ځای نه کړم، څکه ته مو دا څو ورځې ډېر په عذاب کړې... باز خان یې خبره پرې کړه:
- که خدای کول، تر څو چې ښه شوی نه وې، تر هغو پورې دې دا خپل کور دی او همدلته به اوسې.

متین او ببري سره وکتل او بیا دواړه باز خان ته مسکي شول. ددوی له سپین ږیري سره ښه ساعت تېر و، څکه هغه به ټوله ورځ د متین د

ketabton.com - The Digital Library



خوشالولو لپاره د ځوانۍ کيسې کولې او هغه کيسې به يې هم ورته کولې چې ځنګه به يې پر اوښانو د ځدرانو له غريبزو ځنګلونو نه په قاچاقي لارو تمبې (چتراش) وړلې او ځنګه به يې د ظاهر شاه پاچا له عسکرو نه ځان ساته.

يوه شپه يې له خېمې نه د باندې لېمځي هوار کړی و. د چرګانو له بڼکو نه ډک بالښتونه يوې او بلې خواته ايښې وو. متين په کټ کې، ببری او باز خان لاندې پر لېمځي ناست وو او ډډې يې لګولې وې چې باز خان د ظاهر شاه د يوه عسکر د نيولو کيسه ورته کوله. متين او ببري ډېره په خوند اورېده.

ده ويل چې يوه ورځ د ظاهر شاه عسکرو پر تمبو بار اوښ رانه ونيو او زما خېلخانې ته خدای ج له همدې اوښ نه روزي ورکوله. ما به چې له دې خوا نه د اوسني پاکستان د ټل سيمې ته بار يووړ، نو له هغه خوا به مې د بار پر پيسو د کورنۍ لپاره ګوړه، چای، رختونه (ټوکران) او ... سامان راوړ، خو کله چې عسکرو اوښ رانه ونيوه، نو په زړه کې مې وويل: لکه چې اوس دې خېلخانه له لوږې مري.

همدې فکر مې په مغزو کې ځای ونيوه. بالاخره همدې فکر کولو دې ته مجبور کړم چې د ظاهر شاه د وخت يو عسکر وتښتوم او په بدل کې يې اوښ را خلاص کړم.

که خدای کول، نيمه شپه وه چې يو عسکر په پيره کې ولاړ دی او له ځان سره نارې وهي: کې ستې؟ کوجا ميري؟ زه په پارسۍ ماړسۍ سم نه پوهېدم، خو له دې ټکو سره بلد وم، ځکه دوی به ټوله شپه دا نارې وهلې، خو هغه چا به زيات غورځي (نارې) کول چې د ټوپک پر ځای به





کوتک ورسره و. دې پيردار هم زيات غورځي کول. يوه شوم چې ټوپک ورسره نشته او يوازې کوتک ورسره دی.

باز خان شاته مخ واړوه. لاړې يې تو کړې او بيا يې کيسې ته دوام ورکړ: عسکر همدا غورځي کوي او زه د شا لخوا غلی، غلی ورغلم چې د پښو کړپې مې وانه وري، خو چې کله ور ورسېدم، نو په يوه لاس مې د هغه خوله ورته بنده کړه او په بل لاس مې يې مغزی تاو کړ. په دې ترتيب مې سړی خملاوه او په پټکي مې يې خوله او لاسونه ور وتړل. نه زور و، نه خوښه، خو عسکر روان و چې بالاخره مې له هغه ځايه راوويست.

بله ورځ مې عسکر له اوښ سره بدل کړ. ماته يې خپل اوښ راخوشی کړ او دوی ته مې عسکر ورپرېښود.

متين ځان سره کش کړ. خوله يې وازه کړه. اررمی يې وکړ او بيا يې وويل: دا خو ولا ډېره جالبه او خوږه کيسه وه.

له دې وروسته سپين ږيري باز خان متين ته وويل چې له نورو ورځو نه نن ډېر ښه يې. انشاالله زر به ښه شې، خو دا راته ووايه چې په ځدرانو کې د کوم ځای يې؟

متين لږ غلی شو. بيا يې زر خبرې پيل کړې:

- زه په اصل کې د تنګي ځدرانو د "غورمې بولی" يم. (دا په ځدرانو کې ځان ته يوه پلارينه (قبيله) ده.) پلار مې سلام نومېږي. له نيکونو راهيسې په خوست کې ژوند کوو او هلته اوسېږو.

باز خان له خولې نه د ږيرې ويښته لرې کړ او پرله پسې يې بله پوښتنه وکړه:

- کوم سلام؟ هغه د زرمير زوی به نه يادوې؟

- هو، زرمير زما نيکه و کنه.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



له دې خبرې سره باز خان پاڅېده. متین یې پر تندي ښکل کړ او زیاته یې کړه چې (که خدای کول ) سلام د دوی سکه خوریې دی او له دوی سره یې ښه تګ، راتګ کاوه.

له دې وروسته اوږده چوپتیا خوره شوه او باز خان هم په فکرونو کې ډوب تللی و. سپوږمۍ له غرونو اوښتې وه او اسمان له رڼو ستورو ډک و. د ابشارونو اواز پر غوږو خوږ لګېده. روانو اوبو به ډبرې سره جنګولې او ځپو یې په غرونو کې انګازې خورولې. متین، ببرۍ او باز خان غلي ناست وو. بالاخره دغه اوږده چوپتیا باز خان په دې جمله ماته کړه: نو اوس مالومه شوه چې تاسو طالبان نه یاست. متین او ببري یوه او بل ته په وارخطایۍ سره وکتل او د سپین ږیري په خبره حیران شول.

سپین ږیري چې د دوی حیرانتیا ولیده، نو ډاډ یې ورکړ او ورته ویې ویل: که خدای کول، تاسو بې غمه اوسئ. زه مرسته درسره کوم، خو چې پر ما وسله وال او یا بله ډله خبره نه کړئ. زامن او یو ورور مې پروسږ کال ووژل شول او یوازې دا یوه لور مې پاتې ده. لور مې یو خدایځ لري او یو ما، نور څوک نه لري چې ساتنه ترې وکړي.

د باز خان په دې خبره متین او ببرۍ هم غمجن شول. د لانټین پلته اخر ته رسېدلې وه. د پخوا په شان یې رڼا نه کوله. متین د لانټین په تته رڼا کې د باز خان څېرې ته وکتل. زړه یې پرې وسوزېده او له ځان سره یې وویل چې هر چېرته ځم، نو په غمونو اوړم. خولې له خندا ډکې وي، خو شپې او ورځې یې غمجنې. ستا د خوښۍ لپاره خوشالي کوي، خو له زړونو یې وینې څاڅي. جنګه درباندې لعنت شه چې هېڅ افغان ته دې خوشالي پرېښنبوده.





متین په همدې سوچونو کې و چې پیشو رامنډې کړې. د دوی تر مخ پر لېمڅي تېره شوه او باز خان هم غاړې تازه کړې. ببري لانټین ته لاس ور اوږد کړ. پلته یې پورته کړه او رڼا زیاته شوه. متین وویل: پلته یې مه پورته کوه چې بیا تېل ډېر خوري، خو باز خان ور غبرګه کړه: پرېږده یې، څه د سړي سر به وخوري. دوی چې دا خبره بشپړوله، نو چرګ وزرونه وټپول او اذان یې وکړ. متین د لانټین رڼا کې په لاس تړلي ساعت ته وکتل او بیا یې وویل: اوهوووو...، دا خو څه کم یوه بجه ده. درځئ چې ویده شو.

متین کټ کې ناست و، ایله وغځېده. ببرۍ هم خپلې بسترې ته پورته شو. باز خان خپل څادر ټک واهه او د کور په لوري لاړ.

ketabton.com - The Digital Library



د سهار د اذان وخت و. تیاري ورو، ورو خپله لمن ټولوله او په غرونو کې د تبر غږ اورېدل کېده. له دې ښکارېده چې چا د ځنګلونو ونې غوځولې. بل لورته به کله، کله د ماشینونو غږ او د یو څه شي د برمه کولو اواز راغلو، دا بیا په همدې غرونو کې د کرومیټ ډبرو د کانونو خپل سري کیندنې روانې وې. کرومیټ ډبره د خلکو لخوا په غیري مسلکي ډول له کانونو را ایستل کېده او بیا به په موټرو کې پر قاچاقي لار پاکستان ته وړل کېده. په قاچاق کې له قاچاقبرانو سره د ولسوالانو او نورو چارواکو هم لاس و. پاکستان ته به چې ورسول شوه، نو هلته به پروسیس کېدله. په پیټیو کې منظمه بندېده او بیا د کراچۍ بندر له لارې په بېړیو کې نورو هېوادونو ته صادرېدله، خو د پاکستان په نوم، نه د افغانانو. ګټه او امتیاز یې دواړه د پاکستان کېدل.





شین سهار له خېمې نه لږ هاخوا څو ځلې انګولا واورېدل شوه او وروسته داسې خرپې جوړ شو؛ تا به ویل چې چا څوک چپه کړي او تر ستونې یې نیولې.

باز خان چې خرپې واورېده، نو په بیړه یې تر بالښت لاندې ټوپک رواخیست او شکمن ځای ته یې ورمنډې کړې. ببرې هم بیدار شو. په اول سر کې وارخطا و، خو زر یې خپله وارخطایي ورکه کړه او په منډه په باز خان پسې ورغی. هلته په رسېدو باز خان دوه ډزه وکړل او د بوټو په منځ کې یې څه شی وویشتل. ببرې هم د تیږې شاته سنګر ونیوه، خو باز خان چې خړ سپی هم ورپسې و؛ په خندا راوګرځېده.

ببرې په حیرانۍ ترې وپوښتل:

- څه شی و؟

باز خان لږ څه په ساه کې لوړ و. په سترې غږ یې ځواب ورکړ:

- که خدای کول، په اوزو پسې لېوه راغلی و، خو دا ښه و چې سپی هلته و. لېوه یې راچپه کړی و. دی دې خدای ج ووهي.

ببرې ژوره ساه واخیسته او بیا دواړه یو ځای سره روان شول. للمه د خېمې په دروازه کې ولاړه وه او متین هم د ټوپک په ډزو پسې راویښ شوی و. په کټ کې وارخطا ناست و او فکر یې کاوه چې که کوم دښمن حمله پرې کړې.

کله چې متین ته ببرې ورنږدې شو، نو ترې وېې پوښتل:

- متینه څنګه یې؟

- نور ښه یم، خو زما زخمونه او لاس باید ډېر زر ښه شي. د دښمن په منځ کې پراته یو او زه وینم چې ای ایس ای د طالب په جامه کې فعالیت کوي.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



- ته بېړه مه کوه. خدای ج به هر څه اسان کړي. لاس خلاصولو ته دې څو ورځې پاتې دي. زخمونه دې هم نور ښه شوي او له خیره سره به زر پر خپلو پښو ودرېږې.

متین ږیره وګروله او زیاته یې کړه:

- زما ږیره تخنیږي. هسې نه چې د سرېښو وخت راباندې پوره شي.

- څومره وخت یې پاتې دی؟

- څه باندې دوې میاشتې وخت ورته شته دی او د وېښتانو د شنه کېدو ضد دوا هم، همدومره وخت لري.

- انشاالله مونږ به له دوو میاشتو نه په لږه موده کې بریالي کېږو.

متین په غاړه کې اچولي مات لاس ته لږ زور ورکړ. ګوتې یې وښورولې. بیا یې نور زخمونه تر نظر تېر کړل. له پخوا اوس ښه و، خو کمزوري یې پر ځای پاتې وه.

د ببري پام شو چې باز خان بیا هغه غره ته مخامخ په فکرونو کې ډوب ولاړ دی چې څو ورځې مخکې یې ورته کتل او په هغه ورځ یې هم د نن غوندې په څېره کې غم ښکارېده. ببري متین ته اشاره وکړه او ویې ویل:

- باز خان مې څو ځله ولید چې هغه غره ته غمجن ګوري او تر ډېره ورته په فکرونو کې ډوب ولاړ وي... ببري لا دا خبره نه وه بشپړه کړي چې للمې غږ کړ:

- ابا وه ابا چای تیار دی.

باز خان سوړ اسویلی وکړ، خو چې پوه شو د متین دوی ورته پام دی، نو په زوره یې پر شونډو مسکا خوره کړه، تر څو متین او ببری ورباندې پوه نه شي او بیا په زنګېدلو قدمونو د دوی پر لوري ور روان شو.





درې واړه تر ښښتر لاندې چای څښلو ته کېناستل. پیالې یې ډکې کړې او سپین ږیري په خیرن واسکټ لاس ننویست. یو موټی زنغوځې یې متین ته ورکړل او یو موټی یې ببري ته. باز خان نسوار تو کړل. پر خوله یې اوبه ورغړولې. بیا یې زنغوځی تر چینجنو غاښونو لاندې کېښود او ټس یې ترې پورته کړ.

هلته متین هم شخوند وهل پیل کړل او له دې سره سم یې وویل:

اوممممممممم ولا چې ډېر خواږه دي، ښه اورته (وریته) شوي دي.

هاخوا ببری له خرسنې ډوډۍ ګوله وکړي او بیا له پیالې نه سرپ پورته کړي.

کله چې چای وخوړل شو، سپین ږیري للمې ته غږ کړ:

- لالمې! راشه د سلام له زوی متین سره ستړې مه شي وکړه، دی خو زمونږ خوریې کېږي.

د متین زړه په ټوپونو شو. په څېره کې یې وارخطایې ولیدل شوه، په لړزېدلي غږ یې وویل:

- هیڅ کیسه نه ده.

- هلته په خوست کې به بیا عزیزانو ته وایې چې له باز خان کره تللی وم او په ستړي مه شي هم نه پوهېدل.

للمې غږ واورېده، خو لږ پسې ورکه شوه. سپین ږیري غاړه تازه کړه او بیا یې ور غږ کړ چې زر راشه.

لږ ځنډ وروسته للمه راغله. متین ته یې لاس ورکړ او ورته ویې ویل:

- ستړې مه شې.

- جنتي شې.



https://www.mandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



متین لاندې کتل. للمې ببرې ته مخ ور واړوه او له لرې نه یې سترې مه شې ورکړه.

- ورورہ سترې مه شې.

ببرې هم په داسې حال کې ځواب ورکړ چې لاندې ځمکه یې ګروله.

کله چې للمه روانه شوه، نو متین د شلخوا غلي پسې وکتل او له وارخطایۍ نه یې د زړه دربې دومره تېز و چې په اصطلاح پر خپلو غوږو یې اورېده.

ټول غلي ناست و. باز خان د نسوارو کوټي په هنداره کې خپل مخ ته وکتل. پر پزه یې ببر ویښتان ولاړ و. له هغو نه یې اوږد ویښته په ګوتو کې ونیو او له بېخه یې وویست.

متین د للمې په فکر کې و چې پرون یې ولې پټ، پټ ورته کتل. که یې پلار ورباندې پوه شي او یا یې ووینې، نو دده حیثیت به نه یوازې د دوو پیسو شي، بلکې د ژوند څکه ولاکه ځیني وکړي.

بل لور ته ببرې همداسې د ځمکې په ګرولو اخته و او لیکي یې په کې ویستې. یو غټ مېږی راغی او پر لنګي یې وچیچه. بې اختیاره یې لنګی په څپېړه وواهه. شرک ته یې متین او باز خان هم ته متوجه شول. دې صحنې ته تر یوې شیبې درې واړو ښه وخندل.

چې د خندا زور کم شو. څو شیبې غلي ناست وو. متین یو وار ببرې ته وکتل او بیا یې له باز خان نه وپوښتل:

- ماما! تا د شپې ویل چې زامن او ورور دې ووژل شول او یوازې یوه لور در پاتې ده؛ په خپل مرګ مړه شوي او که بله پېښه وه؟

د باز خان پر شونډو مسکا ورکه شوه. تر څو شیبو پورې غلي و. بیا یې متین ته په سرو سترګو وکتل او ویې ویل:





- کیسه ډېره ترخه ده، خو درته وبه یې کړم.

متین په کټ کې ځان سم کړ او ببرې هم د ځمکې ګرول پرېښودل.

سپین ږیري باز خان لاړې تېرې کړې او کیسه یې داسې پیل کړه:

- په دې غره کې مې د اوزو او پسونو یوه لویه رمه لرله. دغه رمه زما، زما د ورور او زامنو ډېره لویه هستي وه. د هغه رمې په برکته مو د ژنغوځیو ډېر ځنګلونه واخیستل. رمه به مو په ژمي کې ستاسو د بولیو د منطقې (سیمې) له لارې، د ښنګوستې (په تنګۍ ځدراڼو کې د درې نوم دی) په دره ننوویسته او د ځمېځې پر کنډو به مو خوست ته اړوله تر څو ژمی هلته وي، ځکه چې په ژمي کې د خوست هوا مناسبه وي.

باز خان غلی شو. د اوبو کوزه یې پر سر واړوله. اوبه یې وڅښلې. له اوبو څښلو وروسته یې د څادر په څنډه خوله پاکه کړه او کیسې ته یې دوام ورکړ:

په اوړي کې مو بیا دا رمه له خوست نه بېرته دې غرنۍ منطقې ته راوسته او ټول اوړی مو کله په یوه غره او کله په بل غره کې څروله چې زما ورور او زامن به په میاشتو، میاشتو ورپسې وو. دوی هم خوشال وو، ځکه پیسې یې ګټلې، خو یوه ورځ په هاغه مخامخ غره کې (هغه غر یې ور وښود چې دی به غمجن ورته ولاړ و.) مې درې زامن او یو ورور په رمه پسې وو چې د امریکایانو جیټې راغلې او بمبار یې پرې وکړ.

کیسه دردناکه وه. سپین ږیری غلی شو. د سترګو په کونج کې را روانه اوښکه یې پاکه کړه. شاوخوا یې وکتل او له لږې چوپتیا وروسته یې په ژړغوني غږ زیاته کړه:

که خدای کول، بمبار دومره سخت و چې پر غره یې اور بل کړ. بمبار د شپې له څلورو نه د ګهیځ تر اتو بجو روان و. دا خوټري بمبار چې کله غلی



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



شو، نو ځان مې يوازې ور ورساوه، ځکه په دې منطيقه کې ډېر څوک ژوند نه کوي.

هلته په رسېدو مې په داسې څه سترګې ولګېدې چې په ټول عمر ورسره نه وم مخامخ. داسې نه وه چې پر ما سختې نه وې تېرې يا مې مړي او زخميان نه وو ليدلي. د جهاد په دوره کې مې ډېر سخت حالتونه ليدلي وو، خو دې حالت هغه ټول رانه هېر کړل.

زامن او ورور مې پاک سوزېدلي وو. داسې لوبه يې پرې کړې وه چې نه پېژندل کېدل او نه هم د راوړلو وو، نو مجبور شوم چې هلته يې تر خاورو لاندې کړم. خدای ج دې ددوی شهادت قبول کړي.

متين او ببري ورپسې امين کړه.

باز خان له ګوتو ټکونه پورته کړل او کيسې ته يې داسې دوام ورکړ:

له څلورو سوو نه زياتې اوزې او مېږې وې چې په دې کې يوه هم ژوندۍ نه وه پاتې. که خدای کول، پر دې پېښه د خوست عزيزان خبر شول. دوی خبريالان دي که څه بلا له ځان سره راوستل. غره ته چې د موټر لار نشته، نو په پښو يې مزل ور وکړ.

څو شپې وروسته زما وړه ريديو (راډيو) ده، په هغه کې مې خبرونه نيولي وو چې دا واقعه يې اعلان کړه. ويې ويل چې د هغه وخت بادشاه (جمهور رئيس) حامد کرزي کميسيون که څه بلا ورته ټاکلی، تر څو مالومه کړي چې رښتيا يې د وطن خلک (ملکيان) وژلي او که طالبان دي، خو د کرزي بادشاهي هم د هوا ګزول وو؛ نه يې کميسيون مالوم شو او نه يې مميسيون.

د باز خان کيسه پای ته ورسېده. ببري او متين هم دده پر غمجنه کيسه ساړه اهونه وويستل.





متين او ببری پنځه ځلوېښت ورځې هملته وو. د متين زخمونه اوس ښه شوي وو او لاس يې هم خلاص کړی و. متين به سهار وختي له لمانځه وروسته د منډې تمرين کاوه، تر څو يې بدن وده وکړي او په راتلونکې کې ستونزه احساس نه کړي.

بل خوا ببری له باز خان سره و. که هغه به د لرګيو په راوړلو پسې تلو، نو دی به سم ورسره و او که بل کار به يې کاوه، نو هم يې له څنګ نه، نه جلا کېده.

يوه ورځ باز خان او متين د سهار په خړه کې د لرګيو په راوړلو پسې له کوره ووتل. متين چې له خوبه راويښ شو، نو د اوبو ډکه کوزه ورته



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



ابښې وه. هغه یې ور واخیسته. اودس یې تازه او لمونځ یې ادا کړ. له هغه وروسته بیا هوار ځای ته لاړ او منډې وهل یې پیل کړل.

للمې د سهار چای لپاره ډېر انتظار ورته وکړ چې را به شي خو متین پسې ځنډ کړ. بالاخره للمه مجبوره شوه چې پسې ورشي او چای څښلو ته یې راوغواړي، خو چې هلته ورسېده، نو د متین د ځوانۍ په لیدو دا هر څه ترېنه هېر شول، ځکه متین اوس بیا د ګل په شان په غوړېدو و. متین له پخوا نه ښکلي او دنګه ځواني لرله. تک تور وېښته او طبیعي تورو سترګو یې د ډېرو خلکو پام ځان ته اړوه؛ للمه خوارکۍ خو لا پر ځای پرېږده.

متین په منډو سر و. ځان یې ښه سترې کړی او خولې یې پر مخ روانې وې. للمې هم ښنتر ته په داسې حال کې ډډه ووهله چې دده ورته پام نه و. دغه شیبه له ښنتر نه د للمې پر اوږه وچ ډکی راولوېده. په دې سره هغه لکه له خوبه چې راوېښه شي، په ځای کې سپکه وغورځېده او ځان ته یې پام شو. زر یې ځان سره سم کړ او متین ته یې ورغږ کړ چې چای څښلو ته راشي.

متین ځای پر ځای ودرېده. حیران یې ور وکتل او ویې ویل:

- ته دلته څه کوې؟

- تا پسې راغلم، چای تیار دی.

متین اوتر، اوتر شاوخوا وکتل او بیا یې زیاته کړه:

- ته ورځه چې ماما دوی راشي بیا به یې وڅښو.

- نه، اوس به راسره ځې، ځکه ابا بیا غصه کېږي او وايي چې تا تر اوسه چای ولې نه دی ورکړی.





متین ورغی. یوه شیبه یې په څړو، څړو ورته وکتل او بیا یې په ترخه لهجه وویل:

- ته ښه کار نه کوې چې په ما پسې راځې ځکه زه یو نر یم او ته ښځه.

- ما خو پردي چاته غږ نه دی کړی چې چای ته راشه او اوس خو مې ترورزی هم کېږې، نو ولې درپسې رانه شم؟

وروسته یې جیب ته لاس کړ. پر ګلانو جوړ دسمال یې رواخیست. متین ته یې ورکړ او بیا یې زیاته کړه: ها، دا واخله. تاته مې جوړ کړی چې سترې کېږې، نو بیا به خولې پرې پاکوې. بل چې دومره منډې وهې او ځان سترې کوې، خو راځه له ما سره د اوبو ژی راوړه، نو ښه ورزش به دې کېږي.

د للمې پر دې خبره د متین رنګ له غصې سور واوښت، خو چې للمې دده غصه او وارخطایي ولیده، نو ښه ډېر یې ورته وخندل او په تلو کې یې له خندا نه په ډکه خوله وویل: څومره ساده یې.

للمه روانه شوه. متین تر هغې پسې کتل، تر څو هغه ترې پناه شوه. بیا یې په لاس کې ورسره دسمال سترګو ته ایخوا دیخوا واړوه. ښایسته و. خوند یې ورکړ او د هغې خبره هم وریاده شوه چې شیبه وړاندې یې ورته وویل: کله چې د منډې په وخت کې خولې کېږې، نو بیا یې پر دغه دسمال پاکوه. دا مې ستا لپاره جوړ کړی.

متین ورو، ورو د للمې په فکر کې ډوب شو. د هغې تورې سترګې وریادې شوې، ښایسته ورته ویښېدې. دومره ښایسته چې زړه یې بې واره حرکت تېز کړ او په ساه کې هم ورسره لوړ شو. یو څه یې محسوس کړل، داسې لکه د هغې خندا چې اوري.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



د متین چې کله ځان ته پام شو، نو ځان یې ملامت کړ او ویې ویل چې ته یو پولیس یې او پولیس باید هېڅکله داسې غلطي ونه کړي. هر پولیس ته اول ګورنی او بیا هېواد ور تر غاړې دی.

متین لکه لیونی ځان ته ګډ و او خبرې یې کولې. همدا شیبه دوی هم راورسېدل. ببرې د لرګیو پنډ پر شا و او غږ یې پرې وکړ:

- وه متینه! څنګه له ځان سره ګډ یې؟

متین د غږ په اورېدو وارخطا شو او خبره یې په هسې، هس، هـ... کې تېره کړه، خو ببری پوه شو چې متین څه ستونزه لري، ځکه د ملګري په خوی تر ټولو ښه د هغه نږدې ملګری پوهېږي چې بیا د ببرې او متین په شان له وړوکوالي نه سره ملګري او یو ځای لوی شوي وي.

ببرې ترې وپوښتل چې چای دې څښلی او کنه؟ خو متین ورته وویل چې زه تاسو ته متل وم، تر څو تاسو هم راشئ او یو ځای یې سره وڅښو.

باز خان پر لېمڅي ناست و چې دوی هم ورغلل، خو باز خان په ترخه لهجه متین ته وویل چې تا ولې چای نه دی خوړلی. متین په ځواب کې ورغبرګه کړه: چې تاسو راسره نه یاست، یوازې چای خوند نه راکوي. بالاخره درې واړه چای څښلو ته کېناستل او هر یوه له خپلې پیالې نه سړپ پورته کاوه.

متین ببرې ته مخ ور واړوه او ویې ویل:

- زه او ته باید سبا په خپل کار پسې لاړ شو، ځکه زه نور ښه یم او ارام ته ضرورت نه لرم او...

د متین پر دې خبره ببری حیران شو، د هغه خبره یې پرېکړه:

- خو زه دې وینم چې ته لا ارام ته اړتیا لري، نو ولې دې بېړه شوه؟

متین دا ځل لږ په ترخه لهجه ځواب ورکړ:





- زه نور ښه یم . باید کار مخکې یوسو او هر څنګه چې کېږي، سبا نه پاتې کېږو.

باز خان ببرې ته مخ ور واړوه، خو هغه سترګک ورته وواهه چې څه مه وایه.

ورځ تېره شوه او پر وطن شپه راغله. متین په دې پلمه چې سبا وختي ځي، تر نورو شپو مخکې پرېوت. سپین ږیری هم پاڅېده. څادر یې ورسره واخیست او ویده کېدو ته لاړ. ببری هم له ناکامه کټ ته پورته شو او اوږدې پښې وغځېده.

متین چې هر څومره ځان ویده کاوه، خو خوب نه ورتلو. د للمې یوه، یوه خبره وریادېده. ددې تر څنګ که څه هم ده ځان داسې ښوده چې زه یې په کیسه کې نه یم ، خو چې کله به د هغې د سپوږمۍ په څېر ښایسته څېره او له هوسۍ نه پور کړې تورې سترګې وریادې شوې، نو زړه به یې په سینه کې په ټوپونو شو او د هغې د بیا لیدو تلوسه به ورسره پیدا شوه. بل به چې سبا ته د تګ خبره وریاد شوه، نو نه پوهېده چې ولې ددې ځای په پرېښودو پسې خپه کېږي او ولې یې زړه نه غواړي چې دا ځای پرېږدي. په دې کش مکش کې یې څو ځلې پر ځان ایت الکرسي چوف کړه، تر څو له دغه وسوسو نه خلاص شي. کله به پر یوه ډډه شو او کله پر بله ، خو تر اخره نه ویده شو او نه یې هم د للمې له یادونو ځان خلاص کړ.

د سهار له ملا اذان مخکې چرګ خپل وزرونه وټپول او بانګ یې وکړ. متین هم له غره نه پناکېدونکې سپوږمۍ ته کتل او په زړه کې یې بې اختیاره تېره شوه چې کله زه لاړ شم، نو دې سپوږمۍ ته به ګورم او کېدای شي چې په هغه شپه للمې هم ښایسته سترګې ور پورته کړې وي. ددې خبرې په کولو سره متین په کټ کې نېغ کېناست. توبه، توبه خدایه توبه...



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



توبې یې وویستې. د سهار یخ باد پرې ولګېده. خوند یې ورکړ او له ځانه سره یې وویل چې دا باد به د للمې پر خېمه هم لګېدلی وي، ځکه به خوندور ښکاري.

متین د للمې په مینه کې کراره کراره ډوبېده. ده هېڅکله دا ډول حالت نه غوښته. نه پوهېده چې له للمې سره یې مینه ده، خو د هغې په وریادېدو به یې زړه درد وکړ او بل ډول خوږ احساس به یې کاوه.

متین ټوله شپه د للمې په مینه کې غرق و. حال یې د مجنون غوندې و.

متین هڅه کوله چې دی یو پولیس دی او پولیس باید په هېڅ ډول د داسې څه قرباني نه شي چې هم یې نوم بد شي او هم یې د اصلي هدف مخه ډب کړي، خو دلته متین هم ناتوانه و، زړه یې داسې څه کول چې ده په وس نه و پوره.

متین دغه غریبزه سیمه چې پخوا یې هره ونه او بوټي ورته دښمن ښکارېدل، خو نن ورته د للمې پر سر بوټي، ونې او کاڼي له رنګینیو نه ډک و او په فکر کې یې له دې هر څه نه ښکلاګانې ورېدې.

باز خان له نورو ورځو نه للمه وختي له خوبه راویښه کړه او ورته ویې ویل چې پاڅې؛ چای وختي تیار کړې، ځکه متین دوی روان دي.

للمې چې دا غږ واورېده، نو د سترګو له غړولو مخکې یې په زړه کې سوې ځړیکه تېره شوه. د بېلتانه غږ بد پرې ولګېده او بیا یې خپل پلار ته له خوب نه په ډکو سترګو حیران، حیران وکتل. خو پښتنه پېغله وه، نو ځکه یې له خولې نه ولې او څنګه کلمې ونه وتلې.

للمې چې لمونځ ادا کړ، اول یې د زړه د صبر دعا وکړه او بیا یې متین ته د خیر او دده د ښه ژوند لپاره خدای ج ته زارۍ وکړې. وروسته پاڅېده. په بېړه یې چای تیار کړ. د متین او ببري د سفر لپاره یې د غوا په غوړیو





کې له خېشتو ( لندو ) اوړو نه د کلچو په شان ټیکالي پاخه کړل او په دسمال کې یې ورته غوټه کړل.

له چای څښلو وروسته باز خان متین ته وویل چې که خدای کول، ته لا ښه شوی نه یې، خو ضد کوې. متین ځواب ورکړ چې بیا بیخي پرې ناوخته کېږي. کېدای شي چې هوا یخه شي. د هرې ورځې په تېرېدو دا ماموریت سختېږي. شپې یې ډېرې وتلې دي او دلته له دې زیات اوسېدل ورته ښه نه دي.

- کوم لوري ته ځئ؟

- سره کوښښ ته.

باز خان له چای نه غړپ وکړ او بیا یې بې له مقدمې زیاته کړه: که خدای کول، دغه د پاکستان جاسوسان دي او که ای ایس ای ورته وایي، ډېر خطرناک خلک دي، ځکه دوی د ځدراڼو په سیمه کې د زیاتو خلکو زامن، وروڼه او پلرونه برمته ( یرغمل ) کړي. دا کار یې ددې لپاره کړی چې که کوم څوک کار ورته ونه کړي، نو برمته کړي کس سمدلاسه وژني او هغه کس مجبور دی چې د خپلې کورنۍ د ساتنې لپاره د دوی هر امر ومني. ددې تر څنګ د مرستې خلک هم په کې شته، خو که موقع پیدا شي او یو څوک یې ملاتړ وکړي.

که څه هم د متین فکر د للمې په لیدو کې و، خو بیا یې هم د باز خان پر خبره غور وکړ او ترې ویې پوښتل چې دا کسان به سرې څنګه مالوم کړي؟

باز خان د لونګۍ پر شمله له ګېږې نه د چایو څاڅکې پاک کړ او بیا یې زیاته کړه: که خدای کول، زه کوښښ کوم چې تاسو ته د مرستې لپاره یو څوک پیدا کړم. تر اوسه بریالی شوی نه یم، ځکه تاسو ناڅاپي روان



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



شوي، خو تر څو چې تاسو هلته رسيږئ، نو زه به هم يو څه وکړم. بل مو دي ته هم فکر وي چې هغه منطقه د جبار ده او جبار ډېر ظالم سړی دی. په دې منطقه کې يې خلکو ته زياتې ستونزې او کړاوونه ورکړل.

په همدې خبرو، خبرو کې چای وڅښل شو. د متين که څه هم تګ زړه نه غوښته، خو اوس پښتو او غيرت نيولی و. يو خوا دنده ور تر غاړې وه او بل يې له خولې وتلې وو چې نه پاتې کېږي.

ببری بيا د متين لپاره خپه و، ځکه ويل يې چې متين تر اوسه لا سم نه دی ښه شوی، داسې نه چې د وسله والو پر ضد د عملياتو پر مهال څه پرې ونه شي او ځانونه د خپلې بې غورۍ قرباني نه کړي.

باز خان پاڅېده او زياته يې کړه: که خدای کول، چې يو ځل مو د تګ نيت کړی وي، نو بيا پر ځانونو مه ناوخته کوئ.

متين او ببری له ځايه پاڅېدل. هغه دوه ټوپکونه چې له وسله والو نه ببري اخيستي وو، يو متين واخيسته او بل ببري. سپين ږيري باز خان بيا نه يوازې شاجورونه له مرميو ورته ډک کړل، بلکې اضافي شاجورونه يې هم ورته وسپارل او دا يې متل ورته وکړ چې: "وسله که بار ده، خو په کار ده."

دوی چې له باز خان نه رخصت اخيست، للمه هم راورسېده. ببری څو ګامه لرې لاړ. متين ته يې وويل چې خو شپې به پاتې شوی وای، خو متين ځواب ورکړ چې اوس ځم او بل وخت که مې موقع پيدا کړه، نو بيا به راشم.

للمې متين ته غوټه ورکړه. ها دا در واخله. خامخا پر لاره به ورېږي شئ.

متين چې غوټه ترې واخيسته، نو د خدای په امانۍ په خاطر يې لاس ور اوږد کړ. للمې لاس ورکړ، خو دا ځل متين د هغې لاس ته غلی زور





ورکړ او بيا يې پرېښود. دغې زور د للمې زړه ته د بريښنا غوندې ټکان ورکړ او دغه شارتې د مينې وه، ځکه ښه پرې ولګېده.

متين هم له باز خان نه رخصت واخيست او روان شو، خو د متين دغه تګ د للمې پر زړه د غمونو بار واړوه او متين هم د للمې نه د لرې کېدو پر وخت داسې محسوسوله لکه هر قدم چې پر ماتو شيشو ږدي او د شيشو د درد څرېکه ان په زړه کې هم محسوسوي. باز خان او للمې همداسې له شا پسې کتل. متين چې کله درې ته کوزېده، نو شاته يې مخ واړوه او دوی ته مسکی شو.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



متین له ټولې ورځې مزل وروسته پر یوه لوړه کېناست او ډبرې ته یې ډډه ووهله. له ستړیا نه یې رنګ سپین تښتېدلی او په ساه کې لوړ و.

ببری هم راورسېده او په ستړي غږ یې پوښتنه وکړه:

- اوس څه کوو؟

- مزل... خو ته صبر چې زه نقشه وګورم.

متین جیبي نقشه پرانیسته. د کانتور پر کرښو چې د غرونو لوړې خوکې مالوموي؛ ګوته تېره کړه او ویې ویل: سره کوښېن ته لا لار پاتې ده. موږ باید په لږ وخت کې ځانونه ورسوو. دښمن هوښیار دی چې دام راته وانه چوي.





ببري غلي وویل:

- خو د لمر سترګه په ډوبېدو ده.

- تر ماښامه باید مزل وکړو. متین له دې خبرې سره پاڅېده او روان شو.

د متین بدن که څه هم ښه شوی و، خو کمزوري یې لا پاتې وه. ببری پوهېده چې په مزل کې ستړی کېږي، خو بیا هم هڅه کوي چې دنده ښه ترسره کړي او لار په لږ وخت کې ووهي. دواړو د ماښام تر ناوخته مزل وکړ. وروسته د اوبو تر څنګ په یوه شنه ساحه کې تم شول. تر سبا پورې همدلته پاتې شول او دمه یې جوړه کړه.

کله چې د ماخستن د ډوډۍ وخت راورسېده، ببری ولاړ شو. په پتکي کې یې اوبه راوړې. وروسته یې د دسترخوان په ډول دسمال هوار کړ او هغه کلچو ته ورته ټیکالي یې خپل او د متین مخې ته کېښودل چې للمې د سفر لپاره ورته پاخه کړي وو.

متین چې دا ولیدل، نو یو ځل بیا للمه وریاده شوه او د هغې په بېلتانه کې یې ځان ډېر بدمرغه محسوس کړ، خو له دې سره، سره یې پر ځان زور راوست، تر څو ببری پرې پوه نه شي.

متین له ډوډۍ خوړلو وروسته ببري ته وویل چې زه پیره کوم او ته ویده شه. ببري که څه هم ټینګار وکړ چې زه پیره کوم او ته ویده شه، ارام ته اړتیا لرې، خو متین ورسره ونه منله.

ببری د بالښت پر ځای ډبره تر سر لاندې کړه او پرېوت. ستړی و. څو شیبې وروسته په دې نړۍ کې نه، بلکې د خوب په غېږه کې وو، خو متین ویښ او پیره یې کوله. پر زړه او ذهن یې نه یوازې د للمې غم حملې کولې، بلکې له دې وړاندې چې څه د ژوند ترخې پرې تېرې شوې وې؛ یوه، یوه وریادېده.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



له يتيم ګېډو رانيولي، د غربت تر سختو شپو، پوليسو ته ورتګ او بيا تر نن پورې چې کوم تکليفونه او ستونزې د خپل وطن او خلکو لپاره زغمي، دا ټول يې يو، يو فکر ته ورغلل، خو پر دې ټولو سربېره يې د للمي غم پر زړه بل ډول اثر کړی و او تر ټولو خوږ ورته ښکارېده.

د فکرونو دغې اوږدې لړۍ پر متين باندې شپه نيمايي ته ورسوله او سپوږمۍ د اسمان په منځ کې پر تندي ولاړه وه. متين په دې نيت چې للمي به ور ته کتلي وي، تر اوږدې شيبې يې سترګې په سپوږمۍ کې ګنډلي وې او د هغې سيل يې کاوه. سپوږمۍ ته په کتلو يې نه يوازې د ميني ليونۍ تنده ماته نه شوه، بلکې د للمي غم يې پر زړه لا خپلې منګولې خښې کړې. د هغې ورکړې دسمال يې رواخيست، پر مخ يې واچوه. د هغې د پېغلتوب بوی ترې ورغی. خوند يې ورکړ. په همدې حال کې خوب غلبه پرې وکړه او په ناستې ويده شو.

سهار زيړ لمر ختلی و. متين او ببری دواړه ويده وو. ځو بيزوګان پر لوړه ناست وو او د دوی لوري ته يې وړې ډبرې رغړولې چې اخر يوه ډبره د ببري پر پښه ولګېده. سترګې يې وغړولې. که ګوري چې په وطن زيړ لمر ولاړ دی. متين هم پر مخ دسمال اچولی او تيرې ته يې ډډه وهلې، ويده دی. په بيړه يې ټوپک ته لاس کړ، خو چې لوړ يې وکتل. پر بيزوګانو يې سترګې خښې شوې. بيزوګان هم له ټوپک نه ووېرېدل او په منډو شول. ببري چې د دوی ټېښته وليده، نو د ټوپک شپېلۍ يې ببرته ټيټه کړه.

ببري پر متين هم غږ وکړ، تر ځو پاڅي چې ناوخته دی. متين چې له خوبه راويښ شو، نو په حيرانۍ يې ببري ته وکتل چې ځنګه په بيره کې او بيا تر لمر ختو پورې په ناستې ويده پاتې دی. دسمال ته يې فکر شو. حيراني يې په وارخطايۍ بدله شوه. زر يې جيب ته کړ او په يو ډول سره





يې له ببري نه د دسمال د پټولو هڅه وکړه، تر څو پرې پوه نه شي. په هغه متل کې يې څه ښه ويلي چې: ( غل په غره کې نه ځايېږي. ) متين په وارخطايۍ سره د دسمال په پټولو ببري شکمن کړ او پوه شو چې خامخا د کاسې لاندې نيم کاسه شته.

دواړو بيا ټوپک اوږو ته واچول او مزل يې پيل کړ. د متين ستراتيژي دا وه چې له يوې خوا په لنډه لاره خپل هدف ته ورسيږي او بل لور ته يې پر سمو لارو، ځکه مزل کول نه غوښتل چې دښمن به يې د هدف مخه ډب کړي او دواړه به له منځه يوسي، نو له دې امله دوی ته د ځدرانو د غرونو پيچلي جغرافيي موقعيت پرېمانه ستونزې جوړې کړې وې. مجبور وو چې د هېواد او خلکو د ژغورلو لپاره يې دا هر څه زغملي وای.

له ببري سره اوږد لرګی ورسره و. د کوزېدو په وخت کې چې به يې پښې وښوييدې او يا به پوه شو چې له غره نه په منډه کېږي، نو ځان به يې پرې تکيه کاوه. په يوه ځای کې چې دی او متين دواړه کوزېدل، نو ببري پر لرګي ځان تکيه کړ. متين ته يې مخ ور واړوه او ويې ويل چې زه خو څو لنډۍ وايم. متين له ځان سره مسکی شو او بيا يې وويل: ستا له لنډيو نه هسې هم نه کېږي، پرې ورځه له خيره. ببري شاوخوا وکتل او بيا يې لاندې لنډۍ وويلې:

زلفې دې دام خال دې دانه ده
زه خوار مرغه په دام د زلفو بندي شومه

د يار وصال کې ګرمي کېږي
ظالم بيلتون يې سرو لمبو ته کشوينه



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



ګودر ته ځي ورپسې ورشه
هغه به ژی په لپو ورو، ورو ډکوينه

متين چې کله وروستۍ لنډۍ واورېده، نو پوه شو چې ببري ده ته اشاره وکړه. د ببري پر وړاندې د متين رنګ له شرمه سور واوښت او په بنده، بنده ژبه يې وويل: ته څه، څه، څه ... بد کوې او دا څه وايې؟

ببری چې د سوړ مزاج خاوند و، نو په خندا يې ځواب ورکړ. هسې ما څو لنډۍ درته ډالۍ کړې او نور مې هېڅ نه دي ويلي.

د متين رنګ که څه هم د ببري پر وړاندې له شرمه سور شو، خو پټ په زړه کې يې له لنډيو نه دومره خوند واخيست چې له دې وړاندې يې اټکل هم نه شو کولی. په تېره د ببري وروستۍ لنډۍ ډېر خوند ورکړ، په زړه کې يې بار، بار تکراروله چې:

ګودر ته ځي ورپسې ورشه
هغه به ژی په لپو ورو، ورو ډکوينه

ببري هم له شوخۍ نه په ډکه لهجه په لنډۍ کې د منګي پر ځای ژی ورته ياد کړ، ځکه للمي به په ژي کې اوبه راوړلې او يو ځل يې متين ته هم ويلي وو؛ ته چې منډې وهې او ورزش کوې، نو له ما سره د اوبو ژی ولې نه راوړې چې له دې نه دې هم ښه ورزش وشي.

متين هم پر ځان پوه شوی و چې کرار، کرار يې زړه او ذهن د للمي مينه لاندې کوي. بل لور ته يې دې ته نيم زړه خوړ چې که په کلي او ګاونډ





کې خلک خبر شي، نو ده او دده کورنۍ ته به هېڅ ابرو او عزت پاتې نه شي. په پښتني ټولنه کې که څه هم پېغلې او ځوانان مينه کوي، خو د پېغورونو له امله د مينې اظهار نه شي کولی او نه هم په خپله خوښه د واده غږ پورته کولی شي.

په ډېرو ځايونو کې داسې ليدل شوي چې کوم زلمي او پېغلې په خپله خوښه واده کړی، نو د خپلې کورنۍ لخوا هم د ژوند تر اخره له پېغورونو نه دي خلاص او نور خپل خپلوان، خو يې پر ځای پرېږده. په ډېرو سيمو کې بيا داسې هم شوي چې کومې جينۍ په خپله خوښه د واده غوښتنه کړې، نو د پلار، تره او يا ورور لخوا داسې چلند ورسره شوی چې د مرګ تر کندې يې رسولې ده.

ځينې يې بيا د مينې راز هېڅکله نه وايي. دغه د راز نه ويل اکثره وخت ددې لامل شوي چې د هلک يا جينۍ ژوند ورځ په ورځ تريخ شي. بالاخره په ورستيو کې خبره دې ته لاړه شي چې ځان وژنه وکړي او يا هم د کورنۍ لپاره نورې ستونزې په ميراث پرېږدي.

اوس نه يوازې متين د هغې په مينه کې د غرقېدو پر لوري روان و، بلکې للمه هم چې متين ترې راوتلی؛ دده له غمه يې ښه شيبه نه ده ليدلې. هر وخت يې يادېږي. ټل يې زړه غواړي چې د متين ديدن وکړي. غږ يې واوري. يو ځل بيا د سفر لپاره ټيکالي ورته پاخه کړي او بالاخره يې لاس ته غلی غوندې زور ورکړي.

که څه هم د للمي لپاره دغه غريبز وطن کشمير دی، خو چې متين په کې نشته او ترې تللی دی، نو دا سيمه ورته بلا ګرځېدلې. د هغه په ورياديدو يې اوښکې نه ټينګېږي او د متين په بيلتانه کې هره شيبه ورته د زهرو ګوټ غوندې ده، خو پر دې ټولو سربېره يې هڅه داده چې پلار يې



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



وربانډې پوه نه شي او که چېرې پرې پوه شو ، کېدای شي له مخې يې لرې او ځان ترې بې غمه کړي.

متين او ببرۍ په لوړو او ژورو کې له اوږده مزل وروسته يوه خوړ ته کوز شول چې د اوښکو په څېر روڼې اوبه په کې بهېدې. ببرۍ چې ډېر تږی و، نو په خېټه ورته پرېوت او په خملاستې يې اوبه وڅښلې، خو متين په لپه کې وڅښلې او تنده يې ماته کړه.

د اوبو په منځ کې ښايسته کبان ليدل کېدل. کله به يې يوې خواته منډې کړې او کله بله خوا. متين فکر يووړ او له لږ فکر وروسته يې ببرې ته وويل چې ژوند ددې کبانو په څېر ښايسته دی، خو په سوله کې ژوند، نه د جنګ په ګرمو لمبو کې.

ببري اوبه ډېرې څښلې وې. په خېټه يې لاس کېښود او بيا يې د متين له خبرې سره خپله خبره غبرګه کړه: که زه او ته اوس په چکر دغه ښايسته غرونو ته راوتلي وای، نو څومره خوند به يې کړی و، خو اوس له دې ښکلې منظرې خوند نه شو اخيستلی، ځکه هره ونه، بوټی او کاڼی راته دښمن ښکاري.

دواړه په دې بهانه ګني چې خبرې کوي نور يې د ستړيا ايستلو مطلب و. د دوی تر منځ په خبرو، خبرو کې ببري له موقع نه په استفادې متين ته وويل چې زه يوه پوښتنه لرم، خو غصه کېږې به نه او ځواب هم درنه غواړم.

متين يوه شيبه ورته وکتل او بيا يې په مسکا وويل چې زه او ته له وړوکوالي انډيوالان يو. په دې دومره وخت کې زه کله تاته غصه شوی يم او که نن دا خبره کوې. څه وايې؟ پوښتنه دې وکړه.

ببري په شوخ نظر ورته وکتل او بيا يې په ډېره بېباکه لهجه وويل:





- هغه دسمال د چا و چې پر مخ دې اچولی و؟

متين چې د ببري خبره واورېده، نو په حيرانۍ يې وويل:

- دا پوښتنه ده چې تا وکړه؟

- هو! ځواب يې غواړم، ځکه له اول نه دې راسره منلې چې نه غصه کېږې.

- بل وخت درته وايم، اوس يې وخت نه دی او ...

ببرۍ چې له خولې نه پوچ و، نو په دې الفاظو يې د متين خبره پرېکړه:

- چې غل نه يې نو وارخطا ولې يې. متين جانه ما له اول نه په زړه کې ويلي و چې که له عملياتو نه په خير ژوندي راستانه شوو، نو د متين لپاره به دغه جينۍ غواړو او بيا به د خوستوالو ښايسته اتڼ داسې کوو.

ببري د رڼو اوبو تر څنګ په شګه کې اتڼ واچوه او له اتڼ سره يې دا سندره هم ويله:

شين راکټ په شګو کې پنچر دی
مور ته ناوي راکړی مازديګر دی

ببري له ځان سره په اتڼ کولو ښه ځان ستړی کړ او متين هم دده شوخۍ ته دومره وخندل چې له خندا نه يې تشې نيولي وو.

کله چې ببري اتڼ بس کړ او متين ته يې په ستړي غږ وويل:

- ځواب غواړم، ځکه نه پوهېږو چې بل وخت به مړه يو او که ژوندي.

متين چې د ببري شله توب وليد، نو يوه شو چې نه يې پرېږدي. بل لور ته د کيسې کول د متين لپاره ډېر ستونزمن و او له دې وړاندې له داسې څه سره نه و مخامخ شوی، خو بيا هم مجبور و چې د وړوکوالي او بيا په تېره د لارې ملګري ببري ته هر څه سپين، سپين ووايي.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



ببري همداسې د متین خولې ته کتل چې کیسه کله پیلوي. متین لږ غلی شو. له وارخطایۍ نه یې لاړې تر ستوني تېرې کړې او بیا یې په رپېدلو شونډو دده او للمې تر منځ تېره شوې کیسه ببري ته وکړه.

کله چې د متین د مینې کیسه پای ته ورسېده، نو ببري له ځان سره اومممممممم اواز وکړ. سر یې وښوراوه او بیا یې متین ته په کتو زیاته کړه چې ما به مخکې له ښکلو کې درته ویل، نو پر تا به بده لګېده، خو اوس دې په خپله ولیدل چې د یوې غرنۍ پېغلې د زړه مارغه ستا پر سر کیناست او د خپلې مینې پاچا یې کړې.





متین او ببرۍ لا د اوبو پر غاړه وو چې وړاندې اسونه وششنېدل. ببري وارخطا شو، خو متین تر لاس ونیو. په تېټه ملا یې منډې کړې او دواړه په بوټو کې پټ شول.

اسونه رانږدې شول. د خوړ په تېرو کې یې خرپې جوړ کړ او وسله وال کسان پرې سپاره وو. متین د بوټو له منځ نه ورته کتل. پر اسونو سپاره کسان د وسله والو طالبانو په شان وو. ببرته یې په بوټو کې سر ټیټ کړ او ببري ته یې په پسپسي کې وویل چې پر یوه اس داسې ښکارېده لکه ښځه

ketabton.com - The Digital Library

https://momandpublications.com



چې ورسره وي، چې دا ښځه ورسره څه کوي؟ ببري په ټيټ غږ ځواب ورکړ: نه پوهېږم.

د اسونو د پښو خرپې ورک شو او وسله وال لاړل. متين لږ غلی و او بيا يې شاوخوا سيمه ته نظر تېر کړه چې هسې نه کوم يو يې پاتې وي، خو چې کله ځوک په نظر نه ورغلل، نو له بوټو نه راووتل او ببري ته يې وويل چې دا خلک بايد تعقيب کړو چې چېرې ځي او څه کوي.

ببري لومړی د ورسره ټوپک شپېلۍ ته وکتل او بيا يې زياته کړه: هغوی پر اسونو سپاره دي او موږ پلي يو، نو څنګه به يې تعقيب کړای شو؟

متين شاوخوا وکتل. مخامخ د غره لوړې څوکې ته يې اشاره وکړه: بايد هغه ځای ته ځانونه ورسوو او له هغې نقطې نه کېدای شي چې دوی وڅارو.

د متين لونګۍ رنګه شوه. بيا يې پر سر کړه او ببري ته يې وکتل. هغه ورته وويل: اوس ښه شوه. له دې خبرې سره دواړو د غره لوړې څوکې ته حرکت وکړ. که څه هم هغې څوکې ته د ختلو لار خطرناکه وه، خو دوی بيا په کم وخت کې دغه لاره لنډه کړه او يادې څوکې ته يې ځانونه ورسول.

هلته په رسېدو متين له ببري نه اوبه وغوښتې. ببري اوبه ورکړې او ورته ويې ويل چې کمې وڅښه ځکه ما هلته ډېرې څښلې دي، نو اوس مې په تشي درد دی.

متين له خولې نه د اوبو پتکی کوز کړ او شکر خدايه! غږ يې وکړ. خولې يې پاکې کړې. دوربين يې رواخيست. سترګو ته يې ونيوه. لاندې سيمې ته يې واچوه. ايخوا او ديخوا يې تاو راتاو کړ. له لږ ځنډ تاوولو وروسته يې اه غږ وکړ او ببري په بيړه ترې وپوښتل:

- څه شوي؟





- هغه ښځه چې له وسله والو سره وه، اوس يې په شګو کې خښوي. لکه چې وژلې يې.

د پېښې په ليدو د متين ستوني وچ شو او ببری هم وارخطا و. په وارخطايۍ يې ترې وپوښتل: اوس څه وکړو؟

متين څو شېبې غلی و، خو زړه يې صبر ونه کړ. دوربين يې رواخيست او لاندې يې په کې وکتل، زر يې له سترګو لرې کړ. د ښي لاس په ګوتو يې خپل تندی ونيو او زياته يې کړه:

- دغه ښځه وژلې. بايد ويې ژغورو.

- خو دوی ډېر دي؟

متين د ببري څېرې ته وکتل او بيا يې ځواب ورکړ:

- موږ راغلي يو چې دغه ډېر له منځه يوسو. خلک او هېواد ترې بې غمه کړو.

له دې خبرې سره سم متين روان شو او ببري هم په چوپه خوله حرکت پسې وکړ.

دواړو کله د يوې او کله د بلې ګورګورې تر څنګه ځانونه پټول. په دې ډول يې هڅه کوله چې وسله والو ته ځانونه ورنږدې کړي او ښځه د دوی له منګولو نه وژغوري.

له لږ ځنډ وروسته دوی د غره لاندې ډډې ته ورسېدل. دومره ورنږدې شول چې د وسله والو خبرې يې په اسانۍ اورېدلی شوې. متين او ببري سنګر ونيو. متين ببري ته کسان په ګوته کړل او ورته ويې ويل چې کله بريد کوو، نو ته به دغه کسان په نښه کوې او ولې به يې. زه به دا نور په نښه کړم.

ketabton.com - The Digital Library



وسله والو ښځه تر زنګونو پورې په شګو کې خښه کړې وه. ترې تاو کسان دې ته انتظار وو چې مشر یې د سنګسار امر ورکړي، خو په دې وخت کې د وسله والو تر منځ جنجال پیدا شو، ځینو یې ویل: دا به په ګولیو وولو او ځینو بیا زیاتوله چې نه، سنګسار کوو یې. یو تن غصه شو او دده په غصه کېدو ټول غلي شول، داسې ښکارېده چې دا یې مشر دی او څه ویل غواړي.

مشر یې له غصې نه په ډکه لهجه وویل چې دا باید سنګسار شي، زمونږ درې ملګري یې وژلي. دا زما پرېکړه ده او دا حق هم دی.

کله چې متین او ببري دا خبره واورېده، نو په حیرانۍ یې یو او بل ته وکتل. هلته کسانو ډبرې واخیستې، تر څو ښځه سنګسار کړي چې ناڅاپه د متین او ببري له لوري پرې د ګولیو باران جوړ شو. متین اول هغه څوک په نښه کړل چا چې د مشر امنیت ساته. پر متین او ببري باندې هم د وسله والو له لوري ډزې پیل شوې، خو د دوی ډزې غیرې منظمې وې او ناڅاپي برید وارخطا کړي وو.

جنګ لا روان و چې ببري د متین له امر نه سرغړونه وکړه. په خپل سر له سنګر نه پاڅېده او په داسې حال کې یې پر کوزېدو پیل وکړ چې یو نیم ډز به یې هم کاوه. ببري دا فکر کړی و چې نور ټول وژل شوي دي، خو دده اټکل غلط و. د شا له لوري دوه تنه راغلل. یوه یې ببری پر پښه زخمي کړ. بل په بیړه راغی، پر اس یې سپور کړ او همداسې زخمي یې له ځان سره یووړ.

متین د شا لخوا نه ډزې پرې وکړې، تر څو یې مخه راوګرځوي، خو په دې هڅه کې ناکام شو. متین خپل ټوپک په ځمکې وواهه. چیغه یې کړه او بیا یې د افسوس په ډول د سر په ویښتانو کې د لاسونو ګوتې کش





کړې، خو افسوس څه ګټه نه کوله. لږ پاتې و چې متین خپل حواس بایللي وای. د جنرال خبره ور یاده شوه چې ورته ویلي یې و: د پېښو پر مهال له قوي زغم او صبر نه کار اخله. ددې خبرې په وریادېدو یې حواس سره راټول شول. ټوپک یې رواخیست. شاوخوا یې وکتل. څوک نه و، نو په اختیاط، اختیاط د ښځې پر لور ورغی، تر څو هغه وژغورې.

کله چې متین ښځې ته ورلنډ شو، یوه شیبه یې د دښمن له ویرې شاوخوا وکتل. څوک نه و او بیا یې زر، زر د هغې د را ایستلو لپاره شاوخوا شګې ترې لرې کړې. هغه یې له خښېدو نه خلاصه کړه او ښځه په داسې حال کې چې په بوکره کې پټه وه، له کندې نه په خپله راوخته.

متین پوه شو چې د ښځې روغتیایې وضعیت ښه دی. غوښتل یې چې لږ ترې لرې شي، خو ښځې اوم، اوم، اوم... غږ کاوه او نور څه یې نه شول ویلی. متین بیا له مجبوریته پسې راغی. زړه نا زړه او شرم نیولی و چې بوکره یې ترې لرې کړه. د بوکرې له لرې کېدو سره یې د هغې څېرې ته په حیرانۍ وکتل. داسې حالت پرې راغی لکه خوب چې ګوري، نو سترګې یې ومونښلې. وروسته پوه شو چې دا یو حقیقت دی. په سترګو کې یې اوښکې ډنډ شوې او په لړزېدلي غږ یې وویل:

- للمې ته او...

خبره یې په ستوني کې ونښته او نور غلی شو.

د للمې په سترګو کې اوښکې ډنډ ولاړې وې. خوله یې تړلې وه او زنه یې رپېده. متین په داسې حال کې چې لاس یې لړزې اخیستی و، د هغې له خولې نه یې پلستر لرې کړ. بیا یې لاسونه چې شاته تړلي وو، خلاص کړل. للمې په سلګو، سلګو د متین غېږې ته ځان واچوه او په سلګو کې یې متین ته وویل چې ابا یې رانه وواژه. د للمې له خولې نه ددې جملې په



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



اوربدو متین ډېر خواشینی شو، خو حواس یې راټول کړل او للمې ته یې تسلیت ورکړ او ویې ویل: پرباز خان دې خدای ج رحم وکړي.

د للمې په زړه کې چې کله د وسله والو ویره لږ څه کمه شوه، نو ویې لیدل چې سر یې د متین په غېږکې ایښی. سپکه ورغورځېده. له شرمه تکه سره شوه. ټیکری یې پر سر سم کړ او متین ته یې په لړزېدلي غږ وویل: - زه خو ډېره ویرېږم، اوس به څه کوو.

متین چې د للمې ویره ولیده، نو زیاته یې کړه:

- مه ویرېږه، زه درسره یم.

للمې چې د متین خبره واورېده، نو د زړه درزا یې کمه شوه او داسې یې وانګېرله چې تکیه یې همدا متین دی.

متین د خړو اوبو بوی محسوس کړ. للمې ته یې وویل چې زر هغه لوړ ځای ته وخیژي، سیلاب راغی. للمې هم په داسې حال کې منډه واخیسته چې کله به یې د کمیس لمن او کله به یې ټیکری په ازغنو بوټو کې نښتی و، خو له دې سره، سره بیا هم لوړ ځای ته ځان ورساوه.

متین په بیړه دوه ټوپک غاړې ته واچول او یو یې په لاس کې واخیست. ده لا حرکت نه و کړی چې سیلاب په چټکۍ رانږدې شو. د سیلاب په لیدو للمې سوي چیغې پرې وکړې چې ځان خلاصوه، ګني وړي دې.

متین په منډه د غره څنډې ته وخوت او سیلاب د وسله والو مړي له ځان سره واخیستل. سیلاب دومره لوړ روان و چې د سیمو خلکو تر اوسه دومره ډېر سیلاب نه و لیدلی. دغه سیلاب پر هغه کال په خوست کې هم ډېرې ځمکې لاندې کړې. کورونه یې ونړول او ډېری خلک یې له ځان سره





یوووړل. کله چې د ځدرانو له غرونو سیلاب راووځي، نو د خوست خلک بیا په کې د لرګیو د نیولو کوښښ کوي او بالاخره یې دغه اوبه یوسي.

د متین زړه ستړی، ستړی کېده چې د للمې خواته ور ورسېده. للمې چې دده ستړیا ولیده، نو ورته ویې ویل چې دا یو ټوپک ماته راکړه او که کوم ځای کې بند راتلې، زه به مرسته درسره کوم. متین یې سترګو ته وکتل. زړه یې پرې وسو او بیا یې په مهربانه لهجه وویل:

- تا د ټوپک ویشتل زده دي؟

- هو!

- کله دې ډز پرې کړی؟

د متین پر دې خبره د للمې په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې. لاړې یې تر ستوني تېرې کړې او بیا یې په غریو نیولي غږ ځواب ورکړ:

- یو ځل مو مخکې پر کور برید وشو. هغه وخت کې مې له پلار سره په جنګ کې برخه واخیسته او لومړی ځل و چې په ټوپک مې ډزې وکړې. بل همدا اوس چې دغو ظالمانو زما پر پلار برید وکړ، خو اخر... . د للمې خبرې د هغې سلګیو غوڅې کړې او متین هم پرې پوه شو چې ته څه ویل غواړې.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



شپه له نیمې تېره وه. سپوږمۍ کمزوري رڼا کوله. د غره ځناورو اوازونه کول. کله، کله به له لرې نه د وسلو ډزې واورېدل شوې، ته وا چېرته جګړه پېښه ده.

للمه چې ټوله ورځ یې په منډو، جګړه او ویره کې تېره کړې وه، د متین واسکټ یې د بالښت په ډول ورته جوړ او خوب وړې وه، خو متین بیا ببري ته غمجن و، ځکه نه پوهېده چې وژلی به یې وي او که ژوندی به ورسره وي. خوب یې له سترګو الوتی او وینښ ناست و.

بل خوا للمې ته اندېښمن و، ځکه دا هم یو پېټی و، خو مجبور و چې هم جګړه وکړي، هم هدف ته ځان ورسوي او هم للمه خوندي وساتي. پر





دې سر بېره که څه هم متین زړور ځوان و، خو نن یې د ویرې احساس کاوه. چېرې به چې د څه شي ټک شو، نو دده زړه به په ګوګل کې په ټوپونو شو. متین په همدې ویره کې پاڅېده. تیمم یې وواهه. بیا یې الله ج ته دوه رکعته نفل لمونځ وکړ. د خدای ج دربار ته یې د دعا لاسونه لپه کړل او په زاریو یې وویل چې یاالله ج ته مې په دې ماموریت کې کامیاب کړې. خدایه ته دومره توفیق راکړې چې للمه هم وساتلی شم او ... . کله چې متین دعا خلاصه کړه، نو پاڅېده او د هغې تیږې ډډې ته یې ځان ورساوه چې لږ وړاندې ناست و.

په دې ځای کې للمې چیغې کړې. داسې چیغې یې وکړې چې متین یې سخت وویراوه. متین غږ پرې وکړ چې څه پېښه ده، خو للمې همداسې چیغې وهلې. متین ددې لپاره چې غږ یې دښمن وانه وري، د هغې په خوله یې لاس ونیو او بیا یې وپوښتل چې څه دربانډې وشول؟

للمه چې په هوښ شوه، نو په ویرېدلي غږ یې متین ته وویل: په خوب کې مې د ورځې پېښه لیده. وسله والو غوښتل چې ما وتښتوي او بیا مې ووژني. زما پلار یې زما د سترګو پر وړاندې وواژه. متین ډاډ ورکړ چې هېڅ خبره نشته. ته پرېوزه او ویده شه، خو للمې ورته وویل چې زه له تا نه لرې نه ځم، ځکه سخته ویرېږم. متین غلی غوندې د هغې سر پر خپله سینه تکیه کړ، تر څو ډاډه اوسېږي او ونه ډاره شي.

متین هم له ډېرې ستونزې نه د شپې په نیمایي برخه کې ویده شوی و. ده چې کله له خوبه سترګې وغړولې، نو زیړ لمر پرې راختلی و. په وارخطایۍ پاڅېده. شاوخوا یې وکتل. للمه نه وه، حیران شو چې دا څه شوه؟ دوربین یې رواخیست. شاوخوا یې للمه پکې وکتله او هم یې د دښمن څار وکړ چې هسې نه دلته نږدې وي، خو په دې دواړو کې یو هم په



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



نظر نه ورغی. له مجبورۍ يې په للمه پسې غږونه وکړل. للمې وه للمې... ده که هر څومره نارې ووهلې، خو د للمې درک مالوم نه شو.

متين نور له ځان سره تصميم ونيوه چې دغه ځای بايد پرېږدي، ځکه ډېر پاتې کېدل ورته ښه نه دي. ټوپکونه يې رواخيستل او روان شو. همداسې يې په للمه پسې هم کتل، تر څو پيدا يې کړي. په همدې حال کې چې کله له يوې غونډۍ نه واوښت نو پر للمه يې نظر ولګېده. اور يې بل کړی و. لوګی ترې خوت. خدای زده چې څه يې پخول، خو د متين غصه يې راوپاروله.

متين په همدې غصه کې په ګړنديو قدمونو ورغی. ورنږدې شو او له ورنږدې کېدو سره سم يې له قهر نه په ډکه لهجه وويل:

- تاته چا ويلې و چې تر دې ځايه يوازې راشه او ته دا حالت نه وينې؟

للمې چې د ډوډۍ تبۍ ته ورته په نرۍ تيږه پسې لاندې اور بل کړی و، نو اول يې د متين خبرې ته وکتل. پوه شوه چې غصه دی او بيا يې په خوږه لهجه ځواب ورکړ:

- پورګې پخوم. ( پورګې هغه يو ډول ترخه غرنۍ مېوه ده چې په غرونو کې يې ولاړې خبرې نيسي. )

ددې خبرې په کولو يې د ګرمې تيږې له سر نه اورته ( وريته ) شوې پورګې رواخيستل. لږ يې ځان ته پرېښودل او ډېر يې متين ته ونيول، خو متين ورته وويل: زه يې نه خورم. راځه چې له دې ځای نه زر لاړ شو، ځکه دښمن هره شيبه زموږ د پيدا کولو په لټه کې دی.

للمې بې له څه ويلو له متين نه خپل ټوپک واخيست. غاړې ته يې واچوه او دواړه د زنغوځيو، خېړيو او نښترو په ګڼ ځنګل کې روان شول.





کله چې يې لږ مزل کاوه، نو متين يو ځل بيا نقشې ته وکتل. د نقشې له کتو سره يې سر وښوراوه او ويې ويل چې اوس هدف ته نږدې يو او که ببرۍ يې وژلی نه وي، ژغورل يې ضروري دي.

للمې د نقشې په ليدو له متين نه وپوښتل:

- دا کاغذ دې څه شي دی؟

- دا نقشه ده.

- نقشه يې څه بلا وي؟

متين يې په سترګو کې سترګې وګنډلې او بې له ځنده يې وويل:

- دا به يوه بلا وي.

للمه هم په کړه خبره وپوهېده. سر يې ښکته کړ. اضافي پوښتنې يې پرېښودې او ورسره روانه شوه.

په غرنۍ سيمه کې د مزل پر مهال د للمې پښې پرښو او تيږو زخمي کړې. بالاخره يې متين ته وويل چې نور مزل نه شم کولی، ځکه پښې مې ډېر درد کوي. متين ورته وويل چې ته دلته کېنه. زه زر راځم. متين په ونو کې ځان ورک کړ. له لږ ځنډ وروسته چې راغی، نو هغه ګنجی ( بنيان ) په لاس کې ورسره و چې ده د کميس لاندې اغوستی و. څيرې يې کړ. بيا يې ريتاړې د للمې له پښو نه تاو کړې، تر څو مزل وکړای شي او پښې يې له درده وژغوري.

کله چې متين د للمې له پښو نه ريتاړې تاو کړې، نو په ځای کې ودرېده. شاوخوا يې وکتل او بيا يې وويل:

- درځه! پر هاغه کنډو به واوړو.

للمې چې د متين دغه رحم او مهرباني وليده، نو زړه يې لا ور ړنګ شو او دده سترګو ته يې له مينې نه په ډک نظر وکتل. له ډېرې مينې يې



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



زړه په ګوګل کې په ټوپونو شو. حتی دومره تېز غورځېده چې په درزا یې متین هم پوه شو. للمه په ساه کې لوړه وه. متین هم په خواږه نظر ورته وکتل. هغې له شرمه سترګې ټيټې کړې، نو متین ورته وویل: للمې راځه، چې ناوخته دی. د متین پر دې خبره دواړو په پرښو او تیږو کې مزل پیل کړ. په مزل کې که متین هر څومره ښه و، خو للمه هم ترې کمه نه وه، ځکه دا په غره کې لویه شوي پېغله وه او په همدې غرونو کې یې خاپوړې کړې وې. پښې یې، ځکه زخمي شوي وې چې یېلې پېښې وه. په تګ، تګ کې متین للمې ته مخ ورواړوه او زیاته یې کړه:

- ګوره! د هر قدم په اخیستلو د پېښې ځای ته نږدې کېږو. کله، کله داسې هم کېږي چې له دښمن سره مخامخ شو او زه د هغه د وژلو هڅه وکړم، خو ته به ځان په واک کې ساتې او چیغې به نه وهې، ځکه ستا چیغې به مونږ دواړه د مرګ خولې ته ورکړي.

للمې له مسکا نه په ډک نظر ور وکتل او و یې ویل چې سمه ده. متین چې د للمې مسکا ولیده، نو په اصطلاح زړه یې باغ، باغ شو، ځکه د هغې مسکا ورته په زړه پورې وه، خو زر یې پام شو او خپل حالت یې سمبال کړ.

دوی دواړو له ښه مزل وروسته نور کنډو ته نږدې وو چې د للمې کمیس په پرښه کې ونښت او څېرې شو. له دې سره سم یې متین ته غږ کړ:

- متینه! کمیس مې...

متین چې مخ ور واړوه، نو د للمې یو بغل ښکاربده او کمیس یې څیرې و. متین چې دا حال ولید، نو په بیړه یې ببرته مخ ترې واړوه. له لونګۍ نه یې یوه ټوټه پرې کړه او هغې ته یې ور وغورځوله چې خپل ځان





پټ کړي. للمې د کمیس څېرې برخې سره یو ځای کړې او د لونګۍ ټوټه یې ترې تاو کړه.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



وسله وال کس چې پیره ولاړ و، تر څو یې ځان سره سماوه، متین ور ورسېده او له ځان سره یې ژورې کندې ته خطا کړ. د سړي له لاس نه وسله او مخابره وغورځېدل، خو په زور کې له متین نه کم نه و. دواړو یو او بل خولې، خولې ته په سوکانو ووهل. کله به یې یو لاندې کړ او کله بل. له ډېر کش او ګیر وروسته یې نه یوازې متین سترې کړ، بلکې پوره یې وارخطا کړی و. للمه پوه شوه چې متین یې وارخطا کړ، نو د څېرې لرګي ته یې لاس کړ او هغه بل سړی یې پر سر وواهه. درانه ګوزار د سړي سر وګرځاوه او پر ځمکه راپرېوت. متین هم له موقع نه ګټه واخیسته او څو ګزارونه یې سر په سر ورکړل چې په دې سره سړی بیخي له کاره ولوېده.

متین پوه شو چې سړی نور د ولاړېدو نه دی، نو ځکه یې وار له واره ترې وپوښتل:





- پرون چې مو راوړ، هغه سړی چېرته دی؟

سړي د (نه) په دود سر وښوراوه.

- د مخابرې نوم د څه دی؟

سړي چې سترګې وغړولې، نو د متین څېره ورته ګډوډه ښکارېده. سر یې ګرځېده. د ونو سرونه یې ولیدل چې ترې څرخېدل او حال یې ډېر خراب و، په لړزېدلي غږ یې وویل:

- خنجر طالب!

متین چې هر څومره هڅه وکړه چې سړی په خبرو راولي، خو هغه یا د حال ویلو نه و او یا یې نه غوښتل چې نور څه ووایي. بالاخره متین مجبور شو چې للمې ته ووایي، ته د هغې ونې لاندې لاړه شه او زه هم درځم.

للمه چې لاړه، نو متین د سړي کار ورخلاص کړ او ویې واژه. بیا یې کالي، بوټونه او ټول لباس ترې وویست او خپله یې واغوست. له هغه وروسته یې خپل کالي للمې ته وروړل چې خپل زنانه کالي لرې کړي او د نر کالي واغوندي. للمې هم همداسې وکړل. خپل کالي یې لرې او د متین کالي یې واغوستل چې سم دم سړی ترې جوړ شو.

للمه د متین خنګ ته راغله. د هغه وینې شونډه یې ولیده. د ټیکري پیڅکه پسې یې رواوړله او وینې یې ترې پاکې کړې. متین یې سترګو ته وکتل او بیا یې په نرمه لهجه ورته وویل چې ته چېرته پټه کېنه. زه د سړي پر ځای لږه پیره کوم او کېدای شي چې په دې ډول د ځان لپاره څه لار خلاصه کړو.

متین د وسله والو په لباس کې پیره دار شو او په مخابره کې یې د دوی غږونه اورېدل چې پر یوه او بل یې پر مستعارو نومونو نارې وهلې.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



د پولیسو ځوان آمر چې اوس کټ مټ وسله وال جنګیالی ښکارېده، تر څو ساعتونو پورې پیره وکړه، خو ده ته چا د ‹ خنجر طالب › په نوم غږ ونه کړ. متین دې حالت کړار، کړار د مایوسه کېدو پر لور روان کړ. فکر یې وکړ چې هسې نه وژل شوي کس دوکه کړی وي او غلط نوم یې ور ښودلی وي.

دی لا په دې کش مکش کې و چې په مخابره کې غږ شو:

- خنجر طالب، خنجر طالب!

متین د مخابرې تڼۍ په غټه ګوته کېکاږله او ویې ویل:

- جنابه اورم.

- تندر طالب پیرې ته درغی، ته دې خپل ځای ته راشه.

- سمه ده، قوماندان صاحب!

متین چې دا خبره واورېده، نو پر بدن یې د ویرې لړزه راغله او زړه یې هم په ټوپونو شو. لږ وروسته یې پر هغه کس هم سترګې ولګېدې چې ورته راویې لیږه. د هغه په لیدو یې وارخطایي نوره هم زیاته شوه، نو زر، زر یې ایت الکرسي پر ځان چوف کړه. له جیب نه یې سورت یاسین رواخیست. ښکل یې کړ او الله ج ته یې دعا وکړه چې ته بری راکړې. دغه شیبه چې سړی هم رانږدې کېده، د جنرال خبره د تېر په څېر بیا ور یاده شوه چې ورته ویلي یې وو: " د یوه هدف د تر لاسه کولو لپاره کلک هوډ او زړورتوب ته اړتیا ده. " له دې سره سم هغه کس ورته رانږدې شو او د متین ویره هم تر ډېره راکمه شوه.

متین ته چې کله سړی راورسېده، نو پرې شکمن شو چې دا بل څوک دی. هغه چې ټوپک ته لاس کاوه، نو متین د ټوپک کونداغ ورسره کړ او





په دوهم وار یې سړی د ځمکې مخ ته کړ. د سړي له نسکورېدو سره سم متین وسله او مخابره ترې واخیستل او ورسره جوخت یې ترې وپوښتل:

- پرونی سړی مو چې راوړ، هغه چېرته دی؟

سړي خوله له وینو پاکه کړه. بېرې ځنې یې له سترګو پورته کړې او متین ته ددې پر ځای چې ځواب ورکړي، یوازې وکتل.

متین بیا خپله پوښتنه تکرار کړه، خو دا ځل سړي د هغه مخ ته لاړې ور تو کړې او د ورک شه غږ یې وکړ.

متین پوه شو چې حال نه وایي. د ټوپک له خولې نه یې ګاز وویست او بیا یې د هغه په سترګه کې ورټینګ کړ. دا درد د وسله وال لپاره د زغملو نه و، چیغې یې کړې، خو متین یې زر په خوله پسې لاس ونیوه او چیغې یې چا وانه ورېدې. کله چې د سړي بغارې کرارې شوې، نو متین بیا هغه پوښتنه تکرار کړه:

- پرونی سړی مو چې راوړ، هغه چېرته دی؟

سړي په سترګه پسې د لاس ورغوی نیولی و. درد یې کاوه او په همدې حال کې یې ځواب ورکړ:

- هغه د غره په ډډه کې په یوه غار کې تړلی پروت دی.

- اقرار یې کړی؟

- اقرار چې یې کړی وای، نو اوس به ژوندی نه و.

- د مشر نوم مو په مخابره کې څه دی؟

- کوم مشر؟

- جبار درته یادوم.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



وسله وال کس چې د متین په پښو کې پروت و، په زاریو یې پیل وکړ. ویې ویل چې ما مه وژنه او وعده راسره وکه چې نه دې وژنم. که چېرې ته ما نه وژنې، زه به تاته ډېر رازونه ووایم او خبر به دې کړم.

متین شاوخوا وکتل او بیا یې وویل:

- که پوره مرسته راسره وکړې، نو نه دې وژنم او د جبار نوم په مخابره کې څه دی. ووایه! هسې وخت مه ضایع کوه؟

- غازي سنګر.

- ستاسو ټول کسان یو ځای ټولیږي ؟

- هو! لږ وروسته د غرمې ډوډۍ ته ټولیږي.

- زما د پیرې ځای اوس چېرته دی چې د بل پیره دار پر ځای ورشم.

- د هاغې لویې څېړۍ لاندې ډبرینه کوټه وینې، هغه د ای ایس ای کسانو دفتر دی او د هغوی د دفتر مخې ته ستا پیره ده.

متین غوښتل چې ددې کس لاسونه، پښې او خوله ور وتړي، خو په یوه شیبه کې وسله وال کس دده له کمربند نه خنجر واخیست. پر متین یې وار وکړ او پر کینه اوږه یې زخمي کړ. متین هم د سترګو په رپ کې د هغه لاس تاو کړ. خنجر یې تر واخیست او د هغه غاړه یې ورپرې کړه. کندې ته یې کش کړ او کالي یې ترې وویستل. له هغه وورسته د للمې پر لور ورغی. للمه همداسې پټه ناسته وه. ده کالي ورکړل او ورته ویې ویل چې اوس زما کالي لرې کړه او دا واغونده چې له دې کسانو سره مو فرق ونه شي.

للمې ولیدل چې د متین له اوږې وینې بهېږي، په وارخطايۍ یې ترې وپوښتل:

- زخمي یې؟





- نه، ډېر نه یم خوږ.

- ته راښکاره کړه.

- نه، لاس مه وروړه، ښه یم.

للمې د متین خبرې ته غوږ ونه نیوه. د هغه لستوڼی یې پورته کړ، تر څو یې زخم وګوري. کله چې یې ولید، نو ویې ویل: او هو دا خو ډېر خوږ شوی یې او زیاته وینه ترې بهېږي. ته دلته کېنه چې زه یې درته وتړم.

متین کېناست. للمې په بېړه د زنګوځې له تنې نه ژاوله پرې کړه. بیا یې د زخم خوله سره ور وستله. له هغه وروسته یې ژاوله پرې کېښوده او ټوکر یې ترې تاو کړ. د متین پر حالت د للمې زړه وسوزېده. په خواږه نظر یې ور کتل. مینه یې پرې راغله. هیجاني شوه. لاس یې ورنږدې کړ. غوښتل یې چې د متین مخ ته یې ور وړي، خو هغه ترې شاته شو او پاڅېده.

که څه هم د متین د اوږې زخم درد کاوه، خو د وینې له ضایع کېدو نه یې زړه بې غمه شو.

للمې هم د متین په څېر د وسله والو په شان ځان برابر کړ. د شاجورو ډک کمربند یې واچوه او ټوپک یې لاس ته کړ. متین للمې ته وویل، ته به زما پر ځای پیره داره شې او زه لاندې ورکوزېږم. که لاندې جګړه ونښته، ته ډزې مه کوه. که پوه شوې چې وسله وال ستا پر خوا راځي او یا هم د شا لخوا نور څوک راتلل، نو په هغه وخت کې درته اجازه ده. بل دې فکر وي چې ببرې هم ژوندی ورسره دی او د هغه ژوند ته ګوابښ باید متوجه نه کړو.

شکر خدایه، شکر... للمې د ببرې پر ژوندي پاتې کېدو شکرونه وویستل. متین په پیل کې د دوربین په واسطه شاوخوا کسان او ځایونه



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



وځارل، خو چې کله روانېده، د للمي سلګۍ یې واورېدې. ورته ویې کتل او بیا یې وپوښتله:

- ولې ژاړې؟

للمي د متین خفګان نه شو زغملی. په زوره یې په ستوني کې سلګۍ تربتې کړې او بیا یې ځواب ورکړ:

- هسې پر تا مې زړه سوزي...

متین چې د للمي اوښکې ولیدې، نو په زړه کې یې د درد څریکې تېرې شوې. ورنږدې شو. د لاس په ورغوي یې د هغې پر مخ را رواني اوښکې پاکې کړې. للمي هم دده لاس ونیوه. خپلو شونډو ته یې نږدې کړ، خو متین لاس ترې کش کړ او ورته ویې ویل:

- ته مه وارخطا کېږه. انشاالله بری به زما او ستا وي.

یوه شیبه یې د للمي سترګو ته په مینه، مینه وکتل، خو دده له کتو نه للمه وشرمېده او سترګې یې ټیټې کړې. متین د للمي دې انداز ته مسکی شو او بیا یې د دښمن پر لور حرکت پیل کړ. خو شیبې وروسته ورسېده. هلته په رسېدو سره یې که څه هم په زړه کې یو څه وېره وه، خو په ظاهر کې یې پر ځان څوک نه پوهول. زړور ورغی او د ای ایس ای د کسانو دفتر مخې ته پېره شو. پر لاس تړلي ساعت ته یې وکتل. ډوډۍ خوړلو ته لا هم څه کم یو ساعت پاتې و. د ننه په ډېرین دفتر کې ناستو کسانو د خپلو لاسته راوړنو په اړه خبرې کولې او بادارانو یې په کرس، کرس ورته خندل. متین ټولې خبرې اورېدې، خو که د خدای ج خوښه وي، لږ وروسته به هر څه ګډوډ شي او هېواد به له شر نه خلاصون ومومي.

دغه څه کم یو ساعت وخت د متین لپاره له یو کال نه هم اوږد شو. نه یې غوښتل چې دغه زرین او طلایي چانس له لاسه ورکړي. په دې وخت





کې د جنرال هغه ورکړې اله ورياده شوه چې ورته ویلي یې وو: " هر وخت چې په کوم ځای کې بند راغلې، نو ددغه الې تنۍ کېکاږه او موږ به ځانونه در ورسوو." متین څو ځلې هغې تنۍ ته فشار ورکړ او د دوی د مرستې په انتظار شو، خو الې نه شین او نه سور غمی ولګاوه او نه هم د ډوډۍ د وخت تر پوره کېدو پورې څوک راښکاره شول چې مرسته ورسره وکړي. پاس یې وکتل. د ننبتر په سر کې د انتن په شان اله نسب شوې وه. کېدای شي چې دا اله د سیګنالونو د کته کولو اله وي او د متین الې به هم د همدې له امله کار نه کاوه. بالاخره یې په زړه کې فیصله وکړه چې هر ډول کار باید په خپله تر سره کړي.

هغه شیبه هم رالنډه شوه چې وسله وال یو، یو د ډوډۍ خوړلو ځای ته روان وو، راټولېدل. اشپز هم دسترخوان هوار کړ او وچه ډوډۍ یې پرې واچوله. له دې وروسته یې یوه بل ته غږ کړ: هلکه! ته قوماندان صاحب غازي سنګر ته ډوډۍ ور وړه.

هغه کس راغی. اشپز ډوډۍ په لاس ورکړه. متین یې حرکتونه څارل او د جبار کړته یې ښه مالومه کړه.

ټول یې ډوډۍ ته کیناستل. یوازې درې کسان په پېره کې پاتې شول، تر څو پر دوی پېره وکړي. متین هغوی هم تر نظر تېر کړل او دا لار یې ورته ولټوله چې وروسته له دوی سره څه ډول جګړه وکړي.

کله چې دوی ډوډۍ ته سره راټول شول، نو متین ته یې هم غږ کړ: راځه! ته ولې ولاړ یې؟

متین هم ور روان شو او په تکه کې یې د ټوپک پر شپېلۍ د قرآن کریم سورتونه چوف کړل چې هسې نه د ډزو په وخت کې وربند شي. پر ټوپک یې له اول نه مرمۍ تېره کړې وه. کله چې متین ځان مناسب ځای ته



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



ورساوه، ډوډۍ ته پر راټولو کسانو یې اور بل کړ او په ضرب د څو دقیقو کې یې ټول له منځه یوړل. پیره درانو چې وضعه ولیده، ډزې یې پیل کړې. متین ځان وغورځاوه، خو دغه درې تنه د شا لخوا بل چا په ډزو ووژل چې دې کار متین هم حیران کړ.

متین په یوه سترګه د جبار خونه څارله او له بل لوري یې د ای ایس ای کسانو کوټې ته ځان ورساوه. هلته په رسېدو سره یې دروازه څو ډزه وویشته. بیا یې کرار ور پرانیست او غږیې ور وکړ چې د باندې راووځئ. د ای ایس ای کسانو که څه هم غږ واورېده، خو په اول غږ راونه وتل. متین ډزې پرې پیل کړې. شیبه وروسته په کوټه کې چیغې شوې چې ډزې مه کوه. موږ ځانونه درته تسلیموو. کله چې دوی راووتل، نو درې تنه وو. په دې وخت کې د ننه له لوري ډزې پرې وشوې. متین ځان یوه څنګ ته کړ. له بم نه یې کیلي وویسته او بیا یې کوټې ته ور وغورځاوه. څو ثانیې وروسته چاودنه وشوه. په کرکیو لمبې راووتې. د بم په برید کې د باندې دوه تنه ووژل شول او یو پاتې شو. متین هغه ته وویل چې په ګونډو شي. هغه یې په ګونډو کړ او لاسونه یې تر شا ور وتړل.

بل لور ته جبار هم له خپلې کوټې راووت او پر متین یې ډزې پیل کړې. متین هم متقابلې ډزې شروع کړې، خو جبار له لږ جنګ کولو وروسته په منډه شو. همدا شیبه هغه بل کس چې درې پیره داران یې ووژل، زنګون وواهه. سترګه یې پټه کړه. ننبه یې پرې راوړه. پر پښه یې وویشت او نسکور یې کړ.

متین په داسې حال کې چې دده له پلوي کس سره یې ډېر احتیاط کاوه، تر جبار پورې ځان ورساوه. د هغه څېره یې ولیده. په خپله همغه سړی و چې جنرال یې متین ته د امین جان د ساعت له میمورۍ نه انځور





ورکړې و. دلته جبار د ټوپک شپېلۍ متین ته برابره کړه. ډزې یې وکړې، خو متین ځان پر ځمکه وغورځاوه. جبار ته مرمۍ ور خلاصې شوې، نو همداسې یې پر متین د ټوپک وار وکړ، خو متین سر ترې ټیټ کړ. کله چې متین هغه بې وسلې ولید، نو ورلنډ شو. یوه شیبه یې د هغه خونکارې څېرې ته وکتل. بیا یې جبار د ټوپک په کونداغ وواهه او پښه یې پرې ماته کړه.

جبار چې ډېر ظالم سړی و او ځان یې هم ډېر کلک ښوده، خو د متین له دې ګوزار سره یې چیغې اسمان ته پورته شوې او د هډوکو درد ورته د زغملو نه و. دی لا په دې دردونو کې و چې متین دا ځلې ښی لاس ورته مات کړ او له دې سره جوخت یې په زاریو پیل وکړ: د خدای ج لپاره ما مه وژنه، ځکه کورنۍ او ماشومان مې دي، خو متین یې هېڅ خبرو ته پام ونه کړ او یوازې یې ترې وپوښتل:

- غریب او بې وزله ځوانان دې ولې ترور کول؟

جبار ورته وویل چې ما هېڅوک نه دي وژلي. متین د ټوپک خوله پرې زواروله او څو ډزه یې نور هم پر دې پښو، پښو وویشت او بیا یې پوښتنه تکرار کړه.

جبار ورته وویل:

- ژوند مې وژغوره. زیاتې وینه رانه بهیږي او زړه مې سستي کوي.

- تر هغو دې نه ژغورم، تر څو چې هر څه راته ونه وایې.

جبار چې له خپل بدن نه روانه وینه ولیده، نو د مرګ اژدها یې هر شیبه سترګو ته درېده او بې له ځنډه یې خوله خلاصه کړه:



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



- ما ته د پاکستان استخباراتو پیسې راکوي. زه د دوی لپاره قومي مشران، دولتي چارواکي، استادان او عامه تاسیسات له منځه وړم. د ځدرانو په سیمه کې مکتبونه، نه پرېږدم او کوښښ کوم چې سیمه یې نا امنه وساتم...

متین یې خبرې پرې کړې او بیا یې وپوښتل چې هغه ځوانان مو ولې ووژل؟

دا ځل د جبار غږ تر پخوا ټیټ و او زیاته یې کړه:

- پر ځوانانو مو د خپلې ډلې لپاره له یو ځای نه بل ځای ته وسلې، چاودېدونکي مواد، تبلیغاتي پاڼې او نور شیان وړل، خو چې کله به یې انکار وکړ، نو هغه مو وژل. بل مو د دوی په واسطه د دولتي چارواکو اختطاف او ترور هم کاوه.

- دا هر څه کوئ، خو د طالب په جامه کې. په دې مسایلو کې د امین جان غریب له ۲۲۰ شمېرې نه هم کار اخلې او د هغه کورنۍ مو د ویر پر ګډۍ کېنوله، هداسې نه ده؟

- همداسې ده.

د متین سترګې له غصې نه رډې راختلې وې، په همدې حال کې یې بله پوښتنه وکړه:

- په خوست کې څومره کسان لرئ؟

- زما په کوټه کې کمپیوټر شته، ټول مالومات په هغه کې دي، خو ما وژغوره. جبار همداسې نور ډېر څه ویل غوښتل، خو د متین اعصاب ورته خراب شول. همداسې یې پسې ضربه کړ او له جبار نه یې خلک بې غمه کړل. متین چې کله ترې روانېده، نو د هغه مړي ته یې وکتل او بیا یې





له ځانه سره وویل: تا له قانون نه لوړ جرمونه کړي دي، ځکه باید ووژل شې.

له دې وروسته متین په بیړه د جبار کوټې ته ورننوت او کمپیوټر یې له ځان سره واخیست. کله چې له کوټې نه راووت، نو هلته وسله وال کس چې د متین په ګټه یې کار وکړ، همداسې ولاړ و او شاوخوا یې کتل. متین غږ پرې وکړ چې وسله وغورځوه، خو هغه ورته وویل چې زه دې ملګری یم، وسله نه غورځوم.

متین بیا ورغږ کړ:

- ته څنګه او له کوم لوري زما ملګری یې؟

- ستا په اړه باز خان خبر راته لیږلی و چې مرسته ورسره وکړه او ما هم مرستې ته در ودانګل.

له دې خبرې سره سم وسله وال کس را روان شو، تر څو متین ته راشي، خو په دې ځای کې یوه زخمي وسله وال سر پورته کړ. هغه یې ضربه کړ او ځای پر ځای یې وواژه.

متین په بیړه پر زخمي وسله وال ډزې وکړې او له دې نړۍ نه یې رخصت کړ. د ای ایس ای نیول شوي کس ته راغی. څو پوښتنې یې ترې وکړې، خو هغه په اردو خبرې کولې او په اردو متین نه پوهېده، نو پنجابی یې بې ګټې وباله او ځای پر ځای یې وواژه. وروسته متین هغه غار ته منډې کړې چې ببرې یې په کې تړلې و.

هلته په رسېدو یې ببری ولید چې په غار کې تړلی او له ډېرو وهلو او ډبولو نه بې هوښه پروت دی. په همدې حال کې وسله والو کسانو د هغه په خوله کې مېږي هم ورخوشي کړي دي. په بیړه یې هغه رواخیست. زخمي شوي پښه یې تړلي وه. ولاړ موټر ته یې واچوه او للمې ته یې هم



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



نارې کړې چې زر راشه. هغه هم لږ ځنډ وروسته راورسېده او موټر ته ورسره وختله. متين د وسله والو موټر په تېزۍ سره روان کړ او له څه کم يو ساعت مزل وروسته يې ځان د تنګي ځدرانو عمومي سړک ته برابر کړ.

کله چې د خطر له ځای نه راووتل، نو متين خوشالي وکړه. د للمې پزې ته يې ګوتې ور وړې او په شوخۍ يې ورته وويل:

- ناداني خنګه يې ؟

هغې يې لاس په دواړو لاسونو کې ټينګ ونيوه. شونډې ته يې نږدې کړ او بيا يې په ژړغوني غږ ځواب ورکړ:

- ښه يم، خو د پلار غم مې پر زړه ډېر زور کړی دی.

د للمې پر دې خبره د متين خوشالي لاړه. په سترګو کې يې اوښکې ډنډ شوې او ويې ويل: ددې ظالمانو له لاسه ډېر دوستان او ملګري قرباني شول.

متين له څو مياشتو اوږده سفر، له ډېرو خطرونو او ګوابنونو وروسته د خوست او کابل عمومي لارې ته راووت او په ډېره خوشالۍ يې د خوست پر لوري مزل ته دوام ورکړ. د مازديګر لمر په ډوبېدو و چې د بل چا له مبايل نه يې د ملکي روغتون رئيس ته زنګ وواهه چې په بېړه امبولانس ور ولېږي. دی چې کور ته رسېده، نو امبولانس هم په کوځه کې ښکاره شو. ببرې يې  په دواړه مخه ښکل کړ. بيا ډاکټرانو امبولانس ته پورته کړ او روغتون ته يې د درملنې لپاره يووړ.

د دروازې مخې ته چې د متين مور د موټر غرهار واورېده، نو لوڅ سر د باندې راووته او پر متين يې سترګې ولګېدې. ټينګ يې په غېږ کې





ونيو او په سلګو کې يې شکرونه وويستل چې په خير کور ته راستون شو. کله چې يې متين پرېښود، نو للمې ته يې وويل: زويه ! ستړې مه شې.

متين شين شو او په خندا يې وويل: ادې جانې دا للمه ده، د باز خان لور او د سړي جامې يې اغوستې دي.

ددې خبرې په اورېدو د متين مور ټکنۍ شوه، خو بيا يې هم للمې ته ستړي مه شې ورکړه. کله چې کور ته سره ننوتل، نو للمې ته يې خپل کالي ورکړل او ورته ويې ويل: ها، اوس دا واغونده. کله چې متين بازار ته لاړ شي، ښايسته کالي به درته راوړي.

للمه چې بلې کوټې ته په کاليو بدلولو پسې لاړه، نو مور يې متين ته له غصې نه په ډکه لهجه وويل: دا سمه ده چې باز خان زموږ دوست دی، خو بيا هم له تا سره ددې جينۍ راتګ مناسب نه دی، ځکه د پښتو وطن دی، خلک به څه وايي، ها...

متين په خندا، خندا کې د مور له غصې نه ډکې خبرې پرې کړې او د للمې په اړه يې ټوله کيسه ورته وکړه چې وروڼه او تره يې څنګه وژل شوي وو. بيا يې پلار څنګه ووژل شو او بالاخره يې للمه څنګه د وسله والو له منګولو نه خلاصه کړه...

د متين مور چې دا کيسه واورېده، نو پر للمه يې زړه وسوزېده. د زړه له درده يې وخ، وخ، خوارکۍ څو ځله تکرار وويل او نور يې متين ملامت نه باله.

کله چې شپه تېره شوه، نو په سبا ورځ سپين ږيری جنرال او څو نور لوړ پوړي نظامي چارواکي متين ته د مبارکۍ لپاره ورغلل. جنرال متين په غېږ کې ونيو او ورته ويې ويل: زويه! هېواد پر تاسو وياړي، ته يو اتل يې.



https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library



له جنرال سره نورو کسانو هم متین ته ددې لوی ماموریت د تر سره کولو مبارکي ورکړه. کله چې جنرال دوی ببرته ترې روانېدل، نو متین ته يې وويل: د یک شنبې په ورځ به له کورنیو چارو وزارت نه لوړ پوړی هیئت راشي. ستا په ویاړ به لویه غونډه جوړه و او رتبه هم درکوو.

د متین پوښتنې ته دولتي چارواکي، ملګري، دوستان او کلیوال ډلې، ډلې راتلل او پرې پنډېدل. څو ورځې همدا حال و، خو کله چې د مېلمنو زور کم شو، نو د متین مور غلې غونډې متین ته وويل:

- زويه! که خپه کېږې نه، نو یوه خبره مې درته کوله.

- ادې ووايه! ولې به خپه کېږم.

د متین مور له کړکۍ نه د باندې وکتل او بیا یې په ټیټ اواز داسې زیاته کړه چې للمه یې وانه وري:

- للمه ډېره ښه جینۍ ده، نو که خوښه دې وي، درته واده به یې کړم.

د متین مخ له شرمه سور شو او په بنده، بنده ژبه یې وويل:

- ادې ستا خوښه ده، زه نه پوهېږم.

مور یې پوه شوه چې متین راضي دی. د واده ورځ یې مالومه کړه او د شپانو د راوړو یې ورته وويل.

سهار ته متین ساختګي ږېره لرې کړې وه. د پولیسو ښایسته یونفورم یې پر تن و. ښایسته وېښتان یې شاته اړولي وو او له کوټې نه راووت.

للمه د انګړ په کوز سر کې وه. د متین پر لیدو حیرانه شوه. دومره ښایسته ورته ښکاره شو چې له دې وړاندې یې په دې انداز کې نه و لیدلی. متین هم مخ ور واړوه. هغه په سترګو کې ورته مسکۍ شوه. ده هم د مینې په انداز کې شونډې ببرته کړې او ورته ویې خندل.

متین لا د کور له دروازې نه، نه و وتلی چې تیلیفون یې وشرنګېده.





د مبایل ښیښې ته یې وکتل. د ببري شمېره وه. اوکې یې کړ او ویې ویل:

- سلام!

خو ببري د وعلیکم سلام پر ځای له شوخۍ نه په ډکه لهجه دا لنډۍ ورته وویله:

ملنګه دوه ګټې دې وکړې
یو دې خیر ټول که، بل دې وکړل دیدنونه

پای
خوست
خپله جونګړه



١٦٢

https://momandpublications.com

ketabton.com - The Digital Library

This document was created with Win2PDF available at http://www.win2pdf.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.
This page will not be added after purchasing Win2PDF.

https://momandpublications.com

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*